# زرکانې

بدیع، بیان
اؤ
ادبي صنفونه

مشتاق مجروح یوسفزے

یونیورسټي بُك ایجنسي
خیبر بازار- پېښور- خیبر پختونخوا فون: ۲۲۱۲۵۳۴

ټول حقونه

دلیکونکي په حق کښي محفوظ دی

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم | زرګانې |
| لیکونکی | مشتاق مجروح یوسفزی |
| اشاعت | دریم |
| دچاپ کال | نومبر ۲۰۱۰ |
| شمیر | یوزر |
| خورونکی | یونورسټی بک ایجنسی |
| | خیبر بازار پیښور خیبر پختونخواه |

Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

# فهرست


۱- ورومبۍ برخه (علم بیان)

ا- فصاحت ۳_۴

ب- بلاغت ۵_۷

ج- تشبیه ۸_۱۳

د- د تشبیه قسمونه ۱۳_۲۳

ه- استعاره ۲۴_۲۵

و- داستعارې ارکان ۲۵_۲۶

ز- داستعارې قسمونه ۲۶_۳۳

ح- کنایه او دهغې قسمونه ۳۴_۳۹

ط- مجاز مرسل ۴۰_۴۶

۲- دویمه برخه (علم بدیع) ۴۷

ا- علم بدیع ۴۹_۵۰

ب- صنائع لفظی تجنیس ۵۱_۵۸

ج- صنعت سوال و جواب ۵۸

د- صنعت ذوالقوافی ۵۹

ه- صنعت ذوالقافیتین ۶۰




www.pukhto.net

| | |
|---|---|
| و - صنعت قلب او قسمونه | ٦١_٦٢ |
| ز - صنعت اشتقاق او قول بالموجب | ٦٣_٦٤ |
| ح - صنعت شِبه اشتقاق | ٦٥ |
| ط - صنعت تاریخ او قسمونه | ٦٦_٦٩ |
| ی - صنعت سیاق الاعداد او تلمیع | ٧٠_٧١ |
| یا - صنعت توشیح | ٧١ |
| یب - صنعت ترافق او مربع | ٧٢ |
| یج - صنعت تکرار او تضمین | ٧٣_٧٤ |
| ید - صنعت معمه | ٧٤_٧٦ |
| یه - صنعت تلمیح | ٧٦_٧٧ |
| یو - صنعت تدبیج او منقوطه | ٧٧ |
| یز - صنعت غیر منقوطه او براعة الطلب | ٧٨ |
| یح - صنعت ردالعجز او قسمونه | ٨٠_٨٦ |
| یط - صنعت لزوم مالاًیلزم | ٨٧_٨٨ |
| ک - صنعت سجع او دهغې قسمونه | ٨٩_٩٢ |
| کا - صنائع معنوی - صنعت تضاد | ٩٣_٩٤ |
| کب - صنعت لف و نشر او قسمونه | ٩٥_٩٧ |
| کج - صنعت عکس و تبدیل | ٩٧ |
| کد - صنعت تجاهل عارفانه او التفات | ٩٨_٩٩ |
| که - صنعت جمع و تفریق | ١٠٠_١٠١ |

www.pukhto.net

کو - صنعت تقسیم او مراعاة النظیر ۱۰۱-۱۰۲

کز - صنعت ایهام تضاد ۱۰۲

کح - صنعت ارسال المثل او تعجب ۱۰۳

کط - صنعت محتمل الضدین او مبالغه ۱۰۴-۱۰۶

ل - صنعت حسن تعلیل ۱۰۶-۱۰۷

لا - صنعت تنسیق الصفات او استدلال ۱۰۷-۱۰۸

لب - صنعت مخاطبه او هجو ملیح ۱۰۸-۱۰۹

لج - صنعت استخدام ۱۰۹

لد - صنعت ادماج او مزاوجه ۱۱۰-۱۱۱

له - صنعت تاکید المدح بما یشبه الذم ۱۱۱-۱۱۲

لو - صنعت الذم بما یشبه المدح ۱۱۲-۱۱۳

لز - صنعت براعة الاستهلال ۱۱۳

لح - صنعت رجوع ۱۱۴

لط - صنعت ارصاد ۱۱۵


## ۲- دریمه برخه (ادبی صنفونه)


ا - د نظم صنفونه ۱۱۷

ب - حمد ۱۱۸

ج - مناجات ۱۱۹-۱۲۰

د - نعت ۱۲۱-۱۲۲

ه - منقبت ۱۲۳




Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

و- مسمط او دهغې قسمونه ۱۲۴_۱۳۲
ز- ترجیع بند ۱۳۳_۱۳۴
ح- ترکیب بند ۱۳۵_۱۳۶
ط- رباعی ۱۳۷_۱۳۸
ی- قطعه ۱۳۹_۱۴۰
یا- غزل ۱۴۱_۱۴۳
یب- نظم او دهغې قسمونه ۱۴۴_۱۴۸
یج- مرثیه ۱۴۹_۱۵۰
ید- مثنوی ۱۵۱_۱۵۲
یه- قصیده ۱۵۳_۱۵۶
یو- مستزاد ۱۵۷
یز- ټپه ۱۵۸_۱۵۹
یح- لوبه یا سندره ۱۶۰_۱۶۱
یط- چاربیته ۱۶۲_۱۷۱
ک- دنثر صنفونه ۱۷۲
کا- افسانه ۱۷۳_۱۷۹
کب- درامه ۱۸۰_۱۸۴
کج- ناول ۱۸۵_۱۸۹
کد- تکل ۱۹۰_۱۹۳
که- خاکه ۱۹۴_۱۹۶



www.pukhto.net

| | |
|---|---|
| کو - رپورتاژ | ۱۹۷ ـ ۱۹۹ |
| کز - سفرنامه | ۲۰۰ ـ ۲۰۳ |
| کح - ادبی تنقیداو دهغې قسمونه | ۲۰٤ ـ ۲۱۱ |
| کط - طنز و مزاح | ۲۱۲ ـ ۲۱٦ |
| ل - ادبی اصطلاحات | ۲۱۷ ـ ۲۲٤ |
| لا ضمیمه الف اضافی | ۲۲٤ |


Pukhto.Net پښتو



www.pukhto.net

# سریزه

ښاغلے مشتاق مجروح چې د پښتونخوا د مشهورې سیمې مردان وسیدونکے دے او د پښتنو د نوموړې قبیلې یوسفزو سره تعلق لری، نه یواځې یو ښه شاعر بلکې یو معیاری نثر نګار هم دے۔ دے بنیادی لحاظ سره پښتو ادب کښې د یو طنز نګار او مزاح نګار په نوم پیژندلے شی۔ د دهٔ ابتدائی تصنیف "یارانه په شلتالو" چې کال نولس سوه اتیایم کښې چاپ شوے دے، د دهٔ د مزاح نګارۍ یوه سپیځلې او ښکلې نمونه ده، چې د پښتو ژبې په منثور مزاحیه Humorous او طنزیه Satirical ادب کښې د یوې ګټورې او اهمې اضافې باعث دے۔ دهٔ د خپل فکر او فن په لور ډیر ګرندی ګامونه اخستی دی او نن سبا دے د یو پوخ او تجربه کار لیکونکی په حیث پیژندلے شی چې د خپلو فنی او تخلیقی صلاحیتونو په وجه د پښتو ژبې او ادب په نظم او نثر دوارو کښې یو منفرد او جوت مقام لری۔

"زر کلفے" د مشتاق مجروح یوه علمی او تحقیقی مقاله ده چې په دریو برخو ویش ده۔ اوله برخه ئې علم بیان، دویمه برخه ئې علم بدیع او دریمه برخه ئې ادبی صنفونه دی۔

"زر کلفے" یا محک هغه تور کلفے دے چې زرګر پرې سرهٔ زر ګوری۔ انګریزی ژبه کښې ورته Touch Stone او په اردو کښې ورته



www.pukhto.net

"کسوټی" هم وائی - او افغانان ورونه ورته "ازمیښت کاڼی" نوم هم اخلی-
دوست محمد خان کامل مرحوم په دې حقله وائی ---

مس او زر د حقیقت مې ازمائیلی
باور وکړه چې دهر یوه محک یم

(د فکرونو ډیوې ویارنه ص - ۱۱۷)

د زر کاڼی اصطلاحی معنیٰ د یوې فنپارې معیار معلومول او متعین کول دی - هر کله چې فصاحت او بلاغت د یو تخلیق معیار ګڼلے شی. په دې وجه مشتاق مجروح د خپلې مقالې نوم "زر کاڼے" غوره کړو چې ډیر ښه او ښکلے نوم دے-

فصاحت او بلاغت Eloqunce د مشرقی ژبو د ادبیاتو یوه اهمه موضوع ده چې ډیر کتابونه، رسالې او مقالې پرې لیکلې شوی دی او د ذکر شوی شاعرۍ انتقادی ادب کښې یو څرګند مقام لری - اکثر اصطلاحات ئې د عربۍ ژبې نه فارسۍ او بیا اردو او پښتو ژبو خپل کړی دی-

فصاحت د یو فصیح کلام صفت او خوبی ده - کومه کلمه یا کلام کښې چې تنافر (دروند والے)، تعقید (غوټه)، کراهت (په غوږونو بد لګیدل)، غرابت (اوپره والے) او ابتذال (بازاری یا غیر شائسته الفاظ) نه وی. هغه فصیح ګڼلے شی-

بلاغت د یو بلیغ کلام صفت یا خاصیت دے چې د موقعې، حالت، کیفیت، حقیقت او ماحول مطابق وی - کوم کلام یا بیان چې ذکر شوی خوبۍ لری، هغه به بلیغ وی، د بلاغت په معیار به پوره وی - فصاحت او

www.pukhto.net

بلاغت دواړه لازم او ملزوم دي - ځکه چې فصاحت وي هلته به بلاغت هم وي او يا د دې برعکس- دا نه شي کيدے چې يو کلام يا بيان کښې دې فصاحت خو وي خو بلاغت دې نه وي او يا د دې برعکس - خکه خو دا دواړه اصطلاحات يو ځاې استعماليږي لکه فصاحت و بلاغت، فصيح و بليغ - په يوه کلمه، کلام يا بيان کښې فصاحت و بلاغت څنګه پيدا کيدے شي؟ د دې دپاره د ځنې علومو زده کړه او پوهه بې کچه ضروري او اهمه ده لکه-

علم معاني، علم بيان، علم بديع-

کلام، کلمه يا بيان کښې د بلاغت پيدا کولو دپاره د علم معاني زده کړه بې کچه ضروري ده- علم معاني مونږ ته دا زده کړه او پوهه راکوي چې د يو کلام يا بيان مفهوم يا مطلب دې څنګه په وضاحت سره بيان کړې شي -دې کښې تشبيه، استعاره، مجاز مرسل او کنايه شامل دي-

علم بديع کلام يا بيان کښې د لفظي ښکلا د اضافې باعث دي، چې په لفظي صنائع او معنوي صنائع بللے شي - دې کښې عام طور سره صنائع بدائع شعري محاسن يا شعري صنعتونه Figures of Speech بيانيږي-

پښتو ژبه کښې تراوسه په دې موضوع لاندينې کتابونه ليکلي شوي دي-

الف- ادبي فنون د عبدالرؤف بينوا

ب- د ادب مناره يعني تشبيه او استعاره د سمندر خان سمندر

ج- روح ادب د سيد تسنيم الحق کاکاخيل



www.pukhto.net

د- بدیع او د پښتو شعر داورنګزیب ارشاد

ه- بدیع او بیان د نور احمد شاکر

او ورپسې بل کتاب مشتاق مجروح یوسفزی لیکلے دے۔

د زر کلفی اوله برخه کښې د علم بیان او په دویمه کښې د علم بدیع په تفصیل سره تشریح شوے ده۔ حقیقت کښې دا د کتاب د ټولو نه اهمه او بنیادی برخه ده چې د دیرې خوارۍ، علم او پوهې متقاضی ده۔ او هم دغه د دې تصنیف د تالیف او تخلیق سبب ګرځیدلې ده۔ دلته دا خبره د غور وړ ده چې کلام دې بیخی د شعری صنعتونو نه خالی نه وی، یعنې نه دې بیخی بربند وی او نه دې ملفوف وی۔ په نورو ټکو کښې د شعری صنعتونو په استعمال کښې د افراط او تفریط نه، نه بلکې د اعتدال نه کار اخستل پکار دی۔ ځکه چې هم دغه د یو معیاری او غوره کلام نخښه ده۔

په دې کتاب کښې مصنف د بعضې شعری صنعتونو ذکر نه دے کړے دلته د هغې تفصیل وړاندې کولے شی۔

صنعت منقوطه او غیر منقوطه خو بیان شوی دی خو د صنعت منقوطه دوه قسمونه نه دی بیان شوې چې دا سې دی۔

صنعت فوقانیه، په شعر کښې د اسې الفاظ استعمالولو ته وئیلے شی چې ټولې نقطې پرې د پاسه وی۔

صنعت تحتانیه، چې شعر کښې د اسې الفاظ استعمال شی چې نقطې وړلاندې وی۔

صنعت لغز په شعر کښې ار (یعنې دونفې) چې د شفاهی ادب یو



www.pukhto.net

منثور صنف دے، استعمالولو ته وائي مثلاً د شیر محمد مینوش د علامه اقبال د "پیام مشرق" ترجمه شوی دا شعرونه۔۔

دا کوم محیز داسې کلک محیز دے چې له کاني خلاخلی
د خضر حاجت مند نه دے په شان د سکندر
پاک مخے دے په شانې د نظر د لوندو سترګو
ولې ته شي ورګډ ولې لباس ئې نه شي تر
ادائې په یوه چسته مصرعه پوره مضمون دے
چرې بلې مصرعې وته محتاج نه دے هرګز

(توره)

صنعت ملیح و قبیح یا صنعت زشت و زیبا، هم یو مشهور او خوندور شعری صنعت دے۔ داسې شعر وئیل چې اوله مصرعه ئې زشته یا قبیحه وی یعنې د اخلاقو نه پریوتې وی او ورپسې مصرعه ئې زیبا یا ملیحه وی یعنې خوږه، ښکلې او د خوشالۍ باعث وی۔ په وړومبۍ مصرعه لوستلو یا اوریدلو ئې سړی له غصه ورځی خو چې بله مصرعه ئې ووئیلے شی نو غصه ئې په خوشالۍ بدله شی۔ د دې صنعت ایجاد او اختراع یو تاریخی پس منظر لری۔ وئیلے شی چې یو شاعر بادشاه ته د اسې شعرونه ووئیل چې په وړومبۍ مصرعه ئې هغه سخت غصه شو او په دویمه ئې غصه لرې شوه او خوشاله شو۔ بادشاه دغه شاعر ته ډیر انعام ورکړو۔ وروستو بیا شاعرانو د دې قسمه شعرونو پیروی



www.pukhto.net

وکړه او دغسې دا يو مستقل صنعت وګرځيدو - د معزالله خان مومند دا شعر ونه هم دې صنعت سره تعلق لري --

کشکې ما وتا سره په درسته شپه کولې

ښې دراز خبرې چې مې حال دزړه ونيلې

درست عمر کومه لاهرګز پرې نه مړيږم

دا دعا له خدايه چې ښه خوئي يې در کولې

د کتاب دريمه برخه کښې د ادبي صنفونو د نظم او نثر دواړو تعريف او تشريح شوې ده - لکه افسانه، ناول، قصيده، غزل، او داسې نور خو د پښتو ژبې او ادب په رڼا کښې د ذکر شوو اصنافو يو ارتقائي جاج نه دے اخستے شوے - ځکه چې يوه نظريه هم په صحيح طريقه تر هغه وخته نه واضح کيږي چې تر ځو يې ارتقائي جاج نه وي اخستے شوے - په هر حال مصنف د موضوع د طوالت نه د بچ کيدو په خاطر د اختصار نه کار اخستے دے او د دې اصنافو صرف تکنيک او نظرياتي اړخ يې ذکر کړے دے -

افسانوي ادب Fiction قصې، افسانې، ناول او ډرامې سره تعلق لري - افسانه د قصې يو ارتقائي او ترقي يافته شکل دے - پکار ده چې د افسانې نه وړومبے د قصې په صنف رڼا اچولے شوے وے نو د دې دواړو اصنافو يو بل سره تړون او ربط به واضحه شوے وے او دغسې د افسانې د صنف به نو . . ه هم تشريح شوے وے -

تکل د تخليقي ادب يو ډير اهم صنف دے چې په تکنيک او تخليق يې پوهيدل ډير ګران دي - دا نه مضمون دے، نه مقاله ده او نه خاکه ده، بلکې دا



www.pukhto.net

يو جدا صنف دے چې خپل مخصوص تکنيک او اسلوب لري او د خپل اظهار بيان او انداز دپاره د افسانې، ډرامې او خاکې د اصنافو د مختلفو هئيتونو نه هم کار اخلی - څکه چې د ټکل خپل ځان له يو مخصوص هئيت نشته - اختصار (علم تکميل) دټکل خوبی او طوالت (تکميل) ئې خامی ګڼلے شی - ټکل د ليکونکی ذاتی تصوير وی - دلته ديوې مرکزی خبرې نه ضمنی خبرې را ووځی - دې کښې رمزيت، ايمائيت او جامعيت وی - د تنقيدی مضامينو لهجه ډيره درنه او سنجيده وی خو د ټکل ژبه او لهجه د دې برعکس وی - دې کښې خوند، خوږوالے او ښکلا وی - خو لکه چې څرګنده ده، مصنف په ټکل ډير په اختصار سره رڼا اچولے ده - چې د دې کړه وړه په کښې په ښه شان سره واضح شوی نه دی - خو لکه چې څرګنده ده دلته مصنف سره د زيات تفصيل او تشريح ګنجائش نه وه -

په دې برخه کښې مصنف د اولسی ادب ځنې صنفونه هم ذکر کړی دی - دلته د او تيل به بې ځايه نه وی چې د اولسی او اجتماعی ژوند يو اړخ هم د اسې نشته چې په دې شاعرۍ کښې به منعکس شوے نه وی - دلته مصنف د ذکر شوی ادب مختلف اصناف له ټپه، لوبه او چاربيته ذکر کړی دی خو "الله هو" پکښې نه ده ذکر شوے کوم چې د عوامی او علمی ادب مشترک صنف دے - د مثال دپاره و ګورئ د ګڼو جديدو شاعرانو شعری مجموعې -

د دې تصنيف اهميت او انفراديت دا دے چې مصنف دلته د شعری اصنافو د تشريح او تعريف په لړ کښې د ګڼو لرغونو او کلاسيکی شاعرانو نه



www.pukhto.net

علاوه لکه د خوشحال بابا، رحمان بابا، حمید بابا، علی خان، عبد القادر خان خټک، کامگار خان خټک، او یونس سره سره د ډیرو جدیدو همعصرو شاعرانو د کلام نمونې او مثالونه هم ورکړی دی لکه حمزه بابا مرحوم، قلندر مومند، سید رسول رسا مرحوم، أیوب صابر مرحوم، سعد الله جان برق، اکرام الله گران، عبد الرؤف زاهد، محمد زبیر حسرت، رحمت شاه سائل، محمد اقبال اقبال او سید اکرم۔

په حقیقت کښې دا نه صرف اهمه بلکې یوه ډیره کړلیچنه موضوع او مضمون وه خو مصنف دا د خپلې خوارئ په نتیجه کښې په یو ډیر ساده او عام فهمه انداز کښې بیان کړو چې د لوستونکو دپاره په پوهیدلو کښې هیڅ مشکل یا ابهام نه لری۔

د زیر تبصره تصنیف رسم الخط جدید یعنې معیاری یا صوبائی رسم الخط دے چې متفقه طور سره منلے شوے دے۔ او نن سبا یو عام رواج لری خو چرته چرته پکښې غلطۍ دی۔ خو بیا هم مصنف د لوستونکو د عام رجحان خاص خیال ساتلے دے او د زوړ (قدیم) رسم الخط نه ئې خان ژغورلے دے۔

لنډه دا چې د ښاغلی مشتاق مجروح یوسفزی تصنیف "زر کانے" په زیر بحث موضوع یو مکمل او جامع کتاب دے چې نه صرف د پښتو ژبې او ادب د طالب علمانو دپاره د استفادې باعث دے بلکې پښتو ادب سره مینه لرونکو دپاره هم د ډیر زیات اهمیت جوگه دے۔ دا د مصنف خپلې متعلقه موضوع سره د شوق، مینې او دلچسپۍ عکاسی کوی۔ هر کله چې د پښتو



www.pukhto.net

ژبې او ادب په دې برخه کښې مستند او معیاري مواد ډېر کم دي. خدای دې وکړي چې دا د لوستونکو په کار راشي او پښتو ژبه او ادب کښې د یوې اهمې او ګټورې اضافې باعث وګرځي-

داور خان داؤد

ارباب لنډۍ پېښور

اپریل، ۱۹۹۵ عیسوی



Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

# ورومبی برخه

## علم بیان

# فصاحت

د فصاحت اصل معنیٰ ښکر گندوالے دے۔ دا په جمله کښې هم وی او په کلام کښې هم۔ د جملې فصاحت دا دے چې جمله د کومې ژبې وی نو چې د هغې ژبې د امروزه مطابق وی۔ درونډ والے اوپړه والے او بازاری الفاظ پکښې نه وی۔ په غوږونو بده نه لګی۔ په ښنې کلام کښې داسې تکی پکار راوستے شوے وی چې بې کچه ډیر ګران وی او بغیر د لغات کتو نه پرې سړے نه شی پوهیدے۔ کله کله داسې الفاظ هم په کلام کښې راځی چې سړی له ترې کرکه ورځی لکه دا شعر و نه چې۔

لږ خوراک تنکی کولمې بویه د ښنځې

مړ د هغه چې ډیر خوراک کا ډیر خړی

خوشحال بابا

چې هنر ګټی یاری د زورورو

زه رحمان کومه بول په دا هنر

رحمان بابا

کله کله په کلام کښې د عامې قاعدې نه مخالفت شوے وی لکه د مذکر نه مونث یا د مونث نه مذکر جوړ شوے وی لکه د خوشحال بابا په دې شعر کښې۔



www.pukhto.net

ته په دا حسن جمال چې درته ګورم
نه پوهيږم ښاپيرۍ ئې که سړے
خوشحال بابا

حالانکې د سړي مونث ښځه دے۔ کله کله د واحد نه جمع او د جمع نه واحد جوړ شوے وي يا د جوړښت په حساب تکي وړاندې وروستو شوے وي چې د ګرامر د عامې قاعدې خلاف وي۔ دغه شان تکرار يعنې يو لفظ بيا بيا استعمالول۔ غرض دا چې د دې نه يو مميز هم په کلام کښې راشي نو هغه کلام به فصيح نه وي۔

فصاحت د بلاغت دپاره شرط دے او دواړه د کلام دپاره ډير ضروري دي۔ چې په کوم کلام کښې بلاغت وي په هغه کلام کښې به فصاحت خامخا وي۔ ولې دا ضروري نه ده چې يو کلام دې فصيح وي نو هغه دې بليغ هم وي ځکه چې فصاحت ته د بلاغت ضرورت نشته البته بلاغت د فصاحت محتاج دے۔


www.pukhto.net

# بلاغت

د بلاغت لغوی معنیٰ کمال ته رسیدل دی ولې په ادب کښې د موقعې او محل مناسب فصیحو خبرو کولو ته بلاغت وئیلے شی یعنې هغه قاعدې زده کول چې په هغې سره کلام اثرناک، خوندور او موزون جوړیدے شی۔ ددې دپاره دوه مخیزونه ډیر ضروری دی یو دا چې د یو مطلب او مفهوم د اظهار دپاره مختلفې طریقې بیانول زده وی چې د موقعې په اعتبار هغه طریقه یا انداز خپل کړے شی۔ دویم دا چې په کلام کښې مناسبت او خوبی پیدا کړے شی او د بلاغت علم دا دواړه قاعدې لری۔ یوې ته علم بیان او بلې ته علم بدیع وئیلے شی۔ دلته اول د علم بیان ذکر کولے شی۔

## علم بیان

هغه قواعد او طریقې د کومو په ذریعه چې یو انسان د خپل مطلب اظهار په زړه پورې، خوندور او اثر کونکی انداز کښې وړاندې کولے شی هغې ته علم بیان وائی

د بیان لغوی معنیٰ څرگندول ده او په ادبی اصطلاح کښې هغه خبرې ته وئیلے شی د کوم په ذریعه چې یو شاعر، ادیب او نقاد د خپل مطلب



www.pukhto.net

ځرګندولو دپاره دښو الفاظو انتخاب کوي۔

انسان د يوې خبرې يا د يو مطلب د ځرګندونې دپاره لفظونه پکار راولي او د لفظونو په ذريعه خپل مطلب بل ته ځرګندوي۔ د لفظونو مجموعې ته کلام وئيلے شي۔ لفظونه دوه قسمه وي۔

۱۔ هغه لفظونه کوم چې په خپلو لغوي معنو کښې استعماليږي۔

۲۔ هغه لفظونه کوم چې په مجازي معنو کښې استعماليږي۔

اوس که څوک د ګيدړ تکے د هغې ښاور دپاره استعمال کړي د کوم چې خپل نوم ګيدړ دے نو دې ته د يو تکي حقيقي استعمال وئيلے شي ځکه چې دا تکے په حقيقي معنو کښې استعمال شوے دے۔ او چې د څه دپاره جوړ وو هم د هغې دپاره وپکارولے شو۔ خو که چا ګيدړ د يو بزدل او ويريدونکي سړي دپاره استعمال کړو نو دا استعمال به مجازي وي۔

په علم بيان کښې هم دا مجازي معنې پکار راوستے شي۔ ځکه چې د لفظونو مجازي استعمال په مفهوم کښې کمے زياتے راولي۔ د دې برعکس د حقيقي معنو په استعمال سره په مفهوم کښې هيڅ فرق نه راځي۔ که څوک د سر ويښتو ته ويښته، زلفې يا ګيسو ووائي نو خبره به هم هغه يوه وي ولې که څوک ورته ښاماران يا سنبل ووائي نو په دې کښې به يو خوند پيدا شي کوم چې د ويونکي مقصود وي۔ د لفظونو دا مجازي استعمال د علم بيان موضوع ده۔

د لفظونو په مجازي معنو کښې د پکارولو درې طريقې دي۔

۱۔ چې د يو تکي يا يو لفظ مجازي معنې مراد واخستے شي او د دغې



www.pukhto.net

لفظ د حقیقی او مجازی معنو په مینځ کښې د تشبیه تعلق وی نو هغه استعاره وی۔

۲۔ چې د یو لفظ یا یو تکی صرف مجازی معنیٰ واخستے شی او د حقیقی او مجازی معنوٰ تر مینځه د تشبیه نه علاوه بل څه تعلق یا تړون وی یا څه داسې قرینه لری چې د هغې نه مجازی معنیٰ معلومیږی۔ نو هغه مجاز مرسل وی۔

۳۔ چې د یو لفظ نه مجازی معنیٰ مراد وی او حقیقی معنیٰ هم ترې اخستے شی او د حقیقی معنې په وسیله ئې مجازی معنې ته ذهن رسی نو هغه کنایه وی۔

دا درې واړه د علم بیان ارکان دی۔ خو هر کله چې د استعارې د پوهیدو دپاره په تشبیه پوهیدل ضروری دی۔ ددې وجې نه د علم بیان دپاره تشبیه څلورم رکن گرخولے شوے دے۔ حالانکې په تشبیه کښې د لفظونو استعمال مجازی نهٔ وی۔

تشبیه، استعاره، کنایه او مجاز مرسل د خپل مطلب د څرگندولو بنیادی طریقې دی۔ په علم بیان د ځان پوهه کولو دپاره دا ضروری ده چې لوستونکے دې اول په دې څلورو واړو ځان پوهه کړی۔



www.pukhto.net

# تشبیه

کله کله انسان د څهٔ څیز متعلق د خپلې مدعا یا څهٔ چې وئیل غواړی۔ د هغې د پوره او په ښهٔ ډول دادا کولو دپاره یو څیز د بل څهٔ څیز په شان ګرځوی۔ چې لوستونکی پرې ښهٔ او په اسانه پوهٔ شی، د خپلې خبرې یا مدعا دې اظهار ته تشبیه وائی۔ تشبیه د علم بیان یو اهم رکن دے۔ د خبرو یا کلام د موثر او خوندور کولو په غرض دا مونږ په امروزه ژوند کښې عموماً په کار راولو۔ لکه د جانان خبرې خوږې دی۔ یاد جانان خبرې بې کچه خوږې دی۔ نو د دې خبرې په اوریدو سره اوریدونکی ته د خوږو احساس بیخی نهٔ کیږی۔ کهٔ د دې په ځائې داسې ووئیلے شی۔ چې د جانان خبرې لکه د شاتو خوږې دی۔ نو اوریدونکی ته به سملستی د خوږو احساس وشی ځکه چې اوریدونکے د مخکښې نه د شاتو د خوږو نه خبر دے۔ د بیان دې طریقې ته تشبیه وائی۔

د تشبیه لغوی معنیٰ د مشابهت، پشان، په څیر، په مثل ده۔ یعنې یو څیز د څهٔ خاص صفت په وجه د بل په شان ګرځول۔ چې د اوریدونکی یا لوستونکی په زړهٔ کښې د هغه څیز تصویر اوګرځی۔ بل دا چې هغه صفت په دواړو کښې موجود وی۔ خو دا خبره ضروری ده، چې کوم څیز له تشبیه ورکولے شی۔ او څهٔ سره تشبیه ورکولے شی۔ یعنې مشبه او مشبه



www.pukhto.net

په کښې به کم نه کم یو قدر مشترک وی- احمد لکه د زمری بهادر دے- په دې دواړو کښې د بهادرۍ قدر مشترک دے- که چرې په مشبه او مشبه به کښې ټول قدرونه مشترک وی- نو بیا هغه تشبیه نه بلکې تشابه ده- لکه د اسې وئیل چې احمد لکه د حامد بهادر دے- دې ته تشبیه نشی وئیلے- د تشبیه په ضمن کښې یوه بله خبره چې ډیره ضروری ده- هغه دا ده چې عموماً کوموډوڅ محیز و نوله یو بل سره تشبیه ورکولے شی نو په هغې کښې به یو محیز خامخا د بل نه په خصوصیت کښې ښه وی- ویونکے شاعر ادیب د وینا په وخت کښې د مبالغې نه کار اخلی- او هم دا مبالغه ده- چې په خبرو یا کلام کښې اثر او خوند پیدا کوی-

لکه دا شعر ---

بیا مې چشمان لکه چیتر وریږی

چې په زړګی مې پیښور وریږی

قلندر مومند

په دې شعر کښې سترګو له د چیتر سره تشبیه ورکړے شوے ده- چیتر په خصوصیت کښې د سترګو نه ښه دے- ځکه چې که د سترګو نه ډیرې اوښکې هم و بهیږی نو د چیتر د باران پشان نه وی- یا دا شعر چې ---

د جهان ښکلی مې هسې په زړه پند دی

چې ګمان مې په خپل زړه د سومنات شی

قلندر مومند

په دې شعر کښې زړه له د سومنات سره تشبیه ورکړے شوے ده- سومنات



www.pukhto.net

د هندوستان مشهوره صنم خانه وه. شاعر ته خپل زړه په دې وجه سومنات ښکاري چې څنګه په سومنات کښې بې شمېره او ښکلي ښکلي بتان راجمع کړے شوي وو دغه رنګ ددهٔ په زړهٔ کښې هم د جهان ښکلي راپنددي.

مولانا شبلي نعماني په شعر العجم کښې ليکلي دي چې "د تشبيه اصل خوبي دا ده چې د مشبه تصوير د سترګو د وړاندې راشي." د تشبيه ادراک په عقل او حواس خمسه سره کيدے شي. لامسه، باصره، سامعه، شامه او ذائقه ته حواس خمسه وئيلے شي.

تشبيه ورکونکي څيزونه يا خو حواس خمسه سره تعلق لري او يا عقلي وي ددې څو قسمونه دي.

۱. چې مشبه او مشبه به دواړه حسي وي لکه دا شعر.

دا چې دنياې شهابونه بولي

دا زما اوښکې په در در وريږي

قلندر مومند

په دې شعر کښې اوښکو پړيوتو له د شهابونو پړيوتو سره تشبيه ورکړے شوے ده. مشبه او مشبه به دواړه حسي دي يعنې د ليدو قوت باصره سره تعلق لري.

۲. چې مشبه حسي او مشبه به عقلي وي لکه دا شعر.

هر نظر د محبت دې مسيحا دے

هر ناوک دې د مږګانو عزرائيل شو

قلندر مومند



www.pukhto.net

په دې شعر کښې د محبت نظر له د مسيحا سره او ناوک له د عزرائيل سره تشبيه ورکړے شوے ده۔ د محبت نظر مشبه او حسي دے او مسيحا چې مشبه به دے عقلي دے دغه شان ناوک حسي او عزرائيل عقلي دے۔

۳- چې مشبه عقلي او مشبه به حسي وي لکه دا شعر۔

دا مې فکر وه چې خيال دې ترې چاپېر شو
که چينار وه دانګور خيله کښې ګير شو

قلندر مومند

په دې شعر کښې فکر له د چينار سره او خيال له دانګور خيلې سره تشبيه ورکړے شوے ده۔ مشبه چې فکر او خيال دے عقلي دي او مشبه به چينار او دانګور خيله حسي دي۔

۴- چې مشبه او مشبه به دواړه عقلي وي لکه دا شعر۔

دا مې له جنونه دماغ وران شو سوداني شوم
يا مې په زړه واوړېنه دتورو زلفو مينه

علي خان

په دې شعر کښې مشبه او مشبه به يعنې مينه او جنون دواړه عقلي دي۔

د تشبيه ارکان پينځه دي۔

## ۱۔مشبه

کوم څيز له چې تشبيه ورکولے شي هغې ته مشبه وئيلے شي۔

## ۲۔مشبه به

چې د کوم څيز سره تشبيه ورکولے شي هغې ته مشبه به



www.pukhto.net

ونیلے شی۔

## ۳۔وجه تشبیه

چې د کوم صفت په وجه تشبیه ورکولے شی هغې ته وجه تشبیه ونیلے شی۔

## ٤۔حرف تشبیه

چې د کوم لفظ په ذریعه تشبیه ذهن ته راځی هغې ته حرف تشبیه ونیلے شی۔ لکه،غوندې، دود، په شان ، په څیر، په مثل، په رنګ دا ټول حرف تشبیه دی۔

## ٥۔غرض تشبیه

هغه مقصد چې د کوم دپاره یو څیز له تشبیه ورکولے شی هغې ته غرض تشبیه ونیلے شی۔

اوس که څوک دا خبره کوی چې "دا اوبۀ لکه د شاتو خوږې دی" نو په دې کښې "اوبۀ" مشبه "شات" مشبه به "لکه" حرف تشبیه "خوږې" وجه تشبیه او غرض تشبیه د اوبو خوږ والے ثابتول دی۔ په پښتو کښې حرف تشبیه دغه دی کوم چې مخکښې ذکر شو۔د تشبیه څو مثالونه۔

تۀ خندان لکه د ګل هغه ساعت شے

اشنا زۀ چې لکه پرخه وژړیږم

ما په زړۀ چاؤدون چې چمن ستا ومونډ

ګل غوندې اوس خور ترې په خندا خمه



www.pukhto.net

راکړه جمعیت لکه د ګل په زړه چاودون کښې

فکر لکه بوئ هسې پریشان مه راکوه

ستا اننګو ته رسیدل ګران وو

لکه داو ښکی محځیدلے یمه

حمزه بابا

# د تشبیه قسمونه

## ۱۔ مفصله تشبیه

هغه تشبیه چې په کښې د تشبیه ټول ارکان موجود وی لکه "د هغه مخ د ګلاب په شان سور دے" په دې خبره کښې مخ "مشبه" ګلاب "مشبه بهٔ" په شان "حرف تشبیه" سور والے "وجه تشبیه" او د ښائست ستائنه "غرض تشبیه" ده۔ لکه دا شعرونه۔

توري سترګې سرهٔ لبان ئې هسې زیب کا

لکه ګډ په لاله زار کښې آهوان شی

حمید بابا

دا تراخهٔ وښیل د ښکلیو په تلخئ کښې هسې زیب کا

لکه مرچ چې مزیدار وی په دا نوره مساله کښې

علی خان

## ۲۔ موکده تشبیه

هغه تشبیه چې په کښې حرف تشبیه نهٔ وی راغلے هغې ته موکده



www.pukhto.net

تشبیه ونیلے شی لکه په دې شعر کښې۔

زۀ په وریځو کښې د محبلو امو خته یم

لږ او ربله د جانان په ستر گو خور شه

قلندر مومند

## ۳۔ قریبه تشبیه

هغه تشبیه چې وجه تشبیه په کښې نه وی ولې ذهن ورته د دیر شهرت په وجه ژر رسی لکه مخ ته د سپوږمۍ سره تشبیه یا زلفو له د مارانو سره تشبیه۔ دا سې قسم تشبیه ته قریبه تشبیه ونیلے شی۔ لکه په دې شعر کښې قریبه تشبیه ده۔

خط ې وار د زلفو تیر کړو علی خانه

کله مار د میږتون سره چلیږی

علی خان

په دې شعر کښې د زلفو له د مار سره تشبیه ورکړے شوے ده کومه چې عامه او مشهوره تشبیه ده۔

## ٤۔ بعیده تشبیه

دا سې تشبیه چې وجه تشبیه هم په کښې نه وی او ذهن هم ورته په اسانه نه رسی او د دیر غور او فکر نه پس پرې سړے پوهیږی لکه د حمزه بابا په دې شعر کښې هم دغه قسمه تشبیه ده۔

اوښکې هښیارې شوې بهر نه راځی

جونه شوې پیغلې په کالهٔ پاتې دی



www.pukhto.net

يعني چې ځنګه جينکۍ پېغلې شي بهر نه را ووځي دغه رنګ اوښکې هم هښيارې شوې بهر نه راووځي. اوښکو له د پېغلو جونو سره تشبيه ورکړے شوے ده. يا دا شعر چې:

دا چې مدام ذکر د صراط کوے
ته هم د چا ليچې او وينټه غواړې

قلندر مومند

## ٥- جمع تشبيه

هغه تشبيه چې په کښې مشبه يو او مشبه به د يو نه زيات راغلي وي هغې ته جمع تشبيه وئيلے شي لکه دا شعر.

چا وريخې چا تيارې کړې چا د امونه
چا خنګل او چا سنبل کړې زلفې ستا

حمزه بابا

په دې شعر کښې زلفو له وريخو، تيارو، د امونو خنګل او سنبل سره تشبيه ورکړے شوے ده. مشبه يو او مشبه به ګڼ دي يا لکه دا شعر.

مخ د يار شمس و قمر درې واړه يو دي
قد و سروې صنوبر درې واړه يو دي

رحمان بابا

## ٦- تسويه تشبيه

هغه تشبيه چې مشبه په کښې د يو نه زيات وي او مشبه به په کښې يو وي هغې ته تسويه تشبيه وئيلے شي لکه دا شعر.



www.pukhto.net

توري سترگې، توري وروځې، توري زلفې

دا همه توري بلا دي ادم خورې

حميد بابا

په دې شعر کښې تورو سترگو، تورو زلفو او تورو وروځو له د تورې بلا سره تشبيه ورکړے شوے ده۔ مشبه به يو او مشبه زيات راغلي دي۔

### ۷۔ مفرد تشبيه

هغه تشبيه چې مشبه او مشبه به په کښې دواړه مفرد وي يعنې د نورو څيزونو نه جوړ نه وي لکه چې مخ ته د سپوږمۍ سره تشبيه ورکړے شي نو مشبه هم يو دے او مشبه به هم يو دے لکه دا شعر۔

چې بانړې په ما نه بلوڅې حيران يم

پښتانه دې خدايه څه رنگې بې زړه کړه

قلندر مومند

په دې شعر کښې بانړه مشبه او پښتانه مشبه به دي دواړه مفرد دي ۔ دا سې تشبيه ته مطلقه تشبيه هم ونيلے شي۔

### ۸۔ ملفوف تشبيه

دا د تشبيه هغه قسم دے چې په کښې مشبه او مشبه به دواړه د يو نه زيات راغلي وي او په داسې دول وي چې مشبه سره مشبه او مشبه به سره مشبه به يو ځائې راوړلے شوے وي، داسې تشبيه ته ملفوف تشبيه ونيلے شي لکه د حمزه بابا په دې شعر کښې هم دغه قسمه تشبيه ورکړے شوے ده۔



www.pukhto.net

غوږ نیسی بنو ته وروخې بنکته شوې له قهره

پورې شوې برې زرګیه غشی محه وانی کمان ته

حمزه بابا

په دې شعر کښې بنو له د غشو سره او وروخو له د ئمان سره تشبیه ورکړے شوے ده- مشبه سره مشبه او مشبه به سره مشبه به یو ځایې راغلی دی- یا لکه دا شعر چې-

غم دهجر یو رتلے بل جواب

داسې مرض داسې دوایانې دی

حمزه بابا

دهجر غم له د مرض سره او رتلې جواب له د دوایی سره تشبیه ورکړے شوے ده- مشبه سره مشبه او مشبه به سره مشبه به ذکر شوی دی یا لکه دا شعر-

نمر سپوږمی دې تیک پیزوان ستوری خالونه

کهکشان دې د مقیشو لوپټه شوه

صاحبزاده فیضی

نمر سپوږمی دواړه مشبه به، تیک او پیزوان دواړه مشبه دی- مشبه د مشبه سره او مشبه به د مشبه به سره یو ځایې راوړلی شوی دی-

## ۹-مفروق تشبیه

هغه تشبیه چې په کښې مشبه او مشبه به دیو نه زیات وی او په داسې دول راغلی وی چې د مشبه سره مشبه به راغلے وی لکه دا تیه-



www.pukhto.net

ستر ګې دولي ږانه پرې چتر

دجانان مینه په کښې ناوې ګرځومه

په دې تپه کښې سترګې مشبه او دولي ږمشبه به دي دغه شان بانه مشبه او چتر

مشبه به دے۔ یا لکه دا شعر۔۔

مخ دې اور خط دې سبزه ده زه حیران یم

چې سبزه په اور کښې څنګه زرغونیږی

رحمان بابا

په دې شعر کښې مخ مشبه، اور مشبه به، خط مشبه او سبزه مشبه به دی یا

لکه دا شعر چې۔۔

زلفې مار، سترګې نرګس، ورو څې ښکاری دی

فرقه ښکه د خوبانو شوه سرکښه

علی خان

## ۲۔ تفضیلیه تشبیه

هغه تشبیه چې په کښې اول یو څیز له د بل سره تشبیه ورکړے

شی او بیا هغه څیز د هغې یعنې مشبه به نه ښه او افضل ثابت کړې شی هغې ته

تفضیلیه تشبیه وئیلے شی۔ لکه دا شعر۔۔۔

چې و مخ وته دې ګورم لکه نمر هسې ځلیږی

قربان دې ترجمال شم په معنیٰ تر نمره غټ یې

خوشحال بابا

په دې شعر کښې اول د محبوب مخ له د نمر سره تشبیه ورکړے شوے ده او



www.pukhto.net

بیاېٔ محبوب دنمر نه غوره گرځولے دے ۔

## ۱۱۔ معکوسه تشبیه

هغه تشبیه چې په کښې یو څیز دبل په ځیر ښیلے شوے وی او بیا هغه بل څیز له دهغې ورومبی څیز سره تشبیه ورکړے شوے وی یعنې چې مشبه به له بیا دمشبه سره تشبیه ورکړے شوے وی ۔ لکه دا شعر۔

پښتوانی هم تول دا ستا په ځیر سری وو
ته هم پاسه دهغوی په ځیر همت کړه

رحمان بابا

یعنې په شکل او صورت کښې هغوی هم ستا په رنگ سری وو خو همت په کښې ستا نه زیات وو ته هم لکه دهغوی په شان همت په خان کښې پیدا کړه۔ اول ېٔ پښتانیو له دمخاطب سره تشبیه ورکړه او بیاېٔ مخاطب ته دهغوی دهمت په وجه دهغوی سره تشبیه ورکړه۔

## ۱۲۔ مجمله تشبیه

هغه تشبیه چې په کښې وجه تشبیه نهٔ وی ذکر شوے او نهٔ په کښې دهغې سره د مناسبت لرونکی ځهٔ څیز ذکر شوے وی۔ په د اسې تشبیه کښې هر څو کهٔ وجه تشبیه نهٔ وی بیان شوے ولې واضحه وی۔ لکه کهٔ څوک خپل محبوب ته ووائی "تهٔ لکه د گلاب په شان ېٔ نو هر څو کهٔ په دې خبره کښې وجه تشبیه نشته خو سړے پرې پوهېږی۔ لکه دعلی خان په دې شعر کښې هم دغه قسمه تشبیه ده۔۔۔



www.pukhto.net

بیايې محبوب د نمر نه غوره گرځولے دے۔

## ۱۱۔ معکوسه تشبیه

هغه تشبیه چې په کښې یو څیز د بل په څیر ښیلے شوے وي او بیا هغه بل څیز له د هغې ورومبي څیز سره تشبیه ورکړے شوے وي یعنې چې مشبه به له بیا د مشبه سره تشبیه ورکړے شوے وي۔ لکه دا شعر۔۔

پښتوانی هم تول دا ستا په څیر سړي وو

ته هم پاسه د هغوی په څیر همت کړه

رحمان بابا

یعنې په شکل او صورت کښې هغوی هم ستا په رنګ سړي وو خو همت په کښې ستا نه زیات وه ته هم لکه د هغوی په شان همت په ځان کښې پیدا کړه۔ اول يې پښتانیو له د مخاطب سره تشبیه ورکړه او بیايې مخاطب ته د هغوی د همت په وجه د هغوی سره تشبیه ورکړه۔

## ۱۲۔ مجمله تشبیه

هغه تشبیه چې په کښې وجه تشبیه نه وی ذکر شوے او نه په کښې د هغې سره د مناسبت لرونکی څه څیز ذکر شوے وي۔ په داسې تشبیه کښې هر څو که وجه تشبیه نه وی بیان شوے ولې واضحه وي۔ لکه که څوک خپل محبوب ته ووائی "ته لکه د ګلاب په شان يې نو هر څو که په دې خبره کښې وجه تشبیه نشته خو سړے پرې پوهیږي۔ لکه د علی خان په دې شعر کښې هم دغه قسمه تشبیه ده۔۔۔



www.pukhto.net

داد دلبر مخ دے چې له شاله نیم لیدۀ شی
یا زیروتے نمر دے چې ښکاریږي نیم له غرۀ
علی خان

په دې شعر کښې په شال کښې نیم پټ مخ له د هغې نمر سره تشبیه ورکړے شوے ده چې نیم د غرۀ نه پناه شوے وي۔ وجه تشبیه په کښې نۀ ده ذکر شوے۔

۱۳۔ مقیده تشبیه

هغه تشبیه چې په ځۀ خاص شرط پورې ترلے شوے وي او عام حالت کښې داسې نۀ وي۔ لکه دا شعر۔
کۀ شناخ غوندې دې خپل اندرون صاف کړو
لکه باد به د دریاب په سر رفتار کړې
علی خان

په دې شعر کښې شرط دے کۀ چرې خپل اندرون دې صفا کړونو د شناخ په شان به داوبو په سر روان یې۔ دې ته مشروط یا مقیده تشبیه وئیلے شی۔

۱۴۔ مرکب تشبیه

هغه تشبیه چې په کښې مشبه او مشبه بۀ مفرد نۀ وي او ګڼ هم نۀ وي بلکې د څو څیزونو نه جوړ یو مجموعی حالت وي لکه دا شعر۔
ستا رخسار ته زرۀ زما د زلفو په خم ووت
غل چې پخته کار شی په تیارۀ کښې کندر مات کا
علی خان



www.pukhto.net

په دې شعر کښې د زلفو په خم رخسار ته د زرۀ وتلو له د پخته کار غل په تيارۀ کښې د کندر کولو سره تشبيه ورکړے شوے ده او مرکب ده- يا لکه په دې شعر کښې:-

خورې زلفې داوده اشنا په ليچو

ښاماران دي په عصا د موسیٰ بلو محي

عبدالغفران بيکس

په ليچو د خورو زلفو مجموعي حالت ته د موسیٰ عليه السلام په عصا د ښامارانو بلو محيدلو مجموعي حالت سره تشبيه ورکړے شوے ده-

## ۱۵- تمثيليه تشبيه

دا د تشبيه هغه قسم دے چې په کښې مشبه او مشبه بِه د محو محيزونو نه جوړ يو حالت وي يعنې په مجموعي حالت او هيئت کښې سره شريک وي- لکه کۀ څوک داسې ووائي چې "د سرو په گوته کښې سپين غمے داسې ښکاري لکه چې په زير گلاب کښې پرخه پرته وي"- نو په دې تشبيه کښې وجه تشبيه هم مرکب ده او مشبه او مشبه بِه هم په مرکب حالت کښې دي- يعنې يو مجموعي حالت او هيئت دے- د عبدالحميد بابا په دې شعر کښې هم دغه قسمه تشبيه ده-

ماوې عين يې گنه گل دے د غنچې په لمن نغښتې

چې مې کوت يو گل اندام وۀ پروت په سبزه دوشاله کښې

حميد بابا

په دې شعر کښې وجه تشبيه هغه حالت دے کوم چې د يو گل د غنچې په غيږ



www.pukhto.net

کښې او دیو بنائسته گل اندام په شین محادر کښې د پټیدو وی- یعنې د گل د غنچې په لمن کښې نغښتیل دیو گل اندام په سبزه دوشاله کښې د نغښتیلو سره یو شان گرځولی شوی دی- دې کښې مشبه او مشبه به د څو مجزوونو نه جوړ یو مجموعی حالت دے-

## ۱۶- مقبوله تشبیه

هغه تشبیه چې د کوم مقصد تر مخه ور کړے شوے وی او هغه مقصد تر سره کوی هغې ته مقبوله تشبیه ونیلے شی لکه دا بره ور کړے شوے مثالونه-

## ۱۷- مردوده تشبیه

دا د تشبیه څخه قسم نه دے خو هر هغه تشبیه ته ونیلے شی کومه چې دیو مقصد او غرض تر سره کولو دپاره په کلام کښې راوړلے شوے وی او هغه، هغه غرض کوم چې مقصود وی نه تر سره کوی هغې ته مردوده تشبیه ونیلے شی-

## ضروری یاداشت

خو دا خبره یادساتل پکار دی چې د تشبیه غرض همیشه د مشبه بنه والے بیانول نه وی بلکې د مشبه د بدیۍ ذکر کولو او ذلیل کولو دپاره هم تشبیه ور کولے شی- لکه خلق اکثر د دیر اروا وړۍ سړی دپاره داسې وائی چې " لکه د سپی اروا ئې ده"- په شعر کښې ئې مثال څه په دې ډول دے چې ---



www.pukhto.net

تهٔ چې دې خپلو جفاګانو ته وفا ووايې

محو مره شريف مفهوم لري محو مره ارذل توري دي

قلندر مومند

په دې شعر کښې د محبوب جفاګانو ته ارذل توري وئيلي شوي دي۔

Pukhto.Net
پښتو



www.pukhto.net

# استعاره

لکه چې اګاهو وونیلی شو چې هر کله یو تکے په هغه معنیٰ کښې استعمال شی د کومې دپاره چې جوړ وی نو هغې ته حقیقت ونیلے شی- او چې د دغې نه علاوه په هره معنیٰ کښې استعمال شی نو هغې ته مجاز ونیلے شی- د حقیقی او مجازی معنو په مینځ کښې یو خاص تعلق وی، که چرې دا تعلق د تشبیه وی نو ورته استعاره ونیلے شی او که د تشبیه نه علاوه بل څه وی نو هغې ته مجاز مرسل ونیلے شی-

د استعارې لغوی معنیٰ قرض اخستل دی او په حقیقت کښې د تشبیه مختصر کولو او په کښې مبالغې پیدا کولو ته استعاره ونیلے شی-

استعاره ظاهراً د تشبیه یو قسم ښکاری چې په کښې حرف تشبیه نه وی ذکر شوے لکه که څوک داسې ووائی چې "دا اوبهٔ لکه د شاتو خوږې دی" نو دا تشبیه ده خکه چې د تشبیه ټول ارکان په کښې موجود دی ولې که دا خبره داسې وکړې شی چې۔۔۔

"دا اوبهٔ شات دی-"

نو دا استعاره شوه- کله کله په استعاره کښې د مستعار لهٔ ذکر نهٔ شی کولے بلکې د مستعار لهٔ څهٔ صفت بیانولے شی- دې ته هم استعاره ونیلے شی- لکه که څوک ووائی " میدان ته په غرمبیدو راغے " نو چونکې غرمبیدل د زمری صفت دے نو پته ترې په اسانه لګیدے شی- یعنې په استعاره کښې یو نه



www.pukhto.net

یو تکے د اسې وی چې هغه د خپلې حقیقی معنې په ځاۍ مجازی معنیٰ کښې استعمال شوے وی۔

# د استعارې ارکان

د استعارې څلور ارکان دی۔

## ۱۔ مستعار

هغه تکے کوم چې اخستے شوے وی یعنې د خپلې حقیقی معنې په ځاۍ په بله معنیٰ کښې پکار ولے شوے وی۔

## ۲۔ مستعار لهٗ

هغه تکے چې د هغهٔ د پاره بل تکے مستعار اخستے شوے وی۔

## ۳۔ مستعار منهٗ

هغه تکے چې مستعار اخستے شوے وی یعنې د لفظ خپله حقیقی معنیٰ د کومې د پاره چې هغه جوړ شوے وی۔

## ٤۔ وجه جامع

چې په کُمه وجه یو تکے مستعار اخستے شوے وی۔

لکه مخکښې ذکر شوے خبره چې "د ا اوبهٔ شات دی" په دې کښې شات مستعار منهٗ او مستعار دی، اوبهٔ مستعار لهٗ او وجه جامع د اوبو خوږوالے ثابتول دی۔ په استعاره کښې ویونکے د ا ښنیل غواړی چې مستعار لهٗ هم د مستعار منهٗ سره په دغه معنیٰ کښې شریک دے۔ لکه احمد



www.pukhto.net

زمرے دے نو احمد مستعار لۀ، زمرے مجازی مستعار، حقیقی زمرے

مستعار منۀ او بهادری وجه جامع ده۔

# داستعارې قسمونه

## استعاره تصریحیه

هغه استعاره چې په کښې مستعار لۀ ذکر شوے نۀ وی صرف د

مستعار منۀ نه خبره تحرگنده شوے وی هغې ته تصریحیه استعاره وئیلے

شی۔ په شعر کښې ئې مثال داسې دے۔

تو له شپه دیو بې لوظه انتظار کښې

د بنو په سر مې شمعې بلیدلے

قلندر مومند

په بره ذکر شوی شعر کښې داوښکو دپاره شاعر د شمعې استعاره

راوړلے ده یعنې د مستعار منۀ ذکرې کړے دے۔ مستعار لۀ چې اوښکې

دی، نۀ دی ذکر شوے صرف د مستعار منۀ نه پته لګیدے شی۔ لکه په دې

شعر کښې هم دغه قسمه استعاره ده۔

زرۀ چې سورے کړی دلاسه ورکوی

غشی د سترګو پښتنو ښکاری

حمزه بابا



www.pukhto.net

په دې شعر کښې د بنو دپاره غشی استعاره راوړلے شوے ده او بانه چې مستعار لهٔ دی، نه دی ذکر شوی۔

## استعاره مجرده

هغه استعاره چې په کښې د مستعار لهٔ د مځه صفت یا د مستعار لهٔ سره د تعلق لرونکی څیز بیان شوے وی لکه په دې شعر کښې۔

مسکی او سترګې بنکته د سالو پیسکه په خله کښې
بیا څو رند سر په زمکه ګریدو کښې د کتو ده

حمزه بابا

په دې شعر کښې د مستعار لهٔ د صفتونو ذکر دے۔ مجبوب مستعار لهٔ دے خو ذلته نه دے ذکر شوے۔

## استعاره مرشحه

هغه استعاره چې په کښې د مستعار منهٔ څه صفت یا د مستعار منهٔ سره د مناسبت لرونکی څه څیز ذکر شوے وی۔ لکه کهٔ څوک ووائی "هغه په غرمبیدو راغے" نو په دې خبره کښې د مستعار منهٔ چې زمرے دے یو صفت غرمبیل ذکر شوی دی۔ لکه دا شعر۔

کهٔ په غوږ کړې دا ګوهر زیبائی ستا ده
او کهٔ نهٔ وی د ناصح غاره ادا ده

رحمان بابا



www.pukhto.net

په دې شعر کښې گوهر استعاره ده د پند او نصیحت دپاره، یعنې گوهر مستعار منهٔ او پند او نصیحت مستعار لهٔ دی - په غوږ کول او زیباتی د گوهر یعنې د مستعار منهٔ سره تعلق لرونکی ممیزونه دی۔

# استعاره مطلقه

هغه استعاره چې په کښې د مستعار لهٔ او مستعار منهٔ صفتونه او خاصیتونه نه وی ذکر شوی۔ لکه چې د اسې ووئیلے شی "زمرے میدان ته راووتو" او چې د دې نه اگاهو د چا ذکر شوے وی مخوک بهادر سړے ښنیل مراد وی۔ په دې کښې بهادر سړے مستعار لهٔ او حقیقی زمرے مستعار منهٔ دے۔ خو د دواړو سره مناسبت لرونکی ممیز نه دے بیان شوے۔ لکه په شعر کښې--

دډیں په گدایۍ مې ننگ نه شی

درویز گروم د بتانو په بازار گډ

رحمان بابا

په دې شعر کښې بتان مستعار منهٔ او ښکلی مستعار لهٔ دی او د دواړو متعلقات نه دی ذکر شوے۔

# استعاره عنادیه

هغه استعاره چې په کښې مستعار لهٔ او مستعار منهٔ یو ځاې نه شی ذکر کیدے۔ یعنې د مستعار لهٔ او مستعار منهٔ صفات په یو وخت په یو ممیز



www.pukhto.net

کښې نه شي جمع کيدے. لکه کله څوک ووائي چې "داشنا او ښکې ملغلرې دي" نو هر څوک که په کښې غوند والے او سپينوالے مشترک دے ولې په يو ذات کښې يې جمع کيدل ممکن نه دي. لکه په دې شعر کښې.

داوطن دغم نه پاک دے دلته زړونه خوشاليږي

مړي هم په دې وطن کښې د ژوندو په شان وسيږي

سيد رسول رسا

په دې شعر کښې مړي د ناراستو دپاره استعاره ده او ژوندي د متحرکو دپاره. ناراسته حرکت کولے شي او مړے بيخي نه شي خوځيدلے. او دا دواړه صفتونه په يو څيز کښې په يو وخت نه شي جمع کيدے.

## استعاره وفاقيه

هغه استعاره چې په کښې د مستعار لهٔ او مستعار منهٔ صفتونه په يو ځاې جمع کيدے شي لکه کله څوک ووائي چې "د ډاکټر په وخت راتلو هغه له ژوند ورکړو." نو په دې خبره کښې ژوند په حقيقي معنو کښې نه دے استعمال شوے بلکې د ژوند نه مراد صحت دے. حقيقي ژوند مستعار منهٔ او صحت مستعار لهٔ دے. او دواړه په يو څيز کښې جمع کيدے شي. لکه په دې شعر کښې ---

رنځ مې هسې سخت دے په زمان زيا تيږي

راشه اے طبيبه ګنې مرم د رب دپاره

خوشحال بابا ؒ



www.pukhto.net

په دې شعر کښې طبيب د محبوب دپاره استعاره راوړلے شوے ده.
طبيب مستعار منهٔ دے او محبوب مستعار لهٔ دے د دې دوارو صفتونه په يو
نات کښې جمع کيدے شی۔

## استعاره اصليه

هغه استعاره چې مستعار ئې اسم جنس، مصدر يا علم - (ذاتی نوم)
وی لکه د بهادر سړی دپاره زمرے ونيل، زمرے اسم جنس دے۔ يا کهٔ څوک د
يو ډير دنګ سړی دپاره چينار ووائی نو په دې خبره کښې چينار مستعار
دے۔ يا لکه چې خلق د باران دپاره وائی اسمان وژړل نو د ژړيدو نه مراد
باران کيدل وی، ژړيدل مستعار او مصدر دے۔

غم د ترکو دے کهٔ سيو رے د ديوانو
چې حيران ئې په تکبير کړو زمازړهٔ

حميد بابا

په دې شعر کښې د ښکليو دپاره د ترکو استعاره راوړلے شوے ده۔
کوم چې اسم دے۔ يا لکه دا شعر

دا خو ماله خدائې را کړو گنه نشته
هسې بت په بت خانه کښې د آزر

رحمان بابا

د محبوب دپاره بت استعاره راوړلې شوے ده۔ چې اسم دے۔



www.pukhto.net

## استعاره تبعیه

هغه استعاره چې مستعارئ فعل یا شبه فعل وی- لکه خلق وائی "گل مسکے شو- غوټئ مسکۍ شوه" دلته د مسکا نه مراد سپړدل یا غوړیدل دی- مسکی کیدل مستعار دے او فعل دے. لکه دا شعر -

خود چې وۀ مې کړه سودا د آهو چشمو
فراغت مې لاړ په ښکرو د هوسۍ
علی خان

د آهو چشمو سودا کولو سره فراغت د هوسۍ په ښکرو تلل فعل دے-

## استعاره مبتذله

هغه استعاره چې وجه جامع ئې باریکه او ژوره نۀ وی- بیخی مشهوره او عام وی- لکه د محبوب دپاره د صنم استعاره عام ده -د دې وجه جامع باندې هر سړے په اسانه پوهیدے شی- ځکه چې په محبوب او صنم کښې د بې حسۍ او سنګ دلۍ قدر مشترک دے- لکه په دې شعرونو کښې هم دغه قسمه استعاره راوړلے شوے ده-

داورږدې وعدې چې تۀ کوے صنمه
کاشکې بیا مو مم فرصت په دا دنیا زه
رحمان بابا



www.pukhto.net

قلندره چې په دار هم سر بلند وۀ

هغه سر به اوس په پښو کښې د صنم ږدم

قلندر مومند

## استعاره غریبه

هغه استعاره چې وجه جامع ئې عجیبه وی یعنې باریکه او لطیفه وی هر سړے ئې نه شی معلومولے لکه په دې شعر کښې هم دغه قسمه استعاره راوړلے شوے ده۔

د آفتاب په کمند نه ختږم اسمان ته

نه ږدم بار لکه شبنم په دوش د گلو

کاظم خان شیدا

په دې شعر کښې کمند د نمر د شغلو دپاره استعاره ده۔ وجه جامع په کښې د ختلو ذریعه کیدل دی۔ او دا وجه جامع ډیره باریکه ده د سړی ذهن ته زر نه راځی۔ شاعر وائی چې زۀ د چا په امداد ترقی کول نه غوارم او نه په چا دومره بار اچول غوارم لکه شبنم چې د گل په پاڼو پروت وی۔ بخارات د نمر په گرمۍ سره بره وخیژی خو چې کله نمر پناه شی نو بخارات هم یخ شی او واپس زمکې ته راپریوځی او خپل بار د گلونو په پاڼو وغورځوی۔

## استعاره بالکنایه

هغه استعاره چې په کښې د مستعار منهٗ سره تعلق لرونکے څیزد



www.pukhto.net

مستعار لهٔ سره يو ځاې ذکر شوے وي ـ لکه کۀ داسې ووئيلے شي چې "احمد په غرمبيدو راغے " نو په دې خبره کښې احمد مستعار لۀ دے او غرمبيدل د مستعار منهٔ يو صفت دے چې دلته ذکر شوے دے ـ لکه په دې شعر کښې هم دغه قسمه استعاره راوړلے شوے ده ـ

هر ساعت زما د غوږ په تاوولو

د فلک لاسونه شنۀ شو تر څنګلو

رحمان بابا

په دې شعر کښې فلک د قسمت د پاره استعاره ده يعنې فلک مستعار لۀ دے او ظلم مستعار منهٔ او لاس د مستعار منهٔ د متعلقاتو څخه دے ـ

Pukhto.Net
پښتو



www.pukhto.net

# کنایه

د کنایې لغوی معنیٰ په پټ انداز کښې خبره کول دی چې د مدعا وضاحت په کښې ونه شی- ولې په اصطلاح کښې دې ته وئیلے شی چې یو لفظ د خپلې حقیقی معنې په ځائې په مجازی معنیٰ کښې داسې استعمال شی چې هم حقیقی معنیٰ ورکوی او هم ترې مجازئ معنې مراد اخستے شی- خو مراد ترې حقیقی معنې نه وی- لکه کهٔ یو سړے ووائی چې "ما وېښته په نمر نه دی سپین کړی" نو دا کنایه ده او مطلب ئې دا دے چې زهٔ پوهیږم تجربه مې ډیره ده.

## د کنایې قسمونه

### قریبه کنایه

د موصوف د صفت داسې اظهار چې د سړی ذهن ورته سملستی ورسی او زیات غور او فکر نهٔ غواړی هغې ته قریبه کنایه وئیلے شی- لکه سپین ږیرے د بوډا سړی دپاره کنایه ده یا تور سرے د ښځو دپاره کنایه راوړے شی او مونږ ئې په امروزه ژوند کښې پکار راولو- په دې شعر کښې هم دغه قسمه کنایه ده___



www.pukhto.net

تو له شپه دې بې لوظه انتظار کښې

د ښو په سر مې اوښکې بلېدلې

قلندر مومند

په دې شعر کښې اوښکو ته شمعې ونیلی شوی دی - کومه چې تصریحیه تشبیه ده- او د محبوب دپاره بې لوظه کنایه راوړلے شوے ده- او دا قریبه کنایه ده، په اسانه پرې سرے پوهېږی-

## بعیده کنایه

هغه کنایه چې په کښې د موصوف ګڼ صفتونه بیان شوے وی او د هغې صفتونو په وجه سره ذهن موصوف ته رسی- یعنې موصوف ته د رسیدو دپاره په کښې ذریعې وی، یا دیو څیز څو داسې صفتونه بیانول چې هغه صفتونه په مجموعی ډول په هغه څیز کښې موجود وی- لکه کۀ څوک ووائی چې " هغه یخه رڼا ور کونکے نن نۀ ده راختلے نو دا د سپوږمۍ دپاره کنایه ده او دا ټول صفتونه په سپوږمۍ کښې موجود دی- لکه په دې شعر کښې هم دغسې کنایه ده-

چې له سترګو ئې غریږی غنم رنګه

جدائی ئې لکه قحط د غلې دے

خوشحال بابا

دغنمو نشتوالے د قحط سبب وی او قحط یو لوئې غم وی - خوشحال بابا په دی شعر کښې د غنم رنګو جدائی لکه د قحط ګڼی - او دغسې په دې شعر



www.pukhto.net

کښې بعیده کنایه ده۔

## جلي کنایه

هغه کنایه چې په کښې د صفت نه کنایه شوې وي او چې کومې معنې ته ذهن رسي هغه معنیٰ هم صفت وي او په حقیقي او مجازي معنو کښې ځه واسطه نه وي۔ بلکې ذهن په خپله او په اسانه د یوې معنې نه بلې ته انتقال کولے شي۔ لکه کۀ څوک ووائي چې "نن سبا مې لاس تنګ دے" نو لاس تنګیدل د پیسو نه لرلو دپاره کنایه ګرځولے شوے ده۔ لاس تنګیدل او پیسې نۀ لرل دواړه صفتونه دي او ځه واسطه یا ذریعه په کښې نۀ ده ذکر شوې او ذهن بغیر د ځه ذریعې نه بلې معنې ته رسي۔ لکه په دې شعر کښې هم دغه قسمه کنایه ده۔

زۀ د ماشوم ارمانه ځه ووایم
په دلاسه خولا په سر وختو

حمزه بابا

په دې شعر کښې په سر ختل د مستیدو دپاره کنایه راوړلے شوې ده۔ په سر ختل او مستیدل دواړه صفتونه دي۔

## خفي کنایه

هغه کنایه چې د صفت دپاره په کښې صفت راوړلے شوې وي یعنې حقیقي او مجازي دواړه معنې صفتونه وي او د یوې معنې نه بلې معنې



Pukhto.Net
www.pukhto.net

نه د رسيدو ځنه ذريعه هم په کښې نه وي- ذهن ورته د فکر او سوچ نه پس رسي- د جلي معنئ ښکاره او د خفي معنئ پټه ده - په جلي کنايه کښې کنايه ښکاره او په خفي کښې کنايه پټه وي- که څوک داسې ووائي چې "په اشنا پسې مې سترګې سپينې شوې" نو سترګې سپينېدل د رنديدو دپاره کنايه ده- دواړه صفتونه دي او ښکاره هم نه دي- لکه د محترم قلندر مومند صاحب ديو غزل په مطلع کښې دا قسمه کنايه ځنه په دې دول راغلې ده ـــ

آرزو مې زړه کښې په سلګو شوه ته به کله راځې

د صبر ساه مې په سکيتلو شوه ته به کله راځې

قلندر مومند

## تلويح

هغه کنايه چې د هغې په حقيقي او مجازي معنو کښې ګڼې ذريعې پکار يږي- يعنې د صفت نه تر موصوفه د رسيدو دپاره ډيرې ذريعې پکارولې شي- لکه که څوک داسې ووائي "هغوي کره خو منږکان نيزه بازي کوي"- يعنې کورئ هوار ميدان دے ځکه چې نيزه بازي هوار ميدان کښې کولے شي- مطب دا چې هيڅ ورکره نشته يعنې خوار دي- لکه دا شعر

په ماڼئ ئې مرده شوي کره عيد وي

په خندائ جوهري کره ژړا شي

خوشحال بابا



Pukhto.Net
www.pukhto.net

شاعر وائي چې زما د محبوب په مانې خلق مړه کيږي خکه نو دهغه په مانې مرده شويو کړه اختر وي چې ډير مړي به کيږي او هغوی به زيات لامبول کوي- او په خندا يې د جوهريانو کړه خکه ژړا جوريږي چې په خنا کښې ملغلرې تويوئ- چې دهغې په نتيجه کښې د ملغلرو نرخ راپريوځي-

## رمز

داسې کنايه چې ذريعې په کښې کمې وي- او ډيره واضحه نه وي يعنې د صفت نه تر موصوفه د رسيدو دپاره پکښې ذريعې کمې بيان شوې وي- او کنايه پکښې پټه وي- خو څه داسې خبره ورکښې وي چې دهغې نه ذهن ته راځي- لکه دا شعر...

ږيره سپينه شوه ملا غبرګه خله کنداس
نه وباسې د دنيا د چارو لاس

حميدبابا

ږيره سپينيدل، ملا غبرګيدل، خله کنداسه کيدل دبوډاتوب دپاره کنايې راوړلې شوې دي-

## ايماء او اشاره

داسې کنايه چې ذريعې هم پکښې کمې وي او پټوالے هم پکښې نه وي- سرے پرې په اسانه پوهيدے شي- لکه "دهغه پوزه پرې شوه"-مطلب



www.pukhto.net

دا چې بې عزته شو- په دې کښې ذریعه شته دے او په اسانه پرې سړے پوهیدې شی- لکه په دې شعر کښې...

دنظر په خوی شوې بورې هغه ستر گې
چې بر یښنا ته ستا دستر گو ېَ کاته کړه

حمزه بابا

په دې شعر کښې د "نظر په خوی بوریدل" د رندیدو دپاره کنایه راوړلے شوے ده.

## تعریض

کله کله په یو کلام کښې موصوف بیخی نه ذکر کیږی- او خبره د خاص په ځائې عام کولے شی- حالانکې مراد ترې هم هغه خاص وی- داسې کنایې ته تعریض وائی- لکه چې څوک پخپل یو دوست طنز کوی نو داسې وائی- "نن سبا دوستان چرته دی-" یا لکه زمونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به د خپل اصحابو داسې څه کار یا حرکت ولیدو چې هغه به خلاف ادب یا ښۀ نه وو نو هغه کس به ئې نه مخاطب کولو بلکې داسې به ئې فرمائیل چې "په خلقو څۀ شوی دی چې داسې کوی"-

لکه دا شعر

هر چرته چې گرځی لکه سروه سمه گرځی
هر چرته چې کینی هغه ځائې لکه گلشن کا

خوشحال بابا



www.pukhto.net

# مجاز مرسل

هر کله چې یو لفظ د خپلې حقیقي معنې نه علاوه په بله معنیٰ کښې استعمال شي۔ او په حقیقي او مجازي دواړو معنو کښې يې د تشبيه تعلق نه وي بلکې ځنې داسې قرینه په کښې موجوده وي چې د هغې په وجه ترې نه مجازي معنې مراد اخستے شي۔ دې ته مجاز مرسل وئیلے شي۔ لکه کله څوک ووائي "فلانې ما سره په سخته کښې لاس وکړو" نو هر کله چې مدد د لاسو په ذریعه کیدے شي نو دلته د مجاز مرسل په طریقه مدد ته لاس ووئیلے شو۔ د دواړو تر مینځه د تشبیه تعلق نشته۔

د مجاز مرسل ګڼې طریقې دي چې دلته ذکر کولے شي۔

## ۱۔ جُز د کُل د پاره

کله کله جز د کل د پاره پکاروَلے شي یعنې په یو څیز د هغه د یو جز نوم کیښوَدلے شي لکه کله څوک ووائي چې "سترګه نازک شے دے" نو د دې نه مراد سترګې وي ځکه چې ټولې سترګې نازکې وي۔ دا په شعرونو کښې هم وي لکه په دې شعر کښې۔۔۔

مخ دې دویم خلې را ونه ښودو

نوے غزل چې مې لیکلے نه دے

حمزه بابا



www.pukhto.net

مخ د بلې يوه برخه ده ولې د پوره بلې دپاره استعمال شوے دے۔ مخ رابښيل يعنې پوره ځان رابښيل۔

## ۲۔ کُل د جز دپاره

کله کله په يو کلام کښې د يو ځيز د يو جز دپاره د هغه ټول ځيز نوم اخستے شي۔ که څوک ووائي چې "پوزه کښې ګوتې وهل ښه کار نه دے" يا دا چې مونږ ټولو غوږونو کښې ګوتې ورکړې" نو د دې نه مراد د ګوتو څه برخه وي ځکه چې په پوزه يا غوږ کښې څوک ټوله ګوته نه وهي۔ لکه په دې شعر کښې هم داسې وائي۔

خله مې کيښوده او نه شوم په رنګينو رخسارونو
چې مې سود د زړه کيدلو راغے خوب په انکارونو
قلندر مومند

په دې شعر کښې د جز دپاره کل استعمال شوے دے خله په يو وخت په يو رخسار کيښودے شي په دوارو نه شي کيښودے۔

## ۳۔ سبب د مسبب دپاره

کله کله په کلام کښې د مسبب دپاره د هغې د سبب استعمالولو نه کار اخستے شي۔ لکه اکثر خلق وائي "وريځې ښې ووريدې" حالانکې وريځې نه وريږي د وريځو نه باران وريږي۔ د وريځو وريدو نه مراد باران وي۔ باران مسبب او وريځې سبب دے۔ لکه په دې شعر کښې۔



Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

په ماخو توري توري وورېدې
چاوې چې سپينې وريخې ژړ ورېږي
قلندر مومند

## ٤ـ مسبب د سبب د پاره

کله کله داسې وشي چې د سبب د پاره د مسبب نوم واخستے شي۔ لکه خلق وائي " په تنور کښې اور بلېږي " حالانکې په تنور کښې اور نه لرګي يا خشاک بلېږي او دلته د سبب د پاره مسبب راوړلے شوے دے۔ په دې شعر کښې هم دغسې شوي دي۔۔

بېګا مې ناساپه په زړه باندې راووريدې
نه ژنې سترګې د تا سترګې زما وورېدې
قلندر مومند

په دې شعر کښې داوښکو وريدو په ځاې سترګې ورېدل ذکر شوي دي۔ يعني د سبب د پاره مسبب ذکر شوے دے۔

## ٥ـ ظرف د مظروف د پاره

کله کله په يو کلام کښې داسې هم کېږي چې د يو ظرف د پاره جوړ تکے د مظروف د پاره پکاروِلے شي لکه اکثر مونږ وايو " نلکه له سحره راهسې بهيږي " نلکه ظرف دے او اوبۀ مظروف۔ دلته مونږ ظرف د مظروف د پاره په کار راولو۔لکه په دې شعرونو کښې۔۔۔



www.pukhto.net

د پیمانې نه مې نظر وبو ګنید

محه خو دې پاتې دے اثر توبې

ساقی خمار مې باوېږے درنه ونه کړی ګورې

یو تبسم دې هم ملګرے کړه د جامه سره

حمزه بابا

په وړومبی شعر کښې د پیمانې نه مراد شراب دی او په دویم شعر کښې هم د جام نه مراد شراب دی۔ دواړو شعرونو کښې ظرف د مظروف دپاره راوړلے شوے دے۔

## ۶۔ مظروف د ظرف دپاره

کله کله په یو کلام کښې داسې وشی چې د مظروف دپاره جوړ تکے د ظرف دپاره پکار راوستے شی۔ لکه خلق وائی "په دې پیو سر کیږده" مطلب ئې داوی چې په کوم لوخی کښې پئ دی په هغه لوخی سر کیږده۔ پئ مظروف دے او لوخے ظرف. او په دې خبره کښې مظروف د ظرف دپاره استعمال شوے دے۔ لکه په دې شعر کښې هم داسې شوی دی۔۔۔

ستر ګې دې راواړوه ساقی شراب دې واړوه

زه پښتون خلے یم زما خپله نشه ډیره ده

رحمت شاه سائل

په دې شعر کښې د ظرف دپاره مظروف استعمال شوے دے۔ خکه چې د شرابو پیالی یا جام اړولے شی۔



www.pukhto.net

## ۷- مکان د مکین دپاره

د مجاز مرسل یو قسم دا هم دے چې کله کله په خبره یا شعر کښې د مکین دپاره مکان استعمال شی لکه مونږ خلق اکثر وایو چې "ټول بس ئې راکوز کړو" یا "ټول کلاس ئې بهر راووېستو" مراد ترې د بس ټولې سورلۍ یاد کلاس ټول هلکان وی - لکه په دې شعر کښې --

دا د حسن مملکت کښې کوم نمرود دې پیدا شوے

چې د زړونو کلی وران شو اور شو پورې په ښارونو

قلندر مومند

په دې شعر کښې په ښارونو داور لګیدو نه د ښارونو په ابادو اور لګیدل مراد دی- د مکین په ځاې د مکان ذکر شوے دے-

## ۸- ماضی د حال دپاره

کله کله داسې کیږی چې په یوه خبره یا یو شعر کښې یو څیز ته د هغه د ماضی په اعتبار نوم اخستے شی لکه ریټائرډ صوبیدار ته صوبیدار وئیل- لکه په دې شعر کښې هم دغسې شوے دی--

د هجران آه و فریاد

موتے خاورې کړم برباد

حمید بابا

په دې شعر کښې د موتے خاورې نه مراد انسان دے چې د تخلیق په



www.pukhto.net

وخت یو موتے خاوره وه او نن هم ورته د ماضی په اعتبار یو موتے خاوره ونیلے شی۔

## ۹۔ مستقبل د حال دپاره

کله داسې وشی چې په کلام کښې یو محیز ته د عفة د مستقبل په اعتبار نوم واخستے شی لکه خلق وائی "پاکستانی حاجیان به سبا روانیږی" حالانکې هغوی به د دې نه پس هلته رسی حج به کوی پس د هغې نه به حاجیان جوړیږی۔ مثال ئې په ټپه کښې داسې دے۔

نفاره وشوه غازیان درومی

په وطن جنګ دے لاله ته منع کومه

## ۱۰۔ خاص د عام دپاره

په کلام کښې کله د خاص محیز دپاره جوړ تکے د عام محیز دپاره هم پکاریږی لکه یو ښځې ته جنت ونیل یا یو ښکلی ته یوسف ونیل۔ جنت او یوسف دواړه خاص تکی دی او مونږ ئې د عام دپاره پکاروو۔ په شعر کښې ئې مثال داسې دے۔

هیڅ خبر مې بیا دورک یوسف رانغے

که یعقوب رنګه مې شو واړه مژګان سپین

مرزاخان انصاری

یوسف خاص نوم دے کوم چې لوئې پیغمبر تیر شوے دے ولې شاعر



www.pukhto.net

په دې شعر کښې خپل محبوب ته يوسف ونيلے دے۔

## ۱۱۔ اندام د خپل صفت د پاره

په کلام کښې کله کله داسې هم کيږي چې د يو اندام د پاره د هغه اندام يو صفت پکارولے شی لکه مونږ اکثر وايو "ماته غوږ شه" مطلب دا چې زما خبره واوره۔ چونکې د غوږ صفت اوريدل دی خکه نو مونږ د هغه د صفت د پاره هم هغه پکاروو۔ په تپه کښې ئې مثال داسې دے۔

جانانه کښينه راته غوږ شه

چې درته ووايم د خوږ زړګی حالونه

## ۱۲۔ د اندام يو صفت د هغه اندام د پاره

کله کله داسې هم کيږي چې د يو اندام يو صفت د هغه اندام د پاره پکارولے شی لکه خلق وائی "خله ئې خرابه ده" مطلب دا چې خبرې ئې ښې نه دی۔ يا "ژبه ئې قينچی ده" مطلب دا چې خبرې ډيرې کوی۔ مثال ئې په تپه کښې داسې دے۔

ياری د زور خبره نه ده

جانان ته وايه چې خله سمه خوځوينه

په دې تپه کښې د خبرو د پاره خله استعمال شوے ده خبرې کول د خلې يو صفت دے۔



www.pukhto.net

# دويمه برخه

## علم بديع



www.pukhto.net

# علم بدیع

بدیع په اصطلاح کښې هغې علم ته وائی چې د کلام ښائست پرې معلومیږی- یعنې علم بدیع هغه قاعدې دی چې کۀ چرې هغه په یو کلام کښې پکار راوستے شی نو په کلام کښې به حسن پیدا شی- د کلام دغه ښائست په دریو ؤ محیزونو جوړیږی--

۱- قواعد صرف و نحو

۲- علم بدیع

۳- علم بیان

مولانا حالی په مقدمه شعر و شاعری کښې لیکی "چې د کلام بنیاد په صنائعو بدائعو کښیښودل معانی له نقصان ورکوی او کلام بې اثره کوی٬ او لوستونکی دا گنړی چې شاعر د تصنع نه کار اخستے دے- مولانا شبلی په شعر العجم کښې لیکی " اگر چې د دې نه انکار نۀ شی کیدے چې ډیر صنائع داسې هم دی کۀ چرې هغه په بې تکلفۍ سره راشی نو په کلام کښې حسن پیدا کوی ولې عام حالت دا دے چې صنائع بدائع شاعری خرابوی"- د دې دواړو خبرو نه دا محر گندیږی چې کۀ چرې صنائع بدائع بغیر د قصده او بې تکلفۍ نه په کلام کښې راشی نو هغه ښۀ وی او د ستائنې وړ وی او کۀ چرې داسې ونۀ شی نو د کلام خوند به خراب کړی- د دې صنائعو بدائعو د استعمال



www.pukhto.net

خاصیت په هغه شاعر ادیب کښې موجود وي چې مطالعه ئې وسیعه وي او
مشاهده ئې ژوره وي- د پښتو ښو شاعرانو کلام ئې ښه لوستے وي- علم بیان
د لفظونو جادوگری ده نو د دې د پاره علم او هنر پکار دے چې څومره د چا
علم او هنر زیات وي دومره به هغه په دې فن کښې ښه ماهر وي-

صنائع د صنعت جمع ده چې معنیٰ ئې هنر یا کاریگري ده- د ټولو نه
اګاهو چې کوم سړي د کلام په دې خوبیو غور وکړو او دا ئې یو باقاعده علم
وګرځولو د هغه نوم عبد الله بن معتز عباسي وه- ده په ۲۷۴ هجري کښې په
عربي ژبه کښې په دې علم یو مفصل کتاب ولیکلو او دغسې ورو ورو دا
علم نورو ژبو ته هم راغے-

د علم بدیع دوه قسمونه دي یو ته صنائع لفظي یعنې لفظي ښائست او
بل ته صنائع معنوي یعنې معنوي ښائست ونیلے شي- دا په نظم کښې هم
کیدے شي او په نثر کښې هم- ولې په نظم کښې په نسبت د نثر ډیر خوند
کوي- په کلام کښې د لفظونو ښائست ته صنائع لفظي او په مفهوم او معنو
کښې اثر او حسن ته صنائع معنوي وائي-



www.pukhto.net

# صنائع لفظي

## صنعت تجنيس

د تجنيس لغوي معنیٰ د هم جنس کیدو ده. په کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې په تلفظ کښې يو شان وي ولې معنې ئې جدا جدا وي هغې ته تجنيس وئيلے شي - لکه " هر کار به سم شي خو که زړه ورته سم شوم" په دې خبره کښې يو "سم د ټيک په معنیٰ او بل د وزګار په معنیٰ دے. يالکه داسې چې " ستا د غم راسره غم دے" په دې خبره کښې يو غم د غم په معنیٰ او بل غم د سودا او فکر په معنیٰ استعمال شوے دے. د تجنيس په طريقه په کلام کښې راوړلو شويو لفظونو ته متجانسين وئيلے شي واحد ئې متجانس دے.

## د تجنيس قسمونه

### ۱- تجنيس تام

په کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې په تلفظ، وزن، ترتيب او شکل کښې هو بهو يو شان وي او معنې ئې جدا جدا وي نو هغې ته تجنيس تام وئيلے شي - په شعر کښې ئې مثال داسې دے.

ورپسې تل شومه داوښکې په رنګ

در داشنا د زړه د تل نه شومه

حمزه بابا

www.pukhto.net

یا په دې شعر کښې هم دغه تجنیس تام دے---

حسنه بې شک چې دې بدل نشته

نه که بدلیږې زه بدل نه شومه

حمزه بابا

په وړومبی شعر کښې "تل" دوه ځله راوړلے شوے دے- یو د پریوتو په معنیٰ او بل د تلی او بیخ په معنیٰ دے- دغه شان په دویم شعر کښې "بدل" دوه ځله راغلے دے یو ځل د "ثانی" په معنیٰ او په دویم ځل د "بدلون" په معنیٰ استعمال شوے دے- هیڅ قسمه فرق نه لری-

## ۲- تجنیسِ تام مماثل

په کلام کښې دِ اسې دوه لفظونه راوړل چې په تلفظ، وزن، ترتیب او شکل کښې یو شان وی او په نوع یعنې قسم کښې هم دواړه یو شان وی یا دواړه اسمونه وی او یا دواړه فعلونه وی او معنې ئې جدا جدا وی- په شعر کښې ئې مثال داسې دے--

خورم قسم اشنا ستا د ابرو په لور

خیر د دیدن ما کره په بل لور وغوښت

حمزه بابا

په دې شعر کښې دوه ځله "لور" لفظ راغلے دے او دواړه اسمونه



www.pukhto.net

دی- یو "لور" طرف ته او بل "لور" هغې آلې ته وئیلے شی چې خلق پرې ریبل کوی- ښځې خلق ورته "لارۀ" هم وائی-

## ۳- تجنیس تام مستوفی

په کلام کښې د اسې دوه لفظونه راورل چې په تلفظ، وزن، ترتیب او شکل کښې خو یو شان وی خو یو اسم وی او بل فعل وی او معنې ئې جدا جدا وی- په شعر کښې ئې مثال داسې دے-

وخورم زۀ بیکاره کسی چې بې یاره کسی کسی
کسی هله مې پکار دی چې دیار کسی پرې کسم

علی خان

په دې شعر کښې یو "کسی" اسم دے چې "لیمو" ته وئیلے شی او بل "کسی" فعل دے چې کتلو ته وئیلے شی-

## ٤- تجنیس مرکب

په کلام کښې د اسې دوه لفظونه راورل چې د حروفو په تعداد او ترتیب کښې یو شان وی خو یو مفرد وی او بل مرکب وی هغې ته تجنیس مرکب وئیلے شی- په شعر کښې ئې مثال دا دے-

اشنا چې راشی خطا وار شی زما
حمزه تر څو به خطا وار اوسه

حمزه بابا



www.pukhto.net

په دې شعر کښې وروميے "خطاوار" مرکب دے او بل "خطاوار

"د قصور وار په معنیٰ راغلے دے او مفرد دے - يا په دې شعر کښې هم دغسې

تجنيس دے ---

کهٔ دهر چاپې تهٔ خو ستا يمه زهٔ

خکه دې ستايمه چې ستا يمه زهٔ

حمزه بابا

په دې شعر کښې وروميے "ستايمه" مرکب تکے دے او په دويمه

مصرعه کښې وروميے "ستايمه" مفرد دے -

## ۵ - تجنيس مضارع

په کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې د حرفونو تعداد يې يو

هومره وي خو يو حرف په کښې مختلف وي لکه وفا او جفا کښې چې يو

حرف مختلف دے - کهٔ چرې داسې لفظونه په تلفظ کښې يو بل ته نزدے وي

نو هغې ته تجنيس مضارع وئيلے شي - لکه په دې شعر کښې هم دغه قسمه

تجنيس دے --

کروره يې د زحمت وه ما حمزه لره رحمت شوه

زهٔ په دې نقطه پوې نهٔ وم چې عطا شته په خطا کښې

حمزه بابا



www.pukhto.net

په دې شعر کښې په "عطا" او "خطا" کښې يو حرف مختلف دے۔

## ۶۔ تجنيس لاحق

په کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې د حرفونو تعداد ئې يو شان وي او يو حرف په کښې مختلف وي او دغه مختلف حرف په تلفظ کښې هم د بل نه مختلف وي لکه په دې شعر کښې ـــ

زه چې بيدار يمه بادار ته خطره پيښه ده

سر مې په دار دے خو سردار ته خطره پيښه ده

قلندر مومند

په دې شعر کښې په "بيدار" او "بادار" کښې صرف يو حرف مختلف دے۔ د حرفونو تعداد ئې برابر دے او په تلفظ کښې ئې فرق دے يعنې په يو کښې "ی" ده او په بل کښې "الف" دے۔

## ۷۔ تجنيس زائد

په کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې حرکات او سکنات ئې يو شان وي او په قسم کښې هم يو له بله جدا نه وي خو په يو کښې د بل نه حروف زيات وي۔ دا د حروفو زياتوالے د تکی په مينځ کښې هم کيدے شی په سر کښې هم او په اخر کښې هم راتلے شی۔ البته په اخر کښې د حرف زياتيدو د پاره دوه اصطلاحګانې وضع شوی دی يو ته تجنيس مطرف او بل ته تجنيس مذيل ونيلے شی۔ د تجنيس زائد مثال په شعر کښې داسې دے۔



www.pukhto.net

زه چې بیدار یمه بادار ته خطره پیښه ده

سر مې په دار دے خو سردار ته خطره پیښه ده

قلندر مومند

په دې شعر کښې دار او سردار متجانسین دی- په یو کښې دبل نه

دېرې حروف زیات دی-

## ۸- تجنیس مطرف

داد تجنیس هغه قسم ته ونیلے شي چې په کښې د متجانسینو په

اخر کښې دیو حرف کمے زیاتے وی -لکه د قلندر مومند صاحب په دې شعر

کښې هم دغه قسمه تجنیس دے--

هغه شجر یم چې مې بر دے برے

که په ظاهر دبیرې بور یمه زه

قلندر مومند

په دې شعر کښې "بر" او "برے" متجانسین دی او په بری کښې یو

حرف زیات دےاو هغه هم په اخره کښې دے-

## ۹- تجنیس مذیل

داد تجنیس هغه قسم ته ونیلے شي چې د متجانسینو په اخره کښې

يې د دوو حروفو کمے زیاتے وی لکه د محترم قلندر مومند صاحب په دې

شعر کښې--



www.pukhto.net

داشنا کاکله بیا راته منګور شه

بلا کش یم د بلا د ستر ګو تور شه

قلندر مومند

په دې شعر کښې "بلا کش" او "بلا" متجانسین دی په یو کښې د بل نه په اخره کښې دوه حروف زیات دی۔

## ۱۰۔ تجنیس محرف

دا د تجنیس هغه قسم ته وئیلے شی چې په کښې د متجانسینو هینت یو شان نه وی۔ د هینت نه مراد د متجانسینو مجموعی حالت دے چې د اعرابو او نقطو نه جوړ وی۔ لکه په دې شعر کښې هم دغه قسمه تجنیس دے۔

داناسا په مې زړۀ ولې مطمئن شو

دا داو بنکو ولې ولې ودریدلې

قلندر مومند

په دې شعر کښې "ولې" او "ولې" متجانسین دی او د دواړو هینت یو شان نه دے۔

## ۱۱۔ تجنیس خطی

هغه تجنیس چې متجانسین ئې د هینت نه علاوه په رسم الخط کښې یو شان وی یعنې که د نقطو او اعرابو لحاظ ونه ساتلے شی نو یو شان



www.pukhto.net

وی- په شعر کښې ئې مثال داسې دے-

کړو ره ئې د زحمت وه ما حمزه لره رحمت شوه

زۀ په دې نقطه پوې نۀ شوم چې عطا شته په خطا کښې

حمزه بابا

په دې شعر کښې په وړومبۍ مصرعه کښې "زحمت" او "رحمت" متجانسين دی او دیوې نقطې فرق لری- یا لکه په دې شعر کښې-

کۀ سل خل ئې په بار خو ګلونه سره کړه

ولې بې زماله وینو ئې شل نۀ کړه

قلندر مومند

په دې شعر کښې "سل" او "شل" متجانسين دی صرف د نقطو فرق دے-

## صنعت سوال و جواب

کله کله شاعر په یو شعر کښې د سوال او جواب انداز اختیاروی- دغې صنعت ته سوال و جواب وئیلے شی- په شعر کښې ئې مثال داسې دے-

وی مل دې څوک ما ورته ووې چې د تولو ښکلې

په دې وره غوندې خبره د بڼې نه وته

محمد اقبال اقبال



www.pukhto.net

# صنعت ذو القوافی

کله کله شاعر په کلام کښې د دوه نه زیاتې قافیې هم راوړی چې ورته صنعت ذو القوافی وئیلے شی - لکه په دې شعرونو کښې ----

مست یم مې پرست یم رندی کرمه کرمه کرم
واوره محتسبه باده خورمه خورمه خورم

نور شراب مې واره نور عالم وته بخښلی
لام او ب مې مې دی پسې مرمه مرمه مرم

مور به ځنې نه شم زه د میو مستسقی یم
تل که هسې د کې پیالې ځښمه ځښمه ځښم

خلق راته وائی رنګ دې بیا زیړ شو عاشق شوې
هیڅ منکری نه کرم خلقه شومه شومه شوم

درد د عاشق دادے چې په عشق کښې ملامت وری
خکه زه خوشحال ملامت ورمه ورمه ورم

خوشحال بابا

د خوشحال بابا د غزل په دې پینځو شعرونو کښې په ورومبی شعر کښې شپږ قافیې دی چې بالترتیب " کرمه، کرمه، کرم " او خورمه، خورمه، خورم " دی دغسې په نورو ټولو شعرونو کښې درې درې قافیې غبرګې راوړلے شوے دی-



www.pukhto.net

# صنعت ذوالقافیتین

کله کله شاعر په شعر کښې دوه قافیې په یو بل پسې هم پکار

راولي چې ورته ذوالقافیتین وئیلے شي- مثال ئې داسې دے--

چا د جمشید ژامنې ذره ذره کړې

د چالا اوس هم د جم جام دے پکار.

خیر دے په تو زه که وارهٔ وارهٔ شي

په کلانکار د قلم لام دے پکار

قلندر مومند

په دې شعرونو کښې "جم" او "قلم" او "جام" او "لام" قافیې دي او

یو بل پسې راغلي دي-

د ذوالقافیتین دویم قسم داسې وي چې د دوؤ قافیو په مینځ کښې

ردیف هم وي- چې ورته ذوالقافیتین مع الحاجب وئیلے شي- په شعر

کښې ئې مثال داسې دے----

چې په شوندو دې مسکا راشي پسرلے شي

زما مړ وجود کښې ساه راشي ژوندے شي

راقم

په دې شعر کښې "مسکا" او "ساه" "پسرلے" او "ژوندے" قافیې

دي او د دوارو تر مینځه "راشي" ردیف دے۔



www.pukhto.net

# صنعت قلب

په کلام کښې داسې الفاظ راوړل چې د حرفونو د ترتیب په اعتبار د مخصوص قسم نه وي هغې ته صنعت قلب وئیلے شي۔ د دې درې قسمونه دي۔

## ۱۔ قلب کل

په شعر کښې داسې لفظونه راوړل چې حرفونه ئې یو شان وي خو د هر یو لفظ د حرفونو ترتیب په ترتیب سره د بل نه اپوټه وي لکه "مرد" او "درم" داسې صنعت ته قلب کل وئیلے شي۔ په شعر کښې ئې مثال داسې دے ــــ

په سپین رخسار ئې زلفې داسې نبلي
لکه په گنج د ښامارانو جنگ وي

راقم

په دې شعر کښې "گنج" داسې ټکے دے چې اپوټه ولیکلے شي نو "جنگ" شي۔ دغه شان "جنگ" چې اپوټه ولیکلے شي نو "گنج" ترې جوړ شي۔



www.pukhto.net

## ۲- قلب بعض

په کلام کښې داسې دوه تکې راوړل چې حرفونه ئې يو شان وي خو ديو د حروفو ترتيب د بل نه په بې ترتيبه ډول اړونه وي لکه رقابت او قرابت- په شعر کښې ئې مثال داسې دے---

علم وکړې هيڅ عمل ورباندې نه کړې

لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړې

رحمان بابا

په دې شعر کښې "علم" او "عمل" کښې حروف يو هومره دي خو ديو بل نه په بې ترتيبه ډول بدل دي او لکه د قلب کل په شان نه دي-

## ۳- قلب مستوی

په کلام کښې داسې تکی راوړل چې د دواړو ډډو نه يو شان لوستے شی لکه درد، کاواک، نادان- دې ته قلب مستوی وئيلے شی- په شعر کښې ئې مثال داسې دے---

ماته د ځوانۍ خبرې مه کوه همدمه

مه رايادوه راته چې دا قصه زړه ده

حمزه بابا

په دې شعر کښې "همدمه" داسې تکے دے چې د دواړو ډډو نه يو شان لوستے شي-



www.pukhto.net

# صنعت اشتقاق

په کلام یا شعر کښې داسې لفظونه راوړل چې یو مصدر سره تعلق لری لکه "راشه . راشی" د دې دواړو مصدر "راتلل" دے - په شعر کښې ئې مثال داسې دے---

مه درومه که دروې روح مې درومی له بشره
راشه چې مې راشی تللې عقل بیا بیا تر سره

علی خان

په دې شعر کښې "راشه" او "راشی" د یو مصدر سره تعلق لری-

# صنعت قول بالموجب

په شعر یا په کلام کښې یو ټکے د خپلې اصلی معنې نه اړولو او په بله معنیٰ کښې استعمالولو ته وئیلے شی- لکه په دې شعر کښې---

خلقو خو به وې چې پټ په فعل کښې ضمیر وی
ما فعل جفا ولید محرگند ستا په ضمیر کښې

علی خان

په دې شعر کښې د دوېمې ضمیر نه اسم ضمیر مراد دے او نحوی اصطلاح نه - په پښتو یا اردو کښې ضمیر پټ نشته هر چرته چې راوړې شی



www.pukhto.net

نو محر گند راورلې شی- خو د عربی نحو په اصطلاح کښې په فعل غائب
کښې فاعل ضمیر وی لکه فَعَلَ (هغهٔ کار وکړو) دا "هغهٔ" کوم چې اوس په
معنیٰ کښې محر گند کړې شو په فَعَلَ کښې پټ وی - په دویمه مصرعه کښې د
ضمیر نه مراد زړه دے - شاعر داونیل غواړی چې خلقو خو به وې چې په
فعل کښې ضمیر پټ وی او دا یو عام اصول دی خو ما دهغې برعکس ستا په
ضمیر کښې د جفا فعل ولیدو - په دې شعر کښې یوه خاص خبره دا اصلی
معنې په خاې په دویمه معنیٰ کښې اخستے شوے ده - داسې صنعت ته قول
بالموجب ونیلے شی-



Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

# صنعت شبه اشتقاق

کله کله شاعران په خپل کلام کښې داسې لفظونه هم راوړي چې ظاهراً د يو مصدر نه وتي ښکاري خو په حقيقت کښې داسې نه وي- داسې صنعت ته شبه اشتقاق وئيلے شي- په شعر کښې ئې مثال داسې دے--

تيرے ظلمونه، ناتارونه او تيارې ترهيږي
چې تاترې ځنې تاتار ته خطره پيښه ده

قلندر مومند

په دې شعر کښې په ظاهره داسې ښکاري چې "تيرے"، تيارې او ترهيږي د يو مصدر سره تعلق لرونکي وي حالانکې داسې نه ده- دغه رنګ تاترې او تاتار هم بيل بيل تکي دي خو ظاهراً داسې ښکاري لکه چې مصدر ئې يو وي- يا لکه په دې شعرونو کښې هم داسې شوي دي-

چې ګونجې مونجې دے د ګنج په سر ځوکې ورکوي
نن د مهرانو دغه مار ته خطره پيښه ده

د چا په سر چې په ناچارو باندې چارې وشوې
اوس له نادارو هغه دار ته خطره پيښه ده

قلندر مومند

په دې شعرونو کښې "ګونجې"، "ګنج"، "مهرانو"، "مار"، "ناچارو"، "چارې" او "ناداره او دار" دغسې الفاظ دي-



www.pukhto.net

# صنعت تاریخ

په کلام یا په شعر کښې داسې الفاظ راوړل چې د هغې نه یو مقرره تاریخ او عدد معلومیږي۔ هغې ته صنعت تاریخ وئیلے شي۔ او هغه مخصوص مصرعه یا لفظونه چې تاریخ او عدد ترې راووځي هغې ته مادهٔ تاریخ وئیلے شي۔ د دې څو قسمونه دي چې دلته ذکر کولے شي۔

## ۱۔ تاریخ کامل

د دې هم دوه قسمونه دي یو هغه چې بغیر د څه کمي زیاتي نه ترې تاریخ راووځي او بل هغه چې په کښې څه کمے زیاتے وي او ویونکے ئې بل څه لفظ ته په اشاره کولو سره پوره کوي۔ د تاریخ کامل مثال په شعر کښې داسې دے۔

ایمل خان بابا پټکے له سره کوز کړو

په سلګو کښې ئې کړه چغه چې "افغان مړی"

قلندر مومند

په دې شعر کښې د "افغان مړی" نه د ابجدو په حساب ۱۳۸۲ هجري کال راووځي کوم چې د کاکا جي صنوبر حسین د وفات تاریخ دے او د ویونکي مقصود دے۔



www.pukhto.net

## ۲۔ تاریخ به تخرجه

دابجدو په حساب حاصل شوے داسې تاریخ چې دهغه تاریخ نه زیات وی کوم چې ویونکے بیانول غواړی په داسې صورت کښې شاعر بل یو لفظ ته اشاره کوی او دهغۀ دلرې کولو سره هغه زیاتے کموی۔ لکه په دې شعر کښې عبدالقادر خان خټک یو تاریخ وئیلے دے۔۔

سن دهجر غین او قاف وۀ

اتۀ کم د پاسه کاف وۀ

چې تمام شۀ دا کتاب

والله اعلم بالصواب

خوشحال بابا

په دې شعر کښې د یوسف زلیخا د لیکلو کال ۱۱۱۲ هجری بیان شوے دے۔ یعني د "غین" عدد یو زر او د "قاف" عدد یو سل او "کاف" چې عددې شل دے، نو ۱۱۲۰ ترې جوړیږی خو وروسې ئې اتۀ کم د پاسه "کاف" وئیلے دے او د "کاف" نه چې اتۀ کم شی نو دولس شی۔ او د شاعر مطلب هم ۱۱۱۲ هجری دے۔

## ۳۔ تاریخ توشیح

هر کله چې د ګڼو شعرونو د ټولو مصرعو یا دوړومبنو مصرعو دسر د حروفو د عددونو د مجموعې نه تاریخ راووځی نو هغې ته تاریخ



www.pukhto.net

توشیح ونیلے شی- لکه د زبیر حسرت دا شعرونه--

تاریخ گوني مې د خوشحال و لیکله

یقین مې راغے چې محهٔ لیکلے شمه

غم دې هیڅ نه کړی اعدا زما دړبې

هغه به وایم چې محهٔ ونیلے شمه

په دې شعرونو کښې د مصرعو د سر حروف دا سې دی "ت"."ی"

غ" او "ه" تیغه ترې جوړیږی چې په ابجدی حساب ترې ۱۴۱۵ هجری کال

راووخی - محلور سوه د "ت" لس د "ی" زر د "غ "او پینځهٔ د "ه" عددونه

چې جمع شی نو ۱۴۱۵ شی-

## ٤- تاریخ به تکمله

. د مادهٔ تاریخ نه حاصل شوے عدد کله کله د هغې عدد نه کم وی کوم

چې شاعر بیانول غواړی - خکه نو شاعر د دغې کمی د پوره کولو دپاره بل

یو لفظ ته اشاره کوی او د هغې په مدد دغه تاریخ پوره کوی - لکه علی خان

چې د محمدی صاحبزاده د وفات تاریخ و نیلے دے نو هغه هم دے قسم سره

تعلق لری - دغه تاریخ محهٔ په دې ډول دے---

سن د هجر غر وهٔ سر د کانی ترې کمتر وهٔ

ورخ وه دیار لسمه د ذوالحجې په تحریر کښې

علی خان

په دې شعر کښې هغهٔ سن "غر" یاد کړے دے چې د ابجدو په حساب



www.pukhto.net

۱۲۰ جوړېږي خو داې هم ورپسې ونيلي دي چې "سر د کلني ترې کمتر وه" مطلب دا چې دا غر د کلني د سر هومره دسن نه کم دے۔ په دې حساب ۱۲۲۰ هجري جوړېږي او ۱۲۲۰ هجرې ٥ محمدي صاحبزاده د وفات کال دے۔ د ابجدو د عددونو يو نقشه لاندې درج کولے شي۔

| حرف | عدد | حرف | عدد |
|---|---|---|---|
| ا | ۱ | ب-پ | ۲ |
| ج-چ-ځ-څ | ۳ | د-ډ | ٤ |
| ه-ۀ-ة | ٥ | و | ٦ |
| ز-ژ | ۷ | ح | ۸ |
| ط | ۹ | ی | ۱۰ |
| ک-ګ | ۲۰ | ل | ۳۰ |
| م | ٤۰ | ن | ٥۰ |
| س | ٦۰ | ع | ۷۰ |
| ف | ۸۰ | ص | ۹۰ |
| ق | ۱۰۰ | ر-ړ | ۲۰۰ |
| ش-ښ | ۳۰۰ | ت-ټ | ٤۰۰ |
| ث | ٥۰۰ | خ | ٦۰۰ |
| ذ | ۷۰۰ | ض | ۸۰۰ |
| ظ | ۹۰۰ | غ | ۱۰۰۰ |



www.pukhto.net

# سیاق الاعداد

کله کله په کلام یا شعر کښې د عددونو ذکر کولے شی - دا هم یو شعری صنعت دے او سیاق الاعداد ورته وئیلے شی - مثال ئې داسې دے۔

کۀ سل زر کاله ئې تیر شی په اوبو کښې
په نرمۍ به نرمه نۀ شی وچه تراره

رحمان بابا

کۀ بې وفاشو خیر دے هیر به ئې کړم
درې ورځې ژوند دے اخر تیر به ئې کړم

قلندر مومند

په دې شعرونو کښې "زر" او "سل" او "درې" عددونه دی۔

# صنعت تلمیح

په شعر کښې د دوۀ ژبو استعمالولو ته صنعت تلمیع وئیلے شی۔ کۀ چرې د دوۀ نه زیاتے ژبې استعمال شی نو هغې ته صنعت ملمع وئیلے شی۔ د صنعت تلمیع مثال په شعر کښې داسې دے۔

علی خانه چې مع العسر یسرا الولم
زړۀ په دا به بنۀ کوم ولې تر کومه

علی خان



www.pukhto.net

په دې شعر کښې "مع العسر يسرا" د سورة انشراح نه اخستے شوی دی او عربی ده - دې صنعت ته ذواللغتين او ذوا لسانين هم ونيلے شي - يا لکه د علی خان دا شعر چې--

وابتغوا اليه الوسيلة رایاد کړه

راشهٔ علی خانه ورله ګوره وسيلې

علی خان

# صنعت توشيح

چې د شعرونو يا د مصرعو د سر له حروفو نه څه خاص نوم راووځی- داسې صنعت ته توشيح ونيلے شي- مثال ئې دا دے--

جدائی به مې ستا تا وُ شی له ګردن نه

ستا د زلفو د ول ول نه معلومیږی

اسویلو مې تاثير وکړو ستا په سر کښې

ستا د تور سوی او ربل نه معلومیږی

نوم نشان که د جانان در نه څوک غواړی

سيد اکرمه ستا غزل نه معلومیږی

سيد اکرم

له دې دريوڼو وارو شعرونو نه چې د سر حرفونه واخستے شی نو "جان" ترې جوړ شی کوم چې د شاعر مقصود دے۔



www.pukhto.net

# صنعت ترافق

داسې محلور مصرعې چې که ترتيب ئې بدل هم شی نو څه فرق پرې نه پريوځی- لکه د قلندر مومند ديو نظم دا محلور مصرعې---

د سرو گلو مملکت کښې تاجداری چې د خار وينم

د گلاب په هره څانگه چې گلونه په دار وينم

پسرلی کښې بلبلان چې ارمانی د چغار وينم

چې لوټ شوے گلشن وينم تالاشوے گلزار وينم

قلندر مومند

# صنعت مربع

داسې دوه شعرونه يا محلور مصرعې چې د ښی طرف نه هم او د بره ددې نه هم يو شان لوستے شی او هيڅ فرق پرې نه پريوځی- داسې صنعت ته مربع وئيلے شی- لکه دا محلور مصرعې چې دی---

| | | | |
|---|---|---|---|
| ديار | له غمه | په زړه | افگار يم |
| له غمه | څه وايم | دردمند يم | خوار يم |
| په زړه | دردمند يم | هر گور | بيمار يم |
| افگار يم | خوار يم | بيمار يم | زار يم |

عبدالقادر خان خټک



www.pukhto.net

دا علور وارہ مصرعې په داسې شکل کښې لیکلے شوے دي چې

شپارس مربعې دي سمې هم لوستے شي او د بره نه په ښکته هم هغسې

سمې لوستے شي - هیڅ قسمه فرق په کښې نه راځي -

# صنعت تکرار

په کلام کښې داسې کیږي چې د شعر په اخره کښې داسې یو ټکے

راوړلے شي چې په حقیقت کښې ځان له یو جدا ټکے وي او خپله مستقله

معنیٰ لري خو داسې ښکاري لکه چې د وړاندیني ټکي تکرار وي - داسې

صنعت ته تکرار وئیلے شي -

واعظان دې وعظ کوه په منبر بر

د ګناه په سیند ترما دي بتر تر

کامګار خان خټک

# تضمین

په کلام کښې د بل شاعر د کلام ځه برخه سره د حوالې یا اشارې سره

راوړلو ته تضمین وئیلے شي - که حواله یا اشاره په کښې نه وي نو هغه به



www.pukhto.net

تضمین نه وی بلکې سرقه به ګڼلې شي۔په دې شعر کښې تضمین داشارې سره

سره شوے دے۔۔

دغه قسمه غزل دے چې صاحب وے

له خاطره مې ارام او جمعیت لاړ

علی خان

په دې شعر کښې "له خاطره مې ارام او جمعیت لاړ" دبیاض دیو

غزل مصرعه ده او علی خان پرې تضمین کړے دے۔او بیاض ته ئې صاحب

ونیلی دی۔

## صنعت معمه

داسې کلام یا شعر چې په کښې معمه ونیلے شوے وی یا ئې دغه

تکو یا دیوې برخې نه څه نوم وغیره معلومیدے شي خوحل کول ئې سوچ

او فکر غواړی۔لکه د علی خان دا شعر۔۔۔

معمه مې ده او وه سوه داسم

لاهم کم دے که دوه واره ورله لام لاړ

علی خان د ابجدو په حساب ۷۶۱ جوړیږی۔ په دې شعر کښې ئې د

علی خان نه راورلو په ځائې داسې بیان کړے دے چې "د نوم معمه مې که اوو

سوو له دوه واره لام لاړ شي نو بیا هم کمه ده۔ د دوه واره لام نه شپیته عدد

راووځي څکه چې د یو لام ابجدی عدد دیرش دے او دغه شان بیا هم دیو کمے



www.pukhto.net

لرګ- دا قسمه معمې اکثر شاعرانو ونیلی دی- ولې کله کله د ضرورت تر مخه داسې شوے دی- لکه د علی خان دغه شعر چې ذکر شو دهغې غزل شعر دے چې غیر منقوطه دے او علی خان منقوط لفظ وۀ خکه نو هغوی په دغه طریقه خپل نوم په مقطع کښې راوړلے دے- د یونس یو معمه شعر چې په پښه خزانه کښې بغیر د حل کولو راوړلے شوےدے داسې دے--

محو چې نیم لبې نمک اخستے نه دے

د یونس نمکی اسم پرې حرام شه

یونس

دا معمه داسې حل کیږی چې د "لب" نه د ابجدو په حساب دوه دیرش جوړیږی او د "نمک" نه په دغه حساب یو سل او لس جوړیږی-نو "لب" یعنې دوه دیرش چې نیم کړی شی نو شپاړس شی او چې هر کله شپاړس دیو سل لسو سره جمع کړےشی نو یو سل او شپږویشت شی- او د "یونس" نه هم دابجدو په حساب یو سل شپږویشت جوړیږی- دغه رنګ د محمد رفیق په یو شعر کښې هم یوه معمه ده چې محترم زلمی هیواد مل صاحب د محمد رفیق د دیوان "دیوان شمس الفلک" د مرتب کولو په وخت بې د حل نه پرینیے ده او صرف د کلمن او سعفص په حقله ئې لیکلی دی چې دا د ابجدو داتو مصنوعی کلمو خنې دی -شعر دادے-

چې ادم داستغفار دیوه کړه بله

وۀ ئې موند د کلمن سره سعفص

محمد رفیق



www.pukhto.net

د "کلمن" او "سعفص" نه د ابجدو په حساب څلور سوه څلویښت جوړیږي۔ او د "التواب" (توبه قبلونکی) نه هم د ابجدو په حساب څلور سوه څلویښت جوړیږي۔ او د دې شعر چونکې په وړومبي مصرعه کښې لفظ استغفار راغلے دے څکه نو د معمې دغه حل لکه چې وشو بیخي درست دے۔

# صنعت تلمیح

په کلام یا شعر کښې زړې تاریخي واقعې ته اکثر شاعران اشاره کوي داسې صنعت ته صنعت تلمیح وئیلے شي۔ لکه په دې شعرونو کښې هم دغه صنعت استعمال شوے دے۔۔۔

چې په خوشحال په رنتنبور کښې وشوې
هغه کانې په ما لاهور کښې وشوې
د زړګي حرم مې خدایه ترې محفوظ کړې
چې یې سترګې ابرهه کاکل یې پیل شو
که مرحب د خیبر کوټ باندې نازیږي
زما هم د قلم څوکه ذوالفقار ده

قلندر مومندؒ

په دې شعرونو کښې په وړومبي شعر کښې د خوشحال بابا په رنتنبور کښې د بندي کیدو، په دویم شعر کښې د ابرهه په خانه کعبه د حملې



www.pukhto.net

او په دریم شعر کښې د خیبر غزا ته اشاره شوې ده۔

# صنعت تدبیج

په کلامؐ یا په شعرؐ کښې چې د مختلفو رنګونو ذکر شوې وي هغې ته صنعت تدبیج وئیلې شي۔ لکه په دې لاندینو شعرونو کښې هم دغه صنعت پکار راوستې شوې دې۔۔۔۔

احباب مې رنګ ته ګوري سپین او سور او زیړ او تور
دا څارې تل په ما کوي رنګریزې سترګې ستا
حمزه بابا

چې مې وو نیل خواني دې رنګینه د بودۍ ټال دې
د خندا نه تکه شنه شوه د حیا نه تکه سره شوه
قلندر مومند

# صنعت منقوطه

په کلام یا شعر کښې داسې الفاظ راوړل چې یو هم په کښې بې نقطو نه وي۔ لکه دا شعر۔۔

ښ ېښې شپې شي خنې پیښې
غیږ په غیږ شي شفت زیبنې
خوشحال بابا



www.pukhto.net

# صنعت غیر منقوطه

په کلام یا په شعر کښې داسې لفظونه راوړل چې ټول بې نقطو وی - لکه دا شعر چې دے---

دا امر د مرور لاړ له ما که درو ه
که دا حور وه د محمود دار السلام لاړ

علی خان

# صنعت براعة الطلب

په شعر یا په کلام کښې د یو محیز داسې غوښتل چې د وینا انداز ې د غوښتلو نه وی یعنې ظاهراً په کښې د چا نه سوال کول نه ښکاری او در حقیقت په هغې کښې د محئه محیز غوښتنه شوے وی - د شعر داسې صنعت ته براعة الطلب وئیلے شی - لکه د رحمت شاه سائل په دې شعر کښې د دغې صنعت استعمال شوے دے---

وعده دې سر وخوری بانې له خو اوس راشه کنه
شپه په وتو شوه رابنکاره شوه ریا تستر گې لگی

رحمت شاه سائل



Pukhto.Net
www.pukhto.net

# صنعت رد العجز

د دې صنعت دپاره پېنځه اصطلاګانې وضع کړې شوې دي چې څه په دې دول دي ---

۱۔ د ورومبی مصرعې ورومبی برخې ته صدر وائي۔

۲۔ د ورومبی مصرعې اخري برخې ته عروض وائي۔

۳۔ د دويمې مصرعې ورومبی برخې ته ابتدا. وائي۔

٤۔ د دويمې مصرعې اخري برخې ته عجز وائي۔

٥۔ د دوارو مصرعو مينځنو برخو ته حشو وائي۔

د دې اصطلاحګانو نه معلومېږي چې يو شعر په پېنځو برخو کښې ويشلے شوے دے۔ او د عجز نه علاوه هر شعر څلور برخې لري۔ د عجز لفظونه يعنې د شعر اخري لفظونه په باقي څلورو برخو کښې که په هره يوه برخه کښې استعمال شي نو هغې ته رد العجز ونيلے شي۔ دغه شان د رد العجز څلور قسمونه جوړېږي۔ چې څه په دې دول دي ---

۱۔ رد العجز على الصدر يعنې د عجز لفظونه په صدر کښې راوړل۔

۲۔ رد العجز على العروض يعنې د عجز لفظونه په عروض کښې راوړل۔



www.pukhto.net

۳- رد العجز علی الابتدا. یعنې د عجز لفظونه په ابتدا کښې راوړل-

٤- رد العجز علی الحشو یعنې د عجز لفظونه په حشو کښې راوړل-

د رد العجز په دې څلورو قسمونو کښې په هر یو قسم کښې د عجز د لفظونو استعمال په څلورو مختلفو طریقو سره کیږی لکه---

۱- د عجز لفظونه د تکرار په طور یعنې د شعر اخری لفظ چې په کومه معنیٰ او کوم شکل کښې د شعر په اخری برخه کښې استعمال شوے وی هم په هغه معنیٰ او هغه شکل کښې د شعر په ابتدائی برخو کښې استعمالول-

۲- د عجز لفظونه د تجنیس په طور کۀ د تجنیس هر قسم وی-

۳- د عجز لفظونه د اشتقاق په طور یعنې د شعر په وړومبو برخو کښې د عجز د لفظونو د مصدر سره تعلق لرونکی لفظونه استعمالول-

٤- د عجز لفظونه د شبه اشتقاق په طور یعنې د شعر په وړومبو برخو کښې د عجز هغه لفظونه راوړل چې ظاهراً د یو مصدر نه وتلی ښکاری او حقیقت کښې داسې نۀ وی -

## ۱- رد العجز علی الصدر

لکه چې اګاهو وونیلی شو دا رد العجز هغه قسم دے چې عجز په



www.pukhto.net

کښې د صدر په ځاۍ په مختلفو طریقو راوړے شي۔

الف۔ د تکرار په طور په دې شعر کښې ---

خزینه د سرو مهرانو د شاهانو
ستا د راز لرم په زړۀ کښې خزینه

خوشحال بابا

په دې شعر کښې "خزینه" په یو شکل او یوه معنیٰ په عجز کښې هم راوړلے شوے ده او په صدر کښې هم۔ یا لکه په دې شعر کښې ---

وریت لړمون مې ستا بیمارو سترګو هیر کۀ
زړۀ لو رماښ خو یادوي نور رنځوران وریت

علی خان

په دې شعر کښې "وریت" د عجز لفظ دے او په یو شکل او یوه معنیٰ کښې په صدر کښې هم راوړلے شوے دے۔

ب۔ د تجنیس په طور لکه په دې شعر کښې ----

خط دې زیب د زلفو هسې پژمرده کړو
لکه راشي په کفارو د اسلام خط

حمید بابا

په دې شعر کښې د "خط" لفظ په عجز او صدر دواړو کښې راوړلے شوے دے۔ یو خط د مکتوب په معنیٰ راغلے دے او د بل خط نه مراد د ږیرې خط دے۔



Pukhto.Net
www.pukhto.net

ج - د اشتقاق په طور لکه په دې شعر کښې ـــ

رابطه د یارۍ په څه زده هغه خلق

چې له ځایه په اسره که ارتباط

علي خان

په دې شعر کښې "رابطه" او "ارتباط" د یو مصدر سره تعلق

لرونکي توري دي -

د - د شبه اشتقاق په طور لکه داسې ...

زار په خان د دل ازار دے زه در خار شم

چرې نه وي چې بې شرعې څوک ازار شي

علي خان

## ۲- ردالعجز علی العروض

په دې کښې عجز د عروض په ځای په مختلفو طریقو سره راوړے

شي -

الف - د تکرار په طور لکه په دې شعر کښې ـــ

که و زلفو ته دې نه وے شان د مشکو

نرخ به چرته وے داسې گران د مشکو

علي خان

په دې شعر کښې "مشکو" لفظ په عجز او عروض دوارو کښې په



www.pukhto.net

یو شکل او یو معنیٰ راوړلے شوے دے۔

ب۔ د تجنیس په طور لکه په دې شعر کښې۔

چې مې ستا د مرګه واوریده هوسه

اوښکو پرې یو ینخ زما زړه له ګِل هوسه

علی خان

په دې شعر کښې یو "هوس" د یو سردار نوم دے او بل د نفسانی خواهش په معنیٰ کښې راوړلے شوے دے۔

ج۔ د اشتقاق په طور لکه په دې شعر کښې۔

چې یې لاس درباندې نه رسی تفریط که

خو چې ظن یې د زور وشی که افراط

علی خان

په دې شعر کښې په عجز کښې "افراط" او په عروض کښې "تفریط" راغلے دے او دواړه د یو مصدر سره تعلق لری۔

د۔ د شِبه اشتقاق په طور لکه په دې شعر کښې۔

که طالع مې مبارک بخت مې میمون وے

له فتنو د زمانې محه خو مامون وے

علی خان

په دې شعر کښې "میمون" او "مامون" داسې لفظونه دی چې ظاهراً د یو مصدر نه وتلی ښکاری خو په حقیقت کښې داسې نه ده۔



www.pukhto.net

# ۳۔ ردالعجز علی الابتداء

په دې کښې د عجز لفظونه په مخلورو طريقو سره په ابتدا، کښې
راورلے شی۔

الف۔ د تکرار په طور لکه داسې۔۔۔

کم فهمی ده چې کم فهمو ته وئیل کړه
فهمیده بویه چې واورې فهمیده گفت
علی خان

په دې شعر کښې د عجز لفظ "فهمیده" په ابتدا. کښې هم په هغه شکل او هغه معنیٰ راورلے شوے دے۔

ب۔ د تجنیس په طور لکه داسې۔۔

وخورم زه بې یاره کسی چې بی یاره کسی کسی
کسی هله مې پکار دی چې دیار کسی پرې کسم
علی خان

په دې شعر کښې د عجز لفظ "کسم" د کتلو په معنیٰ دے او ابتدا. کښې "کسی" د لیمو په معنیٰ دے ۔ او د تجنیس یو قسم دے۔

ج۔ د اشتقاق په طور لکه د علی خان دا شعر۔۔۔



www.pukhto.net

یو خلې دې و گورې زما ضعیف اختیار ته

بیا دې معترض په ما هلهٔ کړه اعتراض

په دې شعر کښې د عجز لفظ "معترض" دے او د ابتدا. لفظ "اعتراض" دے او دواړه د یو مصدر سره تعلق لري۔

د۔ د شبه اشتقاق په طور لکه داسې۔

دوه یاران سره تیر باسی لرې باسی

د رقیب په خلهٔ کښې بوې د تقریب نشته

علی خان

په دې شعر کښې د عجز لفظ "تقریب" او د ابتدا. لفظ "رقیب" دے. ظاهراً د یو مصدر نه وتلی ښکاري خو په حقیقت کښې داسې نهٔ دي۔

## ٤۔ رد العجز علی الحشو

په دې کښې د عجز لفظ په حشو کښې په مختلفو طریقو سره راوړے شي۔

الف۔ د تکرار په طور لکه داسې۔

په هغه محیز مینه بویه علی خانه

چې پرې کړے ده حضرت پیغمبر مینه

علی خان

په دې شعر کښې د عجز لفظ "مینه" په حشو کښې هم په هغه شکل او معنیٰ راوړلے شوے ده۔



www.pukhto.net

ب ـ د تجنیس په طور لکه داسې ---

عقل نقل طبعه درې واړه مې ملۀ دی

اعتراض شۀ پرې مدفوع بلکې مرفوع

علی خان

په دې شعر کښې د عجز لفظ "مرفوع" او په حشو کښې راوړلے شوے لفظ "مدفوع" دے او په دواړو کښې تجنیس دے۔

ج :ـ د اشتقاق په طور لکه داسې ---

بې له اوښکو مې په بل مخه یار خپل نۀ کړو

دا دانې مې میلمستیا د میلمانۀ کړې

علی خان

په دې شعر کښې په عجز کښې میلمانۀ او په حشو کښې میلمستیا لفظ راوړلے شوے دے۔ او دواړه د یو مصدر سره تعلق لري۔

د ـ د شبه اشتقاق په طور لکه داسې ---

یا زۀ په سودا د مینې نۀ پوهیم زیان شوم

یا خو په دنیا کښې اشنائی نۀ ده سودمنه

علی خان

په دې شعر کښې د عجز لفظ "سودمنه" او د حشو لفظ "سودا" ظاهر آ داسې ښکاری لکه چې د یو مصدر نه وی حالانکې داسې نۀ دی۔



www.pukhto.net

# صنعت لزوم ما لا یلزم

په کلام کښې د ښائست پیدا کولو یا د خپلې قادر الکلامۍ د ښکاره کولو دپاره کله کله شاعران یوه غیر ضروري پابندي اختیاروي - دا په ډیرو طریقو سره کیږي - داسې صنعت ته صنعت لزوم ما لا یلزم وئیلې شي - لکه د علی خان دا پوره غزل هم دغه صنعت لري -

قضا بند کړمه په لومه د فراق
راغله دا بلا له کومه د فراق

قند د وصل به یې زر کله شیرین که
حلق مې تریخ شه له زقومه د فراق

قضیې را باندې ډیرې دي راغلې
ولې سیاله ده معدومه د فراق

قیامت حشر خنکدن عذاب د قبر
کنایات دي له مفهومه د فراق

قصد مینې محه چې نوم به یې وانخست
که خبر وے څوک له نومه د فراق

قاصدان هم د یار هیچرې را نغله
چې سر پورته کړي سر ګومه د فراق



www.pukhto.net

قام قبیل پوښتم که طب یا نجوم گورم

نشته هیڅ چاره معلومه د فراق

قلم وچاوړ د کاغذ مخ په سیاهی تور که

چې نامه شوه پرې مرقومه د فراق

قینج و ناز دي علی خان له برمه پر نیست

عرض خو واوره له مظلومه د فراق

علی خان

په دې ټول غزل کښې چې نهه شعرونه لري دا التزام شوے دے چې هر شعر د "ق" نه شروع شوے دے او په "ق" ختم شوے دے - صنعت منقوطه او غیر منقوطه هم په دې صنعت کښې ګڼلے شي - خو ځنې عالمانو هغه خان له بیل صنعتونه ګڼلی دی - ځکه نو ما هم د هغې ذکر بیل کړے دے.

دغسې ډیرو شاعرانو د اسې کلامونه هم جوړ کړی دی چې شونډې پرې نه لګی - لکه د خوشحال بابا دا شعر چې ---

دادې خال د ورو څونه دے

دا د زړونو داغ لري

خوشحال بابا

له دې نه علاوه په پښتو کښې ډیرې د اسې چاربیتې او غزلې هم لیکلی شوی دی چې شونډې پرې نه لګی - او نورې هم ډیرې داسې پابندۍ دی چې شاعران یې خامخا په ځان لازموي - او رنګ رنګ تجربې پکښې کوی - خو غرض یې د خپلې فنکارۍ او قادر الکلامۍ ښیئنه وی -



www.pukhto.net

# صنعت سجع

په شعر یا جمله کښې داسې لفظونه راوړل چې اخري حرفونه ئې یو شان وی لکه تار، دلدار، روزگار، بیګار او داسې نور، د دې ټولو لفظونو اخری حرف یو دے۔ دې ته سجع وئیلے شی۔ دا په نثر کښې هم وی او په نظم کښې هم۔ خو د سجع دپاره ضروری نهٔ ده چې دغه لفظونه دې هم وزن هم وی۔ خو کهٔ هم وزن راشی نو ځهٔ بده خبره نهٔ ده۔ د سجع څو قسمونه دی۔

## ۱۔ ترصیع

چې کله په یو شعر کښې اکثر لفظونه یا ټول لفظونه په خپلو کښې هم سجع راوړے شی نو هغې ته ترصیع وئیلے شی۔ لکه په دې شعر کښې هم دغسې شوی دی۔

نائب دے د تقدیر زما تدبیر په مصلحت کښې
صائب دے زما فکر د هر امر په اساس

خوشحال بابا

یا لکه د رحمان بابا دا شعر چې:—

په حالت د عاشقانو نظر بویه
په زیارت د شهیدانو گزر بویه



www.pukhto.net

په ورومبي شعر کښې ثاتب او صاتب، تقدير او تکبير په خپلو کښې هم سجع هم دي او هم وزن هم - دغسې په دويم يعنې د رحمان بابا په شعر کښې حالت او زيارت، عاشقانو او شهيدانو په خپلو کښې هم وزن او هم سجع دي-

## ۲- تشطير

د سجع بل قسم ته تشطير وئيلے شي دا داسې وي چې د شعر په يوه مصرعه کښې د يوې سجع لفظونه او په بله مصرعه کښې د بلې سجع لفظونه راوړي شي لکه په دې شعر کښې--

سمن بره، قد عرعره، مو کمره، لب شکره

آهو چشمه، ځره خشمه، مهر ژنه، منقشه

خوشحال بابا

په دې شعر کښې په ورومبۍ مصرعه کښې سمن بره، قد عرعره، مو کمره، لب شکره د يوې سجع لفظونه دي او په بله مصرعه کښې آهو چشمه، ځره خشمه، د بلې سجع لفظونه دي-

## ۳- مطرف

د شعر د مصرعو په اخره کښې داسې لفظونه راوړل چې په قافيه کښې برابر وي خو هم وزن نه وي هغې ته سجع مطرف وئيلے شي لکه په دې شعر کښې--



www.pukhto.net

خدایه که زه تا ته تر دے کیږم په افلاس

زر مې کند په غاره کړه یو مات کچکول په لاس

خوشحال بابا

په دې شعر کښې "افلاس" او "لاس" داسې لفظونه دی چې هم قافیه دی خو هم وزن نه دی۔

## ٤۔ متوازی

چې د دوؤ مصرعو یا د دوؤ جملو اخری لفظونه په وزن، تعداداو روی کښې سره برابر وی هغې ته سجع متوازی ونیلے شی۔ لکه په دې شعر کښې دغسې شوی دی۔۔۔

که یو خلې مخ ښکاره کا له نقابه

د ښانست نامه به واخلې له افتابه

خوشحال بابا

په دې شعر کښې "نقابه" او "افتابه" داسې لفظونه دی چې په وزن، تعداداو روی کښې سره برابر دی۔

## ٥۔ مسمط

دا د سجع هغه قسم ته ونیلے شی چې په شعر کښې هر کله د قافیې نه اګاهو درې هم سجع لفظونه راوړې شی لکه د خوشحال بابا په دې شعرونو کښې۔۔۔



www.pukhto.net

هم ملنې شته هم عتاب شته هم تراخه تراوه ځواب شته
نه يې شمار نه يې حساب شته ځکه خوبنې ده په ديلن کښې
د خوشحال خاطر سوخته دے ستا په جور اموخته دے
درد و غم يې اندوخته دے هم دا درد يې بې درمان دے

خوشحال بابا

په دې شعرونو کښې په وړومبي شعر کښې د قافيې نه اګاهو عتاب ځواب او حساب د يوې سجع لفظونه راوړلې شوي دي- او په دويم شعر کښې سوخته، آموخته او اندوخته د يوې سجع لفظونه د قافيې نه اګاهو راغلي دي-



Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

# صنائع معنوی

## صنعت تضاد یا طباق

په کلام یا شعر کښې داسې لفظونه راوړل چې د یو بل ضد وی لکه خندا او ژړا، ژوند او مرګ، ورځ او شپه، داسې صنعت ته تضاد یا طباق وئیلے شی۔ په شعرونو کښې مثالونه۔۔۔

ستا مئین چې ستا په در وه سرنګون وه

خو چې دار ته رانزدے شو سربلند شو

----

ستا په کچه وعدو مې ولې اعتبار کولو

لار له شپه په پخیدو شوه تا به کله راتلے

----

په ماخوتورې وورېدې

چاوې چې سپینې وریځې زر ورېږی

قلندر مومند

په دې شعرونو کښې "سرنګون" او "سربلند"، "کچه" او "پوخ" او "تور" او "سپین" د یو بل متضاد لفظونه دی۔

## صنعت ایهام

په کلام یا په شعر کښې داسې خبره کول چې دوه معنې ترې اخستے شی یوه نزدے او بله لرې، او د شاعر مراد هم هغه لرې معنیٰ وی کومې ته چې ذهن زر نه رسی۔ یوې ته معنیٰ قریب او بلې ته معنیٰ بعید وائی۔ د دې



www.pukhto.net

دوه قسمونه دي يو ته مجرده ايهام او بل ته مرشحه ايهام وئيلے شي.

## مجرده ايهام

چې د قريبې معنې سره د تعلق لرونکی محيز بيان نه وی شوے نو هغې ته مجرده ايهام وئيلے شي. لکه په دې شعر کښې:

چې د زړه داور په سوز مې سمندر کړی
داسې ژوندزه په هر دم جاودان غوارم

سيد رسول رسا

په دې شعر کښې د سمندر نه بحر مراد نه دے بلکې هغه چينجے ترې مراد دے کوم چې په اور کښې پيدا کيږی دلته د قريبې معنې سره تعلق لرونکے محة محيز هم نه دے بيان شوے.

## مرشحه ايهام

چې په يو شعر کښې د قريبې معنې سره د تعلق لرونکی محيز بيان شوے وی هغې ته مرشحه ايهام وئيلے شي. لکه په دې شعر کښې:

يو زه ژوبل نه يم د خوبرويو په ابرويو
ډير به ئې په در کښې بې ابروئ ووينم زه

علي خان



www.pukhto.net

# صنعت لف و نشر

په کلام یا په شعر کښې د څو څیزونو د یو ځاې ذکر کولو نه پس داسې نور څهٔ څیزونه ذکر کول چې د وړومبنو سره تعلق او مناسبت لري- د شعر هغه برخه چې وړومبی څیزونه په کښې ذکر شوی وی هغې ته "لف" او دویمې برخې ته په کومه کښې چې د وړومبنو څیزونو سره مناسبت لرونکی څیزونه راوړلی شوی وی "نشر" وئیلے شي- د دې دوه قسمونه دي-

## ۱- لف و نشر مرتب

دا د لف و نشر هغه قسم دے چې وړومبے یو څو څیزونه ذکر شي او ورپسې د نورو څیزونو ذکر هم په هغه ترتیب وکړې شي- لکه په دې شعرونو کښې چې شوے دے---

وروځې چې ستا کړې ملګر تیا د ژبې
هم دې نشترې هم چړې خبرې
یو لاس په سینه ګوته په شونډو خورې زلفې
ګویا وائي ستا یم که چپ نهٔ شوې پریشانی ده

حمزه بابا

په دې شعرونو کښې په وړومبی شعر کښې د وروځو سره نشترې او د ژبې سره چړې یادې شوے دی- دغسې په دویم شعر کښې



www.pukhto.net

وروميے درې خبرې يعنې "لاس په سينه "، " گوته په شوندو " او" خورې زلفې" ذکر شوے دی او ورسره " دستا يم "، " که چپ نه شوې " او "پريشانی" ذکر شوے دے۔

## ۲۔ لف و نشر معکوس

دا هغه قسم ته ونيلے شی چې اول د څو څيزونو ذکر وشی او ورپسې د هغې سره د تعلق لرونکيو څيزونو ذکر د هغې نه په اپوټه ترتيب سره وکړې شی۔ لکه په دې شعر کښې هم دغسې شوی دی---

داشنا د زلفو څوکې نن په شوندو باندې څانگی
خار چې دا زهر مهره هم د مارانو په قبضه شوه
قلندر مومند

په دې شعر کښې د زلفو سره ماران او د شوندو سره زهر مهره ذکر شوے ده خو ترتيب ئې اپوټه دے۔

## ۳۔ لف و نشر غير مرتب

د لف و نشر هغه قسم چې په کښې لفظونه په ترتيب هم نه وی راوړلی شوی او د يو بل اپوټه هم نه وی راوړلی شوی يعنې نه مرتب وی او نه معکوس بلکې بې ترتيبه ذکر شوے وی داسې قسمه لف و نشر ته غير مرتب ونيلے شی۔ لکه په دې شعر کښې---

تورې زلفې، شنه خالونه، سره رخسار
شنه طوطيان دی، سره گلونه، تور ښامار
يونس


www.pukhto.net

په دې شعر کښې د تورو زلفو سره ښامار، د شنو خالونو سره شنه طوطيان او د سرو رخسارو سره مناسب سره ګلونه راوړلی شوی دی خو ښيخې بې ترتيبه دی۔

# صنعت عکس و تبديل

په کلام يا په شعر کښې چې لفظونه د يو ځای ذکر کولو نه پس هغه لفظونه هم په هغه شعر کښې اپوټه ترتيب سره دوباره راوړلو ته عکس و تبديل وئيلے شي - لکه د حمزه بابا په دې شعرونو کښې هم دغه صنعت پکاروله شوے دے —

څنګه وخت وو چې به دواړه په يو بل کښې ورکيدلے
شو ګيرې به وے په شپو کښې کله شپې په شوګيرو کښې
مينه کله حسن شي حسن کله مينه شي
کله چې زۀ ته ښکارم کله چې ته زۀ ښکارے

حمزه بابا

په وړومبی شعر کښې يو ځل "شوګيرې او شپې" ذکر شوی دی او دوباره "شپې او شوګيرې" راوړلے شوے دی۔ دغسې په دويم شعر کښې اول "مينه او حسن" راغلی دی بيا "حسن او مينه" او هم د دغه شعر په دويمه مصرعه کښې اول "زۀ او ته" او بيا "ته او زۀ" راوړلی شوی دی۔



www.pukhto.net

# صنعت تجاهل عارفانه

په کلام یا په شعر کښې یوه معلومه خبره د خوند او لطافت پیدا کولو دپاره داسې بیانول لکه چې ویونکے ترې بې خبره وی، یعنې داشنا محیز نه ځان نا اشنا کول داسې صنعت ته تجاهل عارفانه وئیلے شی۔ لکه په دې شعرونو کښې هم دغسې شوی دی---

دا مې فکر وه چې خیال دې ترې چاپیر شو
که چینار وه دا نګور خیله کښې ګیر شو
که زندان کښې مې زړه تنګ وه خو قفس وه
ګلستان کښې مې داولې زړګے تنګ دے
دا د چا دمینې تاو دے داد چا د هجران اور دے
چې ستی زما خیګر دے سوې لوې مې اینه ده
قلندر مومند

# صنعت التفات

د التفات لغوی معنیٰ د سترګو په ګوټ کښې د کتلو ده او په اصطلاح کښې هغه عبارت ته وئیلے شی چې په یو رنګ روان وی او بدل کړې شی۔ دا په څو قسمه وی لکه کله کلام د غائب په صیغه کښې روان وی او سملستی د متکلم صیغې ته واوړی۔ لکه د رحمان بابا په دې شعر کښې هم



www.pukhto.net

دغه صنعت پکار راوستے شوے دے ــــ

په رحمان دستا دلبو مې حرام دی

څو دخپلو وینو جام تاوان وڅ نه کړم

رحمان بابا

کله کله داسې هم وشی چې شاعر دخطاب نه کلام د تکلم صیغې ته

راوا ړوی لکه داسې ـــ

چې دمرګ خواری په خوا لرې رحمانه

لا پخوا تر دغه دمه ولې نۀ مرم

رحمان بابا

کله کلام د متکلم په صیغه روان وی او د غائب صیغې ته واوړی

لکه په دې شعر کښې چې شوی دی ـــ

کۀ هر څو له صبره آه و فریاد نۀ کړم

نۀ دے حال د علی خان غوندې غمژن پټ

علی خان

او کله کله کلام د خطاب نه د غائب صیغې ته راواوړی لکه داسې ـــ

یوه ورځ به دې غږ وشی علی خانه

چې فلانے هم لکه ګرد و غبار تیر شو

علی خان



www.pukhto.net

# صنعت جمع

په کلام یا په شعر کښې چې هر کله ګڼ څیزونه د یو حکم د لاندې راوستے شی هغې ته صنعت جمع وئیلے شی- لکه دا شعر---

شاعری، غم د وطن، مینې د ښکلیو
قلندره د بانړن غوندې بد نام کړی

قلندر مومند

په دې شعر کښې شاعری، غم د وطن او د ښکلیو مینه جمع کړے شوی دی او د بد نامۍ سبب ګرځولے شوی دی-

# صنعت تفریق

په کلام یا په شعر کښې د یو نوعیت دوه څیزونه بیا نول او بیا د هغې دوارو په مینځ کښې فرق راوستلو ته صنعت تفریق وئیلے شی- لکه په دې شعر کښې چې شوی دی---

یو یې موسیل دی شرمیل یې بل
دا ښه دی شک نشته خو دا دیر ښه دی

حمزه بابا

د حمزه بابا مرحوم په دې بره شعر کښې د محبوب د موسیدو او شرمیدو صفت شوے دے- او په موسیدو او شرمیدو کښې یې تفریق داسې



www.pukhto.net

کړے دے چې يو ته ئ ښۀ او بل ته ئ ډېر ښۀ ونيلی دی۔

## صنعت تقسيم

په کلام يا په شعر کښې څۀ څيزونه او د هغې مناسبات داسې ذکر کول چې د هر يو تعين شوے وی - چې د فلانی څيز تعلق فلانی څيز سره دے۔ لکه په دې شعر کښې---

داتاثير دې داوربل دے چې زۀ سوے لوغړن شوم
اننګو ته دې ګناه ده داخوانی مې چې لمبه شوه
قلندر مومند

په دې شعر کښې د اوربل سره سوے لوغړن او د اننګو سره لمبه کېدل متعين کړے شوی دی۔

## صنعت مراعاة النظير

په شعر کښې داسې لفظونه راوړل چې تضاد په کښې نۀ وی صرف مناسبت لرونکی او د يوې سلسلې وی - داسې صنعت ته مراعاة النظير ونيلے شی۔ لکه په دې شعر کښې دغه صنعت پکار ولے شوے دے--

بس يو عندليب مې همنوا شو ګنه هسې خو
مينه د ګلشن مې هر يو زاغ زغن ته پته ده
قلندر مومند



www.pukhto.net

په دې شعر کښې عندلیب، گلشن د یوې سلسلې نه دی او تضاد هم په کښې نشته- یا لکه په دې شعر کښې---

د صیاد د مخ سرخی دې یو په دوه کړه

اے بهاره نه د گل نه د بلبل شوې

قلندر مومند

په دې بره ذکر شوی شعر کښې بهار، گل او بلبل د یوې سلسلې سره تعلق لرونکی لفظونه دی او تضاد هم په کښې نشته-

## صنعت ایهام تضاد

په کلام یا په شعر کښې دوه داسې مفهومونه ذکر کول چې په حقیقت کښې په هغې کښې تضاد نه وی ولې د کلام د اسلوب په وجه په هغوی کښې یو قسم له تضاد محسوس کیږی لکه په دې شعر کښې هم دغه صنعت پکار ولے شوے دے---

یاد مې هغه وخت دے چې په شپه به سره ناست وو

شمعې به ژړا کړه صراحی به خندیدله

خوشحال بابا

په دې شعر کښې د شمعې په سوزیدو او د صراحی په کړ کړ کښې څهٔ تضاد نشته ولې شاعر د سوزیدو او کړ کړ په ځاے د ژړا او خندا په راوړلو سره په دې کښې ظاهر آ تضاد پیدا کړے دے-



www.pukhto.net

# صنعت ارسال المثل

په کلام یا په شعر کښې یو متل په خاص طریقه ذکر کولو ته ارسال المثل ونیلے شی لکه په دې شعرونو کښې---

خبرې سل او سرې یو واعظه
بې له الفته هر څه سر وخوړو

حمزه بابا

مینه میناتی غارو کښې چرته ده
ولې کټوری له زانو نه غوارې

قلندر مومند

# صنعت تعجب

په کلام یا په شعر کښې د خوند پیدا کولو دپاره په څه خبره تعجب ښکاره کولو ته صنعت تعجب ونیلے شی- لکه دا شعر---

داسې ئې څه دبې وسی اړې په سر ښخې دی
داسې سرې ستومانی ولې پښتانه وباسی

رحمت شاه سائل



Pukhto.Net
www.pukhto.net

# صنعت محتمل الضدين

داسې شعر یا کلام چې د هغې نه دوه مطلبونه راووځي او دواړه د یو بل برعکس وی لکه په دې شعر کښې--

لاس که د روزګاره سرے وباسی

ژوند کښې به څه لاره سرے وباسی

عبدالروف زاهد

د دې شعر نه دوه خبرې راووځي یو دا چې "سرے کار روزګار پرېږدی نو هغه به په ژوند کښې څه لاره وویستے شی "او دویم دا چې "که سرے د روزګار نه لاس وباسی یعنې روزګار پرېږدی نو په ژوند کښې به هیڅ لاره ونه ویستے شی-او دواړه مطلبونه د یو بل برعکس دی-

# صنعت مبالغه

په کلام یا په شعر کښې یو څیز وچتول یا دومره راغورخول چې د هغې هغه شان کیدل تقریباً ناممکنه وی- دا درې قسمه وی-

١- تبلیغ

یو څیز دومره وچتول یا راښکته کول چې په حقیقت کښې هغه شان نه وی - لیکن د عقل او عادت له مخه ئې کیدل ممکنه وی - لکه په دې شعر کښې--



www.pukhto.net

ته ازغی کړه زما او د ګل مینځ کښې

زۀ په لاره قلم نۀ ږدمه سینه ږدم

قلندر مومند

هر څو کۀ په سینه تګ یو غیر حقیقی خبره ده لیکن د عقل او عادت نه خلاف نۀ ده۔

## ۲۔ اغراق

یو څیز دومره وچتول یا دومره رابښکته کول چې عقلی طور خو امکان لری ولې واقعتاً ممکنه نۀ وی لکه په دې شعر کښې ـ ـ ـ ـ

دلیونو د جنون ذوق په خیر شه

تو له فضا له څولنو دکه ده

قلندر مومند

هر څو کۀ فضا له څولنو نه دکیدل ممکن نۀ دی خو عقلاً داسې کیدل ممکن دی یا لکه دا شعر ـ ـ

حمزه طوفان او داشنا په مخکښې

داسویلے خو لږ زغملے شۀ دے

حمزه بابا

اسویلے کۀ هر څومره دیر شی خو طوفان ترې نه جوړیږی خو عقلاً داسې ممکنه ده۔

## ۳۔ غلو

یو څیز دومره وچتول یا رابښکته کول چې نۀ عقلاً ممکنه وی او نه



www.pukhto.net

واقعاتي طور سره د کیدو امکان لري- دا قسمه مبالغه ښه نه شي ګڼلے- ځکه
چې دې سره خبره غیر فطري شي- لکه دا شعر----

و اسمان نه به د شعر زینې کیږدي
که حمید د غم له سره زنګون و کیښي

حمید بابا

اسمان ته د شعر زینې کیښودل عقلاً او واقعتاً ناممکنه خبره ده۔

# صنعت حسن تعلیل

په کلام یا په شعر کښې د څه صفت دپاره داسې سبب یا وجه پیدا کول چې حقیقت کښې ئې هغه وجه یا سبب نه وی ولې په کلام کښې د باریکۍ او خوند پیدا کولو دپاره داسې شوے وی- لکه دا شعر---

له دې خاوړو نه چې ګل زیږی خوشحاله
دا په دا چې تل وردرومی ماه جبینې

خوشحال بابا

په دې شعر کښې خوشحال بابا وائی چې له خاوړو نه ګلونه ځکه راټوکیږی چې ډیر ښکلی خلق په دې خاوړو کښې ښخیږی- حالانکې دا د ګلونو د پیدا کیدو سبب نه دے- یا لکه دا شعر چې---

روښانه ستورو ورله ستا د راتلو نخښه ورکړه
سپوږمۍ روانه وه تله وروشوه ته به کله راځے

قلندر مومند



www.pukhto.net

په دې شعر کښې د سپوږمۍ د ورو کېدلو کومه وجه چې شاعر ښئيلې ده هغه د هغې وجه نه ده.

## صنعت تنسيق الصفات

په کلام يا په شعر کښې د يو محبز ګڼې صفتونه بيانولو ته تنسيق الصفات وئيلې شي لکه په دې شعر کښې دغه صنعت پکار ولے شوے دے...

غټې سترګې، لوې بانه، فراخې وروځې

شکر لبې، ګل رخسارې، ماه جبينې

خوشحال بابا

په دې شعر کښې ټول صفتونه بيان شوي دي.

## صنعت استدلال

په کلام يا په شعر کښې خپله دعویٰ او مدعا په دليلونو سره وړاندې کولو ته صنعت استدلال وئيلے شي. لکه په دې شعر کښې هم دغه صنعت دے...

که دې مخ په زلفو پټ شو باک يې نشته

د حيات اوبه هم پټې په تورتم دي

رحمان بابا

په دې شعر کښې شاعر د محبوب مخ په زلفو کښې د پټېدو د پاره دا



www.pukhto.net

دلیل راوړے دے چې د حیات اوبه هم په تورتم کښې پټې دی نو که ستا مخ په

زلفو کښې پټ شو نو هیڅ باک نهٔ لری-

په زنځیر یم کهٔ په زلفو گرفتار یم

دا په دې دعوئ دلیل دے چې هوښیار یم

قلندر مومند

په دې شعر کښې په زنځیر او په زلفو د گرفتاریدو دلیل هوښیارتیا

ښتیلے شوے ده-

# صنعت مخاطبه

اکثر شاعران په کلام یا په شعر کښې خان ته مخاطبه کوی او دا

مخاطبه یوازې په مقطع کښې نهٔ کوی بلکې په مطلع کښې هم کیدے شی

لکه په دې شعر کښې چی مطلع ده-

قلندره چې دې زلفې خوښیدلې

خولنې دې په قسمت وې شرنگیدلې

قلندر مومند

# صنعت هجو ملیح

په کلام یا په شعر کښې ظاهر آ د چا محه بدی د ښهٔ والی په انداز کښې

بیانولو ته هجو ملیح وئیلے شی- داسې عموماً د طنز دپاره کولے شی لکه



www.pukhto.net

شوم سړی ته حاتم ونیل- په دې شعر کښې هجو ملیح ده---

گوره که ستا دخلې تاثیر مونږ ته توبه وبخښي
واعظه واخله ترې یو گوټ دبرکت دپاره

حمزه بابا

واعظ خلق د شرابو محښو نه منع کوي ولې شاعر ورته په داسې طریقه د شرابو محښو وائي چې ظاهراً بده خبره نه ښکاري- او یو قسم له طنز په واعظ باندې کوي-

# صنعت استخدام

په کلام یا په شعر کښې د یو لفظ دواړه معنو پکارولو ته صنعت استخدام ونیلې شي- لکه په دې شعر کښې هم دغه صنعت دے---

زه لگیا یم د چا غم خورم د چا غم لگیا دے ما خوري
یره غم عجیبه محیز دے په هر حال کښې خوراکي دے

قلندر مومند

په دې شعر کښې "خوراکي" لفظ په دوؤ معنو کښې استعمال شوے دے- یو هغه خوراکي کوم چې خوړے شي او بل هغه کوم چې خوړل کوي یو فاعل دے او بل مفعول دے- شاعر دا ونیل غواړي چې د چا غم خوراکي د ے، زه يې خورم او د چا غم خوړل کوي لگیا دے ما خوري-



www.pukhto.net

# صنعت ادماج

په کلام یا په شعر کښې داسې خبره کول چې په کښې د اصل مفهوم سره ضمناً بله معنیٰ هم پکار راوستے شوے وی- لکه دا شعر---

ستا دیدن راته د خپل وطن نظام شو

ورے ترے مې ساتی په خولنو کښې

رحمت شاه سائل

په دې شعر کښې د دیدن نه کولو یا د دیدن په وخت د مشکلاتو خبره ده او تشبیه یې ورله د خپل وطن د نظام سره ورکړے ده- اصل معنیٰ یې د محبوب د دیدن مشکلات بیانول دی خو دا معنیٰ هم په کښې ښکاری چې د وطن د نظام غندنه کوی-

# صنعت مزاوجه

په کلام یا په شعر کښې دوه داسې خبرې بیانول چې د یوې څه نتیجه وی د بلې هم هغه نتیجه وی- لکه دا متل چې "مثال یې د چرګ دے که ښې له یې نیسے نو هم تغیږی او که بدې له یې نیسے نو هم تغیږی" یعنې په دوارو حالتونو کښې نتیجه یوه ده- په شعر کښې یې مثال داسې دے---

نه له تا سره سهیږم نه بې تا

مبتلا دې کړم په څه بلا بتا



www.pukhto.net

کڼې وصل وی که هجر

دواړه وژلهٔ کړه یک بازه

حمید بابا

تګے تګے یم چې نه یې جل مې اخلی چې دې وینم

اخر ساه به رانه ووځی په دې تنده لیونۍ کښې

سعدالله جان برق

په دې ټولو شعرونو کښې هم دغسې شوی دی چې ددوو مختلفو کارونو نتیجې یو شان ښئیلے شوی دی۔

# صنعت تاکید

# المدح بما یشبه الذم

شاعران اکثر په خپلو شعرونو کښې د چا صفت او د چا غندنه کوی صفت ته مدحه او غندنې ته هجو وئیلے شی۔ هر کله چې په یو شعر کښې د چا مدحه په داسې طریقه شوے وی چې وی خو مدحه او انداز یې د هجو وی داسې صنعت ته صنعت تاکید المدح بما یشبه الذم وئیلے شی۔ لکه۔۔

په ښائست کښې یې تقصیر د صورت نشته

خو یو دا عیب لری چې په زړهٔ محنګ دے

خوشحال بابا



www.pukhto.net

زهٔ حمید واره پوچ گوې یم سر تر سره
بې له دې چې د خوبانو گفتگوې کړم
حمید بابا

راشه پرې کښینه زمانگاره
بیچاونه دستر گو در ته تیاره
یونس

په دې ورومبی شعر کښې په ورومبۍ مصرعه کښې تعریف شوے دے او ورپسې مصرعه کښې ئې یو عیب بیان شوے دے۔ ده مدحه خو انداز ئې د هجو دے۔ دغسې په دویم شعر کښې په ورومبۍ مصرعه کښې شاعر د خان بد واتی خو په ورپسې مصرعه کښې بیا خپل صفت کوی، په حقیقت کښې مدحه ده خو انداز ئې د هجو دے۔ دغسې په دریم شعر کښې ورومبے داسې ښکاری چې گنی دا محهٔ بده خبره یا کنځل دی خو په دویمه مصرعه کښې داسې خبره کوی چې خبره ورسره هوارېږی۔

# صنعت الذم بما یشبه المدح

په داسې طریقه په کلام یا په شعر کښې د چا بد وئیل چې ظاهراً تعریف او مدحه معلومېږی لکه په دې شعرونو کښې---


www.pukhto.net

ښه عادل بادشاه پیدا شه
اورنګ شاه د دین غم خور
خېل پلار تري په عدل
په فتوئ وژني خپل ورور

خوشحال بابا

په دې شعرونو کښې ظاهراً داسې ښکاري لکه چې تعریف وي خو درحقیقت دا هجو ده، صرف انداز ئې داسې دے چې ګومان پرې د مدحې کیږي۔

# صنعت براعة الاستهلال

د کلام په ابتدا کښې را روان مضمون ته په لطیف انداز کښې اشارې کولو ته براعة الاستهلال وئیلے شي۔ لکه خوشحال بابا د باز نامې شروع داسې کوي۔۔۔

خدایه ته په زړه کښې اچوې دا مینې
چې په ښکار دې مبتلا کړم ته مې وینې

خوشحال بابا

په دې شعر کښې د "ښکار" د لفظ راوړلو سره را روان مضمون یعنې د بازونو او ښکار ذکر ته اشاره شوې ده۔



www.pukhto.net

# صنعت رجوع

په کلام یا په شعر کښې د خپلې مدعا مضبوطولو او قوی کولو دپاره یوه خبره کول او بیا دهغې نه انکار کول او دهغې نه غوره خبره کولو ته صنعت رجوع وئیلے شی- لکه په دې شعرونو کښې---

ماوې ته جوړې سپوږمۍ یې

نه خطا شوم سپوږمۍ څه وی

دسپوږمۍ مخ کړېښې کړېښې

کله تا سره سمیږی

سیدرسول رسا

په دې شعرونو کښې اول خپل محبوب ته سپوږمۍ وئیلی شوی دی بیا دهغې نه انکار شوے دے او دا خبره یې کړے ده چې سپوږمۍ هدو تا سره سمیږی نه-- یا لکه د ایوب صابر مرحوم د هغه نظم یو څو مصرعې کوم چې هغه د مولانا عبدالقادر په مرګ وئیلے دے هم دا قسمه صنعت لری---

یو سړے وه

نه خطا شوم

اداره وه

انجمن وه

•

د پښتو جنده یې هسکه ګرځوله



www.pukhto.net

په پښتو او پښتنو باندې منين وه

يو استاذ وه نه خطا شوم

او دغسې په دې ټول نظم کښې ورله اول د يو محيز سره تشبيه ورکړې او بيا هغه خبره د "نه خطا شوم" په ذريعه رد کړې او د هغې نه بنه خبره کوې-

# صنعت ارصاد

په شعر کښې د قافيې نه اګاهو د اسې لفظ راوړل چې د هغې نه هغې شعر د قافيې پته لګيدے شي خو په دې شرط چې دا معلومه وي چې قافيه څه ده. لکه په دې شعر کښې هم دغه صنعت دے---

راشه د زلفو سائبان راخور کړه

د وخت ميره له سرو غرمو دکه ده

قلندر مومند

په دې شعر کښې د سائبان راخورولو نه پته لګي چې راروانه قافيه به غرمو وي- يا لکه دا شعر چې---

خپله څهره به هم ونه پيژنم

کۀ د خلوص آئينه زنګ واخلي

اکرام الله ګران

په دې شعر کښې هم کۀ د غزل قافيه معلومه وي نو د څهرې د نۀ پيژندلو نه ښکاره کيږي چې قافيه به زنګ وي-



www.pukhto.net

# دریمه برخه

## ادبي صنفونه

## د نظم صنفونه



Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

# حمد

د حمد معنیٰ د الله تعالیٰ تعریف دے او په اصطلاح کښې هغه شعري تخلیق ته وئیلے شي چې په کښې د الله تعالیٰ د صفاتو، د هغهٔ د عظمتونو او قدرتونو ذکر پرله پسې شوے وي۔ د حمد خپل ځانله مخصوص هیئت نشته په هر شعري صنف کښې لیکلے شي۔ شناخت ئې د موضوع نه کیدے شي۔ د حمد دپاره ژبه پاکه الفاظ ښکلي او د بلاغت نه ډک پکار دي۔ په حمد کښې خپله عاجزي او د خدای پاک لویي بیانولے شي او د خپلو ګناهونو د بخښنې دپاره په کښې خواست کولے شي۔ پښتو شاعرانو به د دیوان شروع د حمد نه کوله وروسته به نعت وهٔ او بیا به نور کلام وو۔ د رحمان بابا یو حمد چې د غزل په هیئت کښې لیکلے شوے دے دا څو شعرونه وګورئ۔۔۔

ګوره هسې کردګار دے رب زما
چې صاحب د کل اختیار دے رب زما

همګی بزرګواران چې څوک ئې وائي
تر همو بزرګوار دے رب زما

نه ئې هیڅ حاجت په چا باندې موقوف دے
نه د هیچا منت بار دے رب زما

له نیستۍ ئې د هستۍ صورت پیدا کړو
هسې رنګ پروردګار دے رب زما



www.pukhto.net

# مناجات

لغوی معنیٰ ئې د راز و نیاز خبرې کول دی او په اصطلاح کښې د الله پاک نه خواست کولو ته ونیلے شی - مناجات هم لکه د حمد خپل څۀ شعری هینت نۀ لری او نۀ د ادب یو باقاعده صنف دے - شناخت ئې صرف له موضوع نه کیدے شی - د ا هغه شعری تخلیق وی چې شاعر په کښې د الله تعالیٰ نه دعا غواړی - مناجات خان له جدا هم لیکلے شی او د نظم، مثنوی یا بل یو شعری تخلیق برخه هم کیدے شی لکه رحمان بابا چې د یو غزل په مقطع کښې وائی--

الٰهی د خپل حبیب له برکته

د ا ساده انشا. رنګینه د رحمان کړې

کاظم خان شیدا چې د مثنوی په شکل کښې .کوم مناجات لیکلے دے د هغې یو څو شعرونه وګورئ--

الٰهی د مینی درد را

ګرم دل آهو نه سرد را

زرۀ په شان د غنچې راکړه

آتشی زما مینا کړه

خلاص کړه ما له بې دردیه

له دې هسې دل سردیه



Pukhto.Net

www.pukhto.net

دغه شان د عبدالحميد بابا يو مناجات چې د غزل په هيئت کښې ليکلے شوے دے يو څو شعرونه وګورئ—

الٰهي د محبت سوز و ګداز را

په دا اور کښې د ستې سمندر ساز را

تن پرور بلبل دې عيش کاندې په ګلو

پروانه لره په اور زما ګداز را

د حميد محمود ده رانشه په خپله

کمينې لره کمال زما اياز را

دغسې د علي خان يو مناجات چې د مخمس په هيئت کښې دے په دې ډول دے—

اے فتاحه هم غني بر توابه

هم قدوسه هم باري رب الاربابه

هم سلام ئې هم بخښونکے ئې وهابه

که مې وساتې له شره دهر بابه

د سرور په روځ مې خلاص کړې له عذابه



www.pukhto.net

# نعت

تعریف او توصیف بیانولو ته نعت ونیلے شی - په اصطلاح کښې
هغه شعری تخلیق چې په کښې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ذات،
صفاتو بیان او توګ ارخیزه مدحه شوے وی هغې ته نعت ونیلے شی- د
موضوع د وسعت په وجه د نعت څۀ مخصوص هیئت نشته شناخت ئې د
موضوع نه کیدے شی- زړو شاعرانو به په خپلو دیوانونو کښې د حمد نه
پس نعت خامخا لیکلو تر دې چې هغوی به نعتونه او حمدونه د مسدس او
مخمس په شکل کښې هم لیکل لکه نن سبا چې په پابند نظمونو او ازادو
نظمونو کښې لیکلے شی- د نعت لیکل ډیر علمی کار دے ډیر علمیت غواړی
لکه چې رحمان بابا وائی---

خدائ ئې مۀ ګڼه بیشکه چې بنده دے
نور ئې کل واړه صفات دی په ربتیا

د کاظم خان شیدا دیو نعت چې د مثنوی په هیئت کښې لیکلے شوے دے-
څو شعرونه د نمونې دپاره وګورئ---

اے په فرق د ادم تاجه
د تمام عالم سراجه
ته د هر نعت لائق ئې
بی نظیر د خلائق ئې



www.pukhto.net

چې نظیر نه لري خکه

ستا سایه نه وه په زمکه

چې سبب د افلاک ته يې

مخاطب په لولاک ته يې

ته سید د مرسلین يې

رحمة اللعالمین يې

دغسې د علي خان يو نعت چې د مربع په هیئت کښې لیکلے

شوے دے مخه په دې ډول دے...

اے په حق د حق رهبره

لاس د رب د پاره راکره

هم تر کل مخلوقات غوره

لاس د رب د پاره راکره

اے نبي پاکه مرسله

په مرسلو کښې افضله

هم اخره هم اوله

لاس د رب د پاره راکره



www.pukhto.net

# منقبت

هغه شعری تخلیق چې په کښې د صحابه کرامو، صوفیانو بزرګانو او نیکو خلقو مدحه او صفت شوے وی هغې ته منقبت ونیلے شی- لکه د حمد او نعت ئې مخصوص هیئت نشته شناخت ئې له موضوع نه کیدے شی- تراوسه منقبتونه په مختلفو هیئتونو کښې لیکلی شوی دی- د کاظم خان شیدا په خلیفه اول حضرت ابوبکر صدیق رضی الله تعالیٰ عنه باندې د لیکلی شوی یو منقبت محو شعرونه وګورئ-

اوس ممدوح زما صدیق دے

چې فطرت ئې د تصدیق دے

بل سرور د صحابه دے

دے بهتر د صحابه دے

په زمره د صادقین کښې

په کافه د سابقین کښې

لکه صبح صادق تر دے

د سبق درخشان نمر دے

که سخاې له خاطره

ذره قدر شی ظاهره



www.pukhto.net

# مسمط

مسمط د عربۍ تکے دے معنیٰ یې ملغرلې پئیل یا خوارۀ وارۀ اجزا، په ترتیب سره راجمع کول دی - او په ادبی اصطلاح کښې هغه شعری تخلیق ته وئیلے شی چې د هیئت په اعتبار په مختلفو بندونو مشتمل وی- په بندونو کښې د مصرعو تعداد مختلف کیدے شی خو چې په وړومبی بند کښې څومره مصرعې وی په نورو بندونو کښې به هم هغه هومره مصرعې وی- د مسمط اتۀ قسمونه دی چې دلته په ترتیب سره بیانولے شی--

## ۱- مثلث

مثلث د عربۍ د ثلاثه نه جوړ دے دریوو ته وائی -دا د مسمط هغه قسم دے چې د وړومبی بند مصرعې یې درې وی او په یوه قافیه او ردیف کښې وی او وروسته د نورو بندونو دوه مصرعې په بله قافیه کښې او دریمه مصرعه د وړومبی بند هم قافیه او هم ردیف وی- خو د اسې دیر مثلث نظمونه هم لیکلی شوی دی چې قافیانی نظام یې د دې قاعدې نه مختلف دے- نو کۀ قافیانی نظام د یو نظم هر څنګه وی خو چې هر بند یې درې مصرعې لری هغې ته مثلث وئیلے شی لکه د ایوب صابر مرحوم دا یو مثلث نظم--

محبوبې اوس د دار خبرې کوه
د میرنتوب د کار خبرې کوه



www.pukhto.net

محبوبې بس دے مینه دیره وشوه.

خان به اوس هیر کړو خان جهان خو نه وی

خان چې جهان ګڼی انسان خو نه وی

محبوبې بس دے مینه دیره وشوه

## ۲- مربع

دعربۍ د ربع نه جوړ دے څلورو ته وائی - دا د مسمط هغه قسم دے چې قافیانی نظام ئې هر څنګه وی خو چې د هر بند د مصرعو تعداد ئې څلور وی نو هغې ته مربع وئیلے شی - لکه د خوشحال بابا دیو مربع نظم یو دوه بنده وګورئ---

دشهئ تورو سنبلو

په سپین مخ ئې تسلسلو

پرې غوغا کاندې بلبلو

تل به وخت نه وی د ګلو

له ما ګرځی دوره دوره

نظر نه کاله غروره

نور که مری په تیره توره

زه ئې مرم په تغافلو

## ۳- مخمس

دعربۍ د خمس نه جوړ دے پینځو ته وائی -دا د مسمط هغه قسم



www.pukhto.net

دے چې د هر بند مصرعې ئې پينځه پينځه وي خو داسې مخمس نظمونه هم ليکلی شوی دی چې د ورومبی بند پينځه واړه مصرعې ئې په خپلو کښې هم قافيه او هم رديف وي يا صرف هم قافيه وي او د نورو بندونو ورومبی څلور مصرعې په بله قافيه رديف کښې او پينځمه مصرعه ئې د ورومبی بند هم قافيه او هم رديف وي لکه د رحمان بابا د يو مخمس نظم دا دوه بندونه وګورئ---

هغه يار چې ښانسته دے تر آفتابه
مخ به کله را ښکاره کړي له حجابه
بيلتانه په زړه زهير کړم بې حسابه
يو سبب وکړې مسبب الاسبابه
چې زما ملاقات وشي له احبابه

ملاقات د ښانستو مې نصيب کړې
دښانست په ګلستان مې عندليب کړې
عندليب مې په ګلشن د خپل حبيب کړې
خدايه ما په دلبرانو کښې قريب کړې
وه مې ژغورې د دې اهل له عتابه

د دې نه علاوه ګڼ قسمه مخمس نظمونه ليکلے شوی دی چې قافيانی نظام ئې د ذکر شوے طريقې نه بدل وی خو هر هغه نظم[1] چې د هر بند د مصرعو تعداد ئې پينځه وی هغې ته مخمس وئيلے شی۔



www.pukhto.net

## ۴۔ مسدس

دعربی د سادس نه جوړ دے شپږو ته وائی ۔دا د مسمط هغه قسم دے چې د هر بند د مصرعو تعداد ئې شپږ وی او ټولې په یوه قافیه او ردیف کښې وی ۔ د بندونو د تعداد ئې څهٔ ټاکلے حد نشته لکه د خوشحال بابا د یو مسدس دا یو دوه بنده وګورئ ---

محبوبا پرې رخسارې
سر تر پایه قلم کارې
دوه دې سترګې دی کتارې
ټل په لاس تیرې کتارې
چې ئې وار وے بیمارې
خونریزی کاندې خونخوارې

دوه دې وروځې دی مهینې
دوه دې زلفې عنبرینې
دوه دې شوندې شکرینې
نازنینې ماه جبینې
سروې قدې تن سیمینې
جفا جوئې دل آزارې

بل قسم مسدس دا سې هم وی چې ورومبۍ څلور مصرعې ئې په یوه قافیه ردیف کښې او پینځمه او شپږمه مصرعه ئې په بله قافیه ردیف کښې وی۔ لکه دامیر حمزه خان شینواری مرحوم د یو مسدس نظم دا بند وګورئ---



www.pukhto.net

ګورې ګورې تورې زلفې بې ترتیبه راخورې وے
یا په سر د دې فقیرې د پښتون د بخت تیرې وے
څه د یو بل سره نختې څه ورې ورې ذرې وے
څه وے لندې څه وږدې وے د پښتون پرې جنبې وے
د ویښتو کمځې ئې نه وے څه برهمه پریشانی وه
پښتانه ویښته ئې ګڼ وو خو په دوئ کښې خان خانی وه

د دې نه علاوه داسې مسدس نظمونه هم لیکلے شوی دی چې قافیانی نظام ئې د دې دوارو طریقو نه بدل وی- نو هر هغه نظم چې هر بند ئې شپږ شپږ مصرعې لری که قافیانی نظام ئې هر څنګه وی هغې ته مسدس وئیلے شی۔

## ۵- مسبع

د عربی د سبع نه جوړ دے اووۀ ته وائی- دا د مسمط هغه قسم دے چې هر بند ئې اووۀ اووۀ مصرعې لری که قافیانی نظام ئې هر څنګه وی هغې ته مسبع وئیلے شی لکه د رحمان بابا د یو مسبع نظم دا بند وګورئ...

ستا جفا د حد په هور ته شوه صنمه
تل مې اوښې موج وهی د زړۀ له یمه
په کښې دوب شومه له سره تر قدمه
د زړۀ زخم مې محروم دے له مرهمه
څو به پټه واقعه اوسی پنهمه
هسې دوب په فکر تللې یم له غمه
نۀ پوهیږم چې په غر یم که په سمه



www.pukhto.net

کهٔ مې زده وے له دې هسې رنګ خواریه

ما به نوم اخستے نهٔ وهٔ د یاریه

خبر نهٔ وم د هجران له دلګیریه

صبر وکړم قناعت له ناچاریه

ستا د غم په دریاب دوب یم تر مریه

بې تا نهٔ لرم هیڅوک د دست ګیریه

مکر تهٔ پخپله لاس راکړې هم دمه

## ٦- مثمن

د عربۍ د ثمانیة نه جوړ دے اتو ته وائی - دا د مسمط هغه قسم دے چې هر بند ئې په اتو مصرعو مشتمل وی وړومبے بند ټول په یوهٔ قافیه او ردیف کښې وی او ورپسې بندونه داسې وی چې اووهٔ مصرعې په بله قافیه او ردیف کښې وی او اتمه مصرعه ئې د وړومبی بند هم قافیه او هم ردیف راوړے شی- خو دا اختیار شته دے چې قافیانی نظام ورله هر څنګه جوړوی خو شرط دا دے چې هر بند به ئې اتهٔ مصرعې وی- د محترم قلندر مومند ئې یو مثمن دا بند وګورئ---

وروره منه شکایت دې منم

چې خوشی تشی اشراف ولې لوټی

چې په روټی پسې القارې کوی

دغه کسان دې صراف ولې لوټی



www.pukhto.net

خو ولې دادې زړه کښې نه تيريږي

چې پنګه ور دې نداف ولې لوټي

څه دغه وړيو ته هم چل وښايه

د تنګ دستۍ خو چرته حل وښايه

## ۷- متسع

د عربۍ د تسع نه جوړ دے نهو ته وائي - متسع د مسمط هغه قسم ته وئيلے شي چې هر بند ئې نهه مصرعې لري او د مسمط د هيئت مطابق ئې د وړومبي بند نهه واړه مصرعې په خپلو کښې هم قافيه او هم رديف يا صرف هم قافيه وي او د نورو بندونو اته مصرعې ئې په بله قافيه رديف کښې او نهمه مصرعه ئې د وړومبي بند هم قافيه وي. شاعرانو د متسع استعمال ډير کم کړے دے. خو داسې متسع هم ليکلې شوې دي چې قافياني نظام ئې د دې طريقې نه بدل دے مطلب دا چې قافياني نظام ئې هر څنګه وي خو چې د بندونو د مصرعو تعداد ئې نهه نهه وي نو هغې ته متسع وئيلے شي. د محترم قلندر مومند ديو متسع نظم دا يو بند وګورئ...

د سندرو شهزادګۍ رانه خفه ده

رنګينۍ مې په غزلو کښې عنقادي

دا چې خيال ته مې راالوخې هغه ده

چې خورې ئې تورې زلفې په هوا دي

چې مستۍ ئې ګډې کړې په هر خوا دي



www.pukhto.net

چې له سهمه يې نکهت پريشانيږي
چې ګلشن کښې يې ګلونه په سوداده

دا سپوږمۍ ستورې چې غلې کيږي
د سندرو شهزادګۍ ته مې پسخيږي

## ۸۔ معشر

د عربۍ د عشرة نه جوړ دے لسو ته وائي - معشر د مسمط هغه قسم دے چې هر بند يې په لسو مصرعو مشتمل وي او په خپلو کښې هم قافيه او هم رديف يا صرف هم قافيه وي او د ورومبي بند نه علاوه يې د هر بند نهه مصرعې په يوه قافيه او رديف کښې او لسمه مصرعه يې د ورومبي بند هم قافيه او هم رديف وي- معشر هم د مسمط د نورو قسمونو په شان دے يعنې که قافيائي نظام يې هر څنګه وي خو د بندونو د مصرعو تعداد يې لس پکار دے - لکه د محترم قلندر مومند يو معشر نظم چې دويمه، څلورمه، شپږمه او اتمه مصرعه يې په خپلو کښې هم قافيه او نهمه او لسمه مصرعه يې په بله قافيه او رديف کښې دي يو بند وګورئ:—

رحمانه ستا له پاک مزاره خي
نن په يو بل لورې قلم اخلم
دا چې په ظلم يې زړګے قلم دے
د دوئ دپاره نن قلم اخلم
دا خوارې کښه زير خيښلے عالم
د دوئ د ګتې جګ علم اخلم



www.pukhto.net

دا په غمونو غمیدلے مخلوق

د دې غمو دستر گو غم اخلم

نن تلوسې ئې لمسول غوارم

او دې جنبې ئې ویښول غوارم



Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

# ترجیع بند

د ترجیع لغوی معنیٰ واپس کول دی او په ادبی اصطلاح کښې هغه شعری تخلیق ته ونیلے شی چې د ترکیب بند نظم په شان وی او فرق په کښې دا وی چې د وروستي بند نه پس راتلونکے شعر یا مصرعه په کښې د هر بند نه پس تکرارولے شی۔ د دې نه علاوه په ترکیب بند او ترجیع بند کښې هیڅ فرق نه وی۔ د ترجیع بند نظم شعرونه سیوا د دغې یو شعر یا یوې مصرعې نه د غزل په هیئت کښې لیکلے شی۔ ترجیع بند په مثلث، مربع، مخمس، مسدس او مثمن او نورو هیئتونو کښې هم لیکلے شی۔ د خوشحال بابا د یو ترجیع بند نظم دا یو بند د نمونې د پاره وګورئ۔

ستا له لوریه که هزار جور و جفا وی
له عاشقه به په سل رنګه وفا وی
په عاشق باندې معشوقه عنایت که
ستا مدام په خپل عاشق باندې عنا وی
ښه ما و منل چې ته بې حد زیبا یې
په جهان به کم څوک تا غوندې زیبا وی
ولې خدایې چې ښه جمال و چاته ورکړی
نه په دا چې دے بې مهره کبریا وی



www.pukhto.net

که قضا په ما زړه سوے کړه هم به و مرم

که یو څو ورځې دې جنگ او فتنې داوی

که ته ما سره غوغا جنگ و جدل کړې

خدائې دې نه کا چې له تا به تلهٔ زما وی

ستا د در په خاورو پروت بې قدره ښهٔ یم

په بل لوری که په تخت کښینم ښهٔ نهٔ یم

او دغه اخری شعر چې دواړه مصرعې يې هم قافيه او هم رديف دی د هر بند نه پس تکراريږی-

Pukhto.Net
پښتو



www.pukhto.net

# ترکیب بند

دا د نظم هغه قسم دے چې قافیاني نظام يې د غزل په شان وی یعنې ورومبي شعرونه يې د غزل په هیئت کښې لیکلے شی چې کم نه کم پینځهٔ او زیات نه زیات لس وی د دغې شعرونو نه پس یو شعر هم د هغې بحر په بله قافیه کښې راورے شی او دغه شان یو بند جوړیږی او ټول بندونه په دغې طریقه وی- ترکیب بند د مثنوی په هیئت کښې هم لیکلے شی خو د بند اخری شعر يې هم هغسې وی- ترکیب بند د ترجیع بند په هیئت کښې لیکلے شی د نمونې دپاره د خوشحال خان بابا د یو ترکیب بند نظم دا بند وګورئ---

تا چې کړے له هر چا سره یاری ده
ښکاره کړے دې له یاره طراری ده

ته چې خان ګڼې دلداره اے دلداره
کله چا له تا لیدلے دلداری ده

ستا د قهر طاقت هیڅ راځخه نشته
راشه قهر له زړهٔ لرې کړه زاری ده

دا چې کله عاشق خاندی کله ژاړی
دا يې تللے له خاطره قراری ده



www.pukhto.net

کهٔ د سر شیندنه گرانه تر هر څهٔ ده

چې له یاره سر ساتهٔ شی اغیاری ده

تهٔ چې سر ساتې له یاره اغیاری کړې

شیرین خان تر اشنا خار کړه کهٔ یاری کړې

www.pukhto.net

# رباعي

رباعي د عربي ژبې د ربع نه جوړ دے (ي) په کښې نسبتي ده
او لغوي معنیٰ يې څلور څلور ده۔ په ادبي اصطلاح کښې هغه شعري تخليق
ته وئيلے شي چې څلور مصرعې وي او د فکر، خيال او مضمون په لحاظ
پوره او د يو بل سره تړلے وي او په اخري مصرعه کښې يې د خيال تکميل
شوے وي۔ عام طور د رباعي په څلورو مصرعو کښې وړومبۍ، دويمه او
څلورمه مصرعه هم قافيه او هم رديف يا صرف هم قافيه وي۔ البته داسې
رباعيانې هم ليکلے شوي دي چې څلور واړه مصرعې يې هم قافيه وي۔ په
رباعي کښې اکثر فلسفيانه او اخلاقي مضامين بيانولے شي او کله په
کښې عاشقانه مضامين هم بيانيږي يعنې د موضوع څه قيد نه لري۔ پښتانو
شاعرانو رباعيانې وئيلي دي ولې اوس دا صنف ژر ژر په ختميدو دے۔
نننی وخت کښې باباے غزل امير حمزه خان شينواري مرحوم رباعيانې
ليکلي دي۔ هسې خو زمونږ سندرغاړي اکثر د سندرې يا غزل نه اګاهو يو
دوه شعرونه داسې وائي چې پند او نصيحت په کښې وي او هغوی هغې ته
رباعي وائي ځکه چې هغه هم دوه شعره يعنې څلور مصرعې وي حالانکې
دغه رباعي نه وي د لنډ بحر د مسلسل غزل شعرونه وي۔ د رباعي د پاره په
عربي او فارسي کښې مخصوص اوزان دي چې په هغې کښې ليکلے شي او
په پښتو کښې يې هم پيروي کيږي۔ لکه د کاظم خان شيدا دا رباعي



www.pukhto.net

وګوري-

فراق ته وايه زما له بابه

چې خود خبرې له دې عذابه

زړه دې ونه سوېه ماتر اوسه

جور به څو کړې خانه خرابه

يادا رباعي---

مضمون دشعر لکه پيکر وی

رنګين الفاظ ئې رخت و زيور وی.

ورته ضرور دی دادواړه څيزه

پيکر که هر څو دلربا تر وی

Pukhto.Net
پښتو



www.pukhto.net

# قطعه

قطعه چې لغوی معنیٰ ئې ټوکره یا پرېکړے شوے ده او د خوشحال خان بابا د وینا مطابق قطعه مطلع نه لری په دا قطعه بللے شی- هغه شعری تخلیق ته وائی چې قافیائی نظام ئې داسې جوړ وی چې د وړومبی شعر د دویمې مصرعې نه ئې قافیه شروع کیږی او د وروستو شعرونو هره دویمه مصرعه ئې د وړومبی شعر د دویمې مصرعې سره هم قافیه وی- داد غزل په هیئت وی خو صرف مطلع نه لری- بل دا چې د غزل هر شعر خان له مکمل وی یعنې یو پوره خیال په کښې بیان شوے وی ولې د قطعې ټول شعرونه لکه د نظم مسلسل او مربوط وی- قطعه کم نه کم دوه شعره او زیات نه زیات هر څومره شعرونه کیدے شی او هر قسم مضامین په کښې بیانیدے شی خو په دې شرط چې پوره قطعه به په معنوی اعتبار یو مکمل وحدت وی- ننسبا زیاتره د دوؤ شعرونو قطعې لیکلے شی ولې پښتانیو شاعرانو دا د دوؤ شعرونو نه زیاتې هم لیکلی دی- لکه د خوشحال خان بابا دا قطعه--

لکه مست هاتی زنځیر کړه ترمې ترمې
چې په خوب کښې وربنکاره شی هندوستان
زۀ هم هسې تر تقویٰ تر زهد تیر شم
چې را یاد شی د شرابو حریفان



www.pukhto.net

ساقي نن د ميو جام راکړه و ماته

ځکه شيخي نه په داسې ګلستان

په طاعت به تر جنته ځوک ورنهٔ شي

ځو پرې فضل کرم نهٔ وي د سبحان

خو نن سبا قطعې صرف دوه شعره ليکلے شي لکه د محترم قلندر مومند دا قطعه وګورئ:-

چې ستا خالونه را په ياد کړم چرې

ليمهٔ مې او ښيو نه خالي خالي شي

ستا د کاليو د ښرنګهار په وجه

زما خواني ولې کالي کالي شي

Pukhto.Net
پښتو



www.pukhto.net

# غزل

غزل یو مشهور او مقبول شعری صنف دے۔ په هیئتی اعتبار هغه شعری تخلیق چې د ورومبی شعر دواړه مصرعې یې په خپلو کښې هم وزن، هم قافیه او هم ردیف یا صرف هم وزن او هم قافیه وی او د باقی شعرونو دویمه مصرعه یې د ورومبی شعر هم وزن، هم قافیه او هم ردیف یا صرف هم وزن او هم قافیه وی هغې ته غزل وئیلے شی۔ د غزل هر یو شعر یو مکمل وحدت وی۔ ورومبی شعر ته یې مطلع او اخری شعر ته یې مقطع وئیلے شی۔ د مطلع معنیٰ د طلوع د ځائې ده چونکې د غزل شروع د دغه شعر نه کیږی نو ځکه ورته مطلع وائی۔ دغه شان د مقطع معنیٰ د ختمیدو د ځائې ده او غزل په دغه شعر ختمیږی نو ځکه ورته مقطع وائی۔ په مقطع کښې شاعر خپل نوم یا تخلص راولی۔ مطلع او مقطع دوه دوه هم کیدے شی۔ مطلع او مقطع د غزل د هیئت برخې دی ځکه نو په غزل کښې د مطلع او مقطع خیال ساتل پکار دی۔ که چرې په یو غزل کښې مطلع یا مقطع نه وی نو هغه غزل نامکمل ګڼلے شی۔ د غزل دپاره ردیف هم ضروری ګڼلے شی ولې پخوانو شاعرانو غیر مردف غزلې هم لیکلی دی۔ نن سبا د ردیف پوره پابندی کولے شی۔ د غزل د شعرونو تعداد زیات نه زیات اوولس او کم نه کم پینځه دے۔ د غزل د شعرونو تعداد طاق پکار وی۔ د غزل نه علاوه په ټولو شعری اصنافو کښې د خیال تسلسل او ربط موجود وی ولې د غزل هر شعر لکه چې



www.pukhto.net

مخکښې ذکر شو خان له یو مکمل وحدت وي- کله کله شاعر یو خیال په یو شعر کښې دنه ځائیدو په وجه په دوؤ او دریوؤ شعرونو کښې بیانوي چې ورته قطعه بند ونیلے شي- په پخوانو وختونو کښې اکثر غزلې مسلسل لیکلے شوي دي او هغې ته غزلِ مسلسل ونیلے شي-

په غزل کښې هره موضوع بیانیدے شي- او په هر شعر کښې یو مکمل خیال پیش کولے شي- که د غزل په یو شعر کښې د هجر یا وصال کیفیت بیان شوے وي نو په بل کښې د محبوب د ناز و ادا بیان وي، که په یو شعر کښې د وطن د مینې اظهار شوے وي نو په بل کښې د روزګار غم ژړلے شوے وي- او د غزل د مقبولیت غټه وجه هم دا ده چې په کښې مذهبي، معاشرتي، تهذیبي، اخلاقي، فلسفیانه، حکیمانه او عاشقانه ټول مضامین بیانیدے شي- زمونږ نننۍ مسائل دومره ډیر دي چې بې د غزل د ارتې بیرتې لمنې نه په بل یو صنف کښې نه شي ځائیدے دغه وجه ده چې نننۍ شاعري ټوله د غزل ده- باقي ټول شعري اصناف بې د سندرې او نظم نه په ختمیدو دي-

د غزل دپاره اختصار ډیر ضروري څیز دے- یو مکمل خیال کوم چې په پوره نظم کښې بیان شوے وي هغه د غزل په یو شعر کښې بیانیږي- یو شعر دوه مصرعې وي او یو لوئې خیال په دغه دوؤ مصرعو کښې بیانول یو انتهائي ګران کار دے د دې وجې نه غزل لیکونکے د تشبیه، استعارې، کنایې او صنائع بدائع نه کار اخلي کوم چې د غزل ښائست هم ګڼلے شي- غزل لیکونکے په ډیرو لږو او مختصرو الفاظو کښې یو لوئې او مکمل خیال رانقاري- د دې وجې نه غزل د نورو شعري اصنافو په نسبت ډیره خواري



www.pukhto.net

غواړي۔ ښکه خو ډاکټر اسرار صیب وائي چې د غزل په ملاکند ختل د شل او ګوډ کار نه دے۔

د غزل مسلسل ذکر لکه چې اګاهو وشو د هینت له اعتباره بیخي غزل وی خو د شعرونو تعدادئ داوولسو نه زیات هم وی او خیال په کښې صرف یو بیان شوے وی۔ پخوانیو شاعرانو اکثر غزلې مسلسل لیکلی دی۔ ولې نن سبا غزل مسلسل بیخي نه شي لیکلے۔



Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

# نظم

د نظم نه یو خوا که تول شاعری مراد اخستے شی نو بل خوا نظم یو شعری صنف هم دے ولې شناخت ئې نه د هیئت له مخې کیدے شی او نه د موضوع په وجه پیژندے شی۔

د نظم تعریف د اسې کیدے شی چې هغه شعری تخلیق چې تول شعرونه ئې مسلسل او مربوط وی او یو خیال په کښې بیان شوے وی هغه نظم دے۔

نظم د موضوعاتو او هیئتونو په اعتبار دومره وسیع دے چې څۀ خاص هیئت ورله نه شی ټاکلے - د ژوند هره واقعه، هر رنګ، هر احساس او هر رنګه کیفیات د نظم موضوع کیدے شی۔ د دې وجې نه نظم نه په موضوعی اصنافو کښې شمیرلے شی او نه په هیئتی اصنافو کښې راځی۔ څکه چې د پښتو نه نظم په مختلفو هیئتونو کښې لیکلې شی لکه مثلث، مربع، مخمس، مسدس، مسبع، متسع، معشر، غزل، مثنوی، ترکیب بند، ترجیع بند او اوس خو د انګریزی شاعرۍ څنې اصنافو هم زمونږ په ادب کښې رواج موندے دے لکه معریٰ، ازاد او نثری نظمونه۔ په پښتو ادب کښې چې دا وخت د غزل په مقابله کښې مونږ سره بل کوم شعری صنف موجود دے نو هغه نظم دے - بلکې مونږ دا وئیلے شو چې د نوے شاعرۍ دوه غټ او اهم اصناف نظم او غزل دی۔



www.pukhto.net

د نظم کڼ قسمونه دی لکه معریٰ نظم، مقفیٰ نظم، ازاد نظم او نثری نظم۔ د ټولو نه اول به د پابند نظم تعریف وکړو۔

# پابند نظم

د پابند نظم دپاره بحر، وزن، ردیف او قافیه یا صرف قافیه ضروری محیزونه دی۔ د موضوع هیڅ قید نشته په هره موضوع او هر هینت لکه مثنوی، قصیده، غزل، مربع، مخمس، مسدس، ترکیب بند وغیره کښې لیکلے شی۔ د نظم دپاره د خیال تسلسل ډیر ضروری محیز دے د مثال دپاره د محترم قلندر مومند د (حسن) نومې نظم چې د غزل په هینت کښې لیکلے شوے دے محو شعرونه وګورئ۔

حسن د تورو ګورو زلفو د افسون نوم دے
حسن د سپینو انګو د سباون نوم دے
حسن د چا د نرګسی سترګو خمار ته وائی
حسن د سرو سرو ګلابی شونډو میګون نوم دے
حسن سپرلے دے د ځوانۍ چې بې پښتنې راځی
حسن په باغ کښې د کلیو د زړهٔ چاودون نوم دے
حسن به هر ځه هر ځهٔ وی ولې زما دپاره
ننګ دے پښتو ده حمیت دے د پښتون نوم دے
حسن په سر د پښتانهٔ کښې د خودۍ نشه ده
د خپلواکۍ د احساساتو د خیګون نوم دے



www.pukhto.net

حسن خیبر دے لواغر دے تاتره کړېده

د اباسین د طوفانی چپو د یون نوم دے

# معریٰ نظم

معریٰ نظم د انګریزی نه راغلے دے۔ پخوا به دې ته غیر مقفیٰ نظم ونیلے شو۔ وروستو د دې دپاره د معریٰ نظم اصطلاح وټاکلے شوه کومه چې د انګریزی د بلینک ورس Blank Verse لغوی ترجمه ده۔

په معریٰ نظم کښې قافیه نۀ وی صرف بحر او وزن لری۔ دا صرف یو هیئت دے شعری صنف نۀ دے۔ هرقسم خیال په دې هیئت کښې غیر مقفیٰ لیکلے شی۔ د محترم قلندر مومند د یو معریٰ نظم (بنیبنه) د یو بند د نمونې دپاره وګورئ۔

زما زړۀ لکه بنیبنه دے

نزاکت او انعکاس کښې

ستا دستر ګو ستا دوُروخو

یوه هسې اشاره هم

یوه تنه شان غمزه هم

دا بنیبنه شی ماتولے



www.pukhto.net

# ازاد نظم

ازاد نظم محض یو شعري هیئت دے او د نظم دپاره پکارولے شي- دا هم د انګریزي ادب نه اخستے شوے دے او دومره مشهور شوے دے چې ن سبا پابند نظمونه ډیر کم لیکلے شي- په معریٰ نظم کښې مصرعې یو هومره یعنې هم وزن وي خو په ازاد نظم کښې د مصرعو برابر ساتل ضروري نۀ وي- ازاد نظم بحر لري ولې د شاعر په خوښه وي کله کله وړه مصرعه لیکي او کله لویه البته یو مخصوص آهنګ پیش کوي- څنګه چې معریٰ نظم کښې قافیه نۀ وي دغه رنګ ازاد نظم هم قافیه نۀ لري- فرق یې په خپلو کښې دا دے چې د ازاد نظم په مصرعو وړوکو او لنډولو کښې شاعر ته اختیار دے او د معریٰ نظم ټولې مصرعې هم وزن ساتل ضروري دي- د محترم قلندر مومند د یو ازاد نظم د (دنیا مشال) یو بند وګورئ--

چې تورو تیږو په رڼا باندې یرغل وکړلو
چې هغه سره رڼا مغلوبه شوله
چې هغه شمع مړه شوه
او په دې مرګ یې پتنګانو له اسره خوره کړه
چې ظلمتونو ګنګوسے شروع کړو
چې پس له نه په جهان کښې به د دوئ عمل وي
چې بس دے نشته د رڼا د پلوشو واکمنان
چې بس تالاشو نوراني ګلستان -



www.pukhto.net

نو ما دې زړه ته سر ورښکته کړلو

زما د زړه دیوه هم ته وه ننه

ما وئیل (دا زما په زړه تیاره ده

که د تمامې دنیا مړه دې مشالونه)



www.pukhto.net

# مرثیه

مرثیه د عربۍ ټکے دے چې لغوی معنیٰ ئې د مړی تعریف او مړے ژړل دی- خو په ادبی اصطلاح کښې هغه شعری تخلیق ته ونیلے شی په کوم کښې چې د چا په مرګ د هغهٔ د تعریف سره سره د هغهٔ په مرګ غمرازی شوے وی- د دې خپل څهٔ مخصوص هیئت نشته په نظم، غزل، مثنوی، چاربیته او نورو ټولو صنفونو کښې لیکلے شی- د مرثیې دپاره په پښتو کښې ساندهٔ ټکے استعمالیږی- هسې د پښتو په نسبت د مرثیو یا ساندو رواج ډیر کم شوے دے- مرثیه په پښتو ادب کښې د ډیر پخوا راهسې موجوده ده ځکه چې ټپه ډیر پخوانے محیز دے او زمونږ په ټپو کښې هم مرثیې په ښهٔ کافی مقدار کښې موندے شی لکه---

باچا خان بیا د جیله راغے

زما لالے د مقبرې نه نهٔ راځینه

کهٔ په ژړا لالے راګرځی

او چه ګیا به ز رغونه په اوښکو کرمه

په جانان سپین کفن غوړیږی

په ما وریږی د سکروټو بارانونه

نن به په چغو چغو ژارم

د جانان زنه په خاصه باندې تړینه



www.pukhto.net

پالنګ ئ پاس په پوله کیږدئ

ورې ورې خان خیلې ستر ماتوینه

دغسې نورې بیشمیره تېې هم شته دے. نن مبا د غزل د بې کچه مقبولیت په وجه مرثیې یا ساندې د غزل په هیئت کښې لیکلے شی. خنې خنې په ازادو یا معرئ نظمونو کښې هم لیکلے شوے دی. د کاکاجی صنوبر حسین په مرګ د محترم قلندر مومند د لیکلے شوے یوې ساندې یو څو شعرونه د نمونې دپاره وګورئ۔۔۔

نرګه ګده د پښتون په ګلستان شوه

د سپرلی ارمان په زړه ترې بلبلان مری

د خوشحال د بیلتانه غم مو تازه وه

چې کاکا رانه روان شو په خفګان مری

د پښتون د کشر کول دې خدایې حافظ شی

هره ورځ چې ترې نه داسې مشران مری

چې پیرنګ ئ په زړګی چورنګ چورنګ کړو

د خیل زړه په وینو رنګ مرد میدان مری



Pukhto.Net
www.pukhto.net

# مثنوی

د مثنوی لغوی معنیٰ دوه دوه او د برغولو ده چې په پښتو کښې ورته بدله وئیلے شی- د هیئت په اعتبار مثنوی یو داسې شعری تخلیق وی چې د هر شعر دواړه مصرعې ئې هم وزن، هم قافیه او هم ردیف یا صرف هم وزن او هم قافیه وی- د هر شعر قافیه د بل شعر نه بدله وی او ټول شعرونه په یو بحر کښې وی- په مثنوی کښې هر قسمه مضامین او واقعات بیانیدے شی- په دې وجه مثنوی ډیر وسیع شعری صنف دے- د واقعاتو او قصو بیانولو دپاره ډیر موزون دے- د مثنوی د شعرونو تعداد مقرر نه دے، بحر ئې اکثر وړوکے وی- د مثنوی هیئت د اسانتیا له وجې د نورو شعری صنفونو دپاره هم پکارولے شی او اکثر نظمونه د مثنوی په شکل کښې لیکلے شی- په مثنوی کښې اکثر قصې بیانیږی او یا په کښې د مینې محبت خبرې کیږی- د پښتو زیاتې رومانی قصې په مثنوی کښې لکه د ګل صنوبر قصه چې طالب رشید په مثنوی کښې نظم کړے ده یو څو شعرونه ئې وګورئ-

اوس کتاب بیانومه

په پښتو ئې لولومه

زر کړه زر کړه خلة ګویا کړه

په پښتو ژبه انشا. کړه



www.pukhto.net

نور مې یاد د مولا نوم کړو

دغه پسه مې مرقوم کړو

کتابونه مې لیدلي

حکایات مې واره کتلي

لکه چې اګاهو وونیلې شو مثنوي او بدله یو ممیز دے خو ځنې بدلې داسې

هم لیکلې شوے دي چې دغزل په هیئت دي لکه دا بدله۔۔

اوس راوي په روایت کښې هسې شان شو

چې باچا قصه کوي خوږې داستان شو

بادشاه ووې چې خلے شو مه وزیره

په هر لور به ګرځیږم چې مې دوران شو



www.pukhto.net

# قصیده

قصیده د عربۍ ژبې تکے دے د قصد نه جوړ دے چې لغوی معنیٰ ئې قصد یعني اراده کول دی چونکې شاعر هم په یوه خاص موضوع د لیکلو قصد کوی خکه نو دې شعری صنف ته قصیده وئیلے شی۔

قصیده د هیئت په اعتبار د اسې وی چې مطلع او مقطع دواړه لری۔ د مطلعې د شعر دواړه مصرعې ئې هم وزن، هم قافیه او هم ردیف یا صرف هم وزن او هم قافیه وی۔ او د نورو ټولو شعرونو دویمه مصرعه ئې د مطلعې هم وزن او هم قافیه وی۔ د قصیدې مطلعې او مقطعې ګڼې کیدے شی۔ د قصیدې د شعرونو د تعداد څه قید نشته دا د پینځو شعرونو نه واخلې تر هر څو مره پورې کیدے شی۔ د دې مخصوص هیئت په وجه قصیده هم په هیئتی صنفونو کښې شمیرلے شی۔ ولې قصیده د موضوع له مخه هم پیژندے شی خکه چې په قصیده کښې یا د چا مدحه او یا هجو کولے شی۔ او هره قصیده یو نه یو موضوع هم لری۔ د دې وجې نه دا شعری صنف هیئتی هم دے او موضوعی هم۔ قصیده دوه قسمه وی یوې ته تمهیدیه او بلې ته مدحیه قصیده وئیلے شی۔

## ۱۔ تمهیدیه

دا هغه قصیده وی چې تمهید لری او د قصیدې ټول ارکان په کښې



www.pukhto.net

موجود وی- د قصيدې ارکان په دې ډول دی-

## تشبيب

دا د قصيدې ورومبی شعرونه وی چې اکثر عشقيه يا بهاريه وی خو په دې شعرونو کښې دا خيال ساتلے شی چې د اصل مضمون نه زيات نه شی-

## گريز

د تشبيب او اصل مضمون تر مينځه چې کوم شعرونه وی هغې ته گريز وئيلے شی- دې شعرونو سره تشبيب د اصل مضمون سره ترلے شی. لکه د خوشحال بابا د يوې قصيدې دا يو څو شعرونه----

بيا له کومه راپيدا شو دا بهار
چې په هر لورې ئې ملک کړو يو گلزار
ارغوان دی ضميران سوسن ريحان دی
ياسمن دی نسترن نرگس گل نار
د پسرلی گلونه ډير په هر هر رنگ شته
ولې سره لاله دی لا په کښې اوڅار
جونه موتی موتی گل ږدی په گريوان کښې
د ځوانانو گل دستی دی په دستار
مغنی په چغانه ليندۍ کيږده
په نغمو په پردو وغواړه هر تار



www.pukhto.net

ساقي راشه دکې دکې پيالې راکړه

چې د ميو په مستۍ کښې شم سرشار

پښتنو خلميو بيا لاسونه سره کړل

لکه باز منګلې سرې کړه په ښکار

سپينې تورې يې ګل ګونې کړې په وينو

په اهار کښې شګفته شو لاله زار

ايمل خان دريا خان دواړه مرګ يې منه وے

هيڅ تقصير دواړو ونه کړو وار په وار

د خيبر دره يې سره کړله په وينو

په کړپه يې هم روان کړو ننداکار

د دې قصيدې وړومبي شپږ شعرونه بهاريه دي په اووم او اتم شعر کښې ګريز دے او د هغې نه پس اصل مضمون شروع شوے دے۔

## مدحه

د قصيدې په دې برخه کښې چې د چا مدحه کول غواړي نو هغه کوي او که هجو کول غواړي نو هجو کولے شي۔

## دعا

د قصيدې په اخري شعرونو کښې ممدوح ته دعا کولے شي او که هجو وي نو په اخره کښې بد دعا وي۔



www.pukhto.net

## ۲-مدحیه

دمدحیه قصیدې شروع دمدحې نه کیږی تشبیب او گریز په کښې نه وی لکه دخوشحال بابا دیوې مدحیه قصیدې دا څو شعرونه وګورئ۔

په پښتو شعر چې ما علم بلند کړ
دخبرو ملک مې فتح په سمند کړ

مدعی د تورې شپې اوراورکے وو
دسهیل غوندی مې خان باندې څرګند کړ

راز دزړه نه ساتۀ نۀ شی په زړۀ کښې
په ساتۀ کښې ئې استاذ وماته پند کړ

یو په حال او په ماضی کښې هسې نۀ وو
چې ښکاره ئې دخبرو راته خوند کړ

د میرزا دیوان مې وماندۀ په ګوډی
مسخره مې ارزانی خویشکی زمند کړ

دغه شان په دې توله قصیده کښې خوشحال بابا خپل صفت کړے دے۔



www.pukhto.net

# مستزاد

د مستزاد لغوي معنیٰ د زیات کړے شوی ده په ادبي اصطلاح کښې هغه الفاظو ته ونیلے شي چې د غزل، رباعۍ یا نظم مصرعو پسې مصرعه زیاته کړې شوے وي او دغه زیاتې مصرعې هغې مصرعو سره هم قافیه وي بلکې هغه مستزاد الفاظ یا مصرعې خپلو کښې هم قافیه وي۔ د محترم قلندر مومند د "انقلابي" نومې نظم څه برخه د نمونې د پاره وګورئ___

چې په دار باندې ختے شي هغه ته ئې    نه ئې
چې د مرګ ستر ګې کتے شي هغه ته ئې    نه ئې
چې د ګل د پاره خار په زړه قبول کړي    نول کړي
ته هغه مالیار د باغ د پېښتانه ئې    نه ئې



www.pukhto.net

# ټپه

ټپه د پښتو د اولسي ادب یو ډیر زور صنف دے - ټپه د پښتنو په ټولو علاقو کښې یو شان مقبوله ده خو چرته ورته ټپه او چرته ورته لنډئ یا مصرعه ونیلے شی- د ټپې د وجې تسمیې باره کښې مختلفې خبرې کیږی لکه څوک وائی چې دې ته ټپه ځکه ونیلے شی چې ویونکے د دې د ونیلو په وخت د خپل اواز وچتولو دپاره په یو غوږ لاس ږدی- ځنې خلق وائی چې ټپې ته ټپه ځکه وائی چې خلق ورته لاسونه ټپوی- ځنې خلق وائی چې پښتانه په خبرو کښې لکه د متلونو ټپې استعمالوی او اکثر خبره په ټپه ختموی یعنې د ټاپې کار ترې اخلی ځکه ورته ټپه وائی- ځنې وائی چې یو کس ټپه وکړی نو مقابله کښې بل هم ټپه کوی او دواړو سره خپل ملګری وی او هغوی ورله شا ټپوی- دغه شان د لنډئ دپاره دا خبره کوی چې لنډئ د مار یو خطرناک قسم دے چې زهر ئې ډیر تیز وی او ټپه هم ډیره زر اثر کوی ځکه ورته لنډئ وائی- ډیر خلق وائی چې ټپه چونکې لنډه وی وی ځکه ورته لنډئ وائی- دغسې د مصرعې په حقله ونیلے شی چې د ټپې یوه مصرعه لنډه او بله وږده وی او دواړه په یوه مصرعه شمیرلے شی- ځنې وائی چې مصری خوږو یعنې چینئ ته وائی او دا هم په سړی خوږه لګی ځکه ورته مصرعه وائی-

هر څه چې دی خو ټپه هغه څیز دے چې یوه مصرعه ئې وړه او بله وږده وی - لنډه مصرعه ئې نهه سیلابه او وږده مصرعه ئې دیارلس سیلابه وی-



www.pukhto.net

چې لې و نې شوی حال دی و وې
۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹

رو غو به که له چا ته وې د زړه حا لو نه
۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹ ۱۰ ۱۱ ۱۲ ۱۳

په ټپه کښې قافیه نه وی البته اخری مصرعه ئې په "نه" یا په "مه" ختمیږی- د ټولو ټپو بحر او وزن یو وی- البته داسې ټپې هم شته دے چې اوله مصرعه ئې د دویمې مصرعې سره تر پینځو سیلابونو پورې هم قافیه وی لکه داسې---

زما د عمر سره سمه

میرات شے غمه په خندا دې تیر ومه

د ژبې او ادب پوهانو چې د فصاحت او بلاغت کوم تعریفونه کړی دی هغه ټول په ټپه کښې موجود دی- په ټپه کښې هر قسمه مضمون بیانیدے شی- د ژوند په هر ارخ ټپې وئیلے شوی دی- او د دې مضامینو کثرت ټپې له مقبولیت ورکړے دے- د پښتو دا وړوکے صنف چې څومره وړوکے او مختصر دے دومره جامع او کوټلے دے- او بې کچه تاثیر لری ، هغه د پښتنو خبره چې که روپۍ وړه ده خو په ټول پوره ده.

یو څو ټپې د نمونې د پاره وګورئ---

چې یار مې مری ورور مې بیمار کړی

چې د ورور سر ته ویر کوم یار یادومه

خلق زیارت له پټاسې وړی

زه د جوارو پولۍ وړم چې کونده شمه

دیوال سورے کړه شوندې ۔۱۔۲۔۵

پلار دې ختګر دے بیا به جوړ کړی دیوالونه



www.pukhto.net

# لوبه یا سندره

لوبه یا سندره لکه د ټپې او بدلې د اولسی ادب ډیر زوړ شعری صنف دے. د هیئت په اعتبار لوبه د مستزاد نظم په شان وی چې یوه مصرعه ئې وږده او یوه لنډه یا دوه مصرعې ئې یو هومره وږدې او دریمه لنډه وی او موسیقیت په کښې ډیر وی. په لوبه کښې زیات د مینې واردات بیانیږی. خو د موضوع په کښې هیڅ قید نشته. په پښتو کښې ډیرې تاریخی او انقلابی لوبې هم لیکلے شوے دی لکه دا لوبه--

دنیلئ خانه مازیګر جنګ دې په کرپه وتبلونه

دنیلئ خانه

یا دا لوبه--

په تکر جنګ دے ګولئ وریږی

وبې پانی غورځوینه

یا دا لوبه--

جینکی راوبو له خینه د بنګلې د سر هلکه

ګولی په وار کړه

په دې لوبو کښې ډیرې داسې دی چې لکه د ټپې ئې د ویونکی پته نه لګی او مونږ ورته فوک سانګز Folk Songs وایو. دغه شان ډیرې سندرې یا لوبې شاعرانو هم لیکلے دی او تراوسه پورې بې شمیره قسمه لوبې یا سندرې



www.pukhto.net

لیکلے شوے دی چې د مصرعو ترتیب ئې مختلف دے خو تولې د مستزاد په هیئت کښې دی- د لوبې یا سندرې دغه دوه مصرعې چې یوه وړه او بله لنډه وی د لوبې یا سندرې سر گڼلے شی د دغه سر نه پس کړۍ وی چې بندونه هم ورته وائی- د کړو د مصرعو شمیر دوه هم وی او درې هم کیدے شی- د هغې نه پس یوه مصرعه د سر د مصرعې هم قافیه راورے شی- ځنې لوبو یا سندرو کښې د کړو په ځائې ټیپې یا مصرعې لګولے شی چې هغې ته مصرنیزه لوبه یا سندره وئیلے شی- نیمکۍ او بګتۍ هم د لوبې قسمونه دی-

د عبدالله استاذ یوه مشهوره لوبه داسې ده---

زما په سر د میلمنو جونو غوبل دے

ترلې

رادنۍ کره جنګ مې په اوربل دے

زما په سر د پیغلو شرشو

بهر د چوړ نه زمونږ ورشو

کشرے ورور مې په تمبو کښې الول دے

ترلې رادنۍ کره جنګ مې په اوربل دے

یا لکه د عبدالله استاذ دا لوبه چې----

سپینې باریکې لیچې تشې ګرخومه

بنګړی والې تروړې زمونږ کوڅې له راشه



www.pukhto.net

# چاربیته

په پښتو ادب کښې چې د تېښې نه پس بل کوم زور شعری صنف په نظر راځي نو هغه چاربيته ده- دا هغه شعری تخليق دے چې د ژوند سره تړلی ټول مضامين په کښې په ښکلے او زړه پورې طريقه بيانيدے شی- د چاربيتې انداز ساده چست او روان وی- هره چاربيته يوه مطلع لری چې د چاربيتې سر ورته وئيلے شی- د مطلعې مصرعې دوه، درې او کله کله څلور هم وی- د مطلعې نه پس بندونه يا کړۍ وی چې په مختلفو حالتونو کښې مختلفې وی- دغه شان د بندونو مصرعې هم مختلفې کيدے شی- البته په هر قسمه چاربيته کښې د بند اخری مصرعه د مطلعې هم قافيه راوړے شی- د چاربيتې د سر د بندونو يا کړو سره ربط ضروری وی- بل دا چې د وړومبی بند په سر کښې د مطلعې څو ټکی تکرارولے شی دغسې په هر بند کښې د تير شوی بند څو ټکی تکراريږی- د بندونو مصرعې اکثر د مطلعې مصرعو سره په وزن او بحر کښې يو شان وی- د چاربيتې په بندونو کښې د مصرعو څه ټاکلے حد نشته خو د دريو نه واخلې تر نهو پورې وی- په ځنې چاربيتو کښې د سر وړومبۍ مصرعه د وړومبی بند د اخری مصرعې سره، د سر دويمه مصرعه د دويم بند د اخری مصرعې سره، د سر دريمه مصرعه د دريم بند د اخری مصرعې سره تړلے شی او دغه شان يوه کړۍ يا بند پوره کيږی-



www.pukhto.net

## ورومبے قسم

د چاربیتې ورومبے قسم دا دے چې مطلع ئې لکه د قصیدې یا غزل دوه هم وزن، هم قافیه او هم ردیف یا صرف هم وزن او هم قافیه مصرعې لري۔ د هغې نه پس بندونه یا کړۍ وي۔ د هر بند یا کړۍ ورومبۍ درې مصرعې په خپلو کښې هم قافیه وي د هغې نه پس د مطلعې د مصرعو هم وزن او هم قافیه مصرعه راوړے شي او ورپسې د مطلعې دویمه مصرعه تکراریږي لکه د محمد دین دا چاربیته ـــ

څوک په پیدا نه شي د فرهاد او شیرینۍ په شان
یو خاې به څوک نه شي د آدم او درخانۍ په شان

یو خاې به څوک نه شي لکه وو عاشق فرهاد
تل به ئې کولو په اشنا پسې فریاد
وه ئې کړه خواري خکه حاصل ئې شو مراد
کړې به ئې خبرې د طوطا او ښارونۍ په شان
یو خاې به څوک نه شي د ادم او درخانۍ په شان

کړی به ئې خبرې د مجنون دا مشغولا وه نه
بل به ئې محنت نه وو خو په خله به ئې لیلا وه نه
وچ شو لکه دره د خاوند په دې رضا وه نه
بیا به گرځیده په دۀ پسې د لیونۍ په شان
یو خاې به څوک نه شي د ادم او درخانۍ په شان

ددې چاربیتې د مطلعې د دویمې مصرعې (یو خاې به څوک نه شي) الفاظ په



www.pukhto.net

ورومبي بند کښې بيا راوړلے شوی دی۔ دغسې په نورو بند کښې د ورومبي بند د څلورمې مصرعې الفاظ (کرېږ به ئې خبرې) دوباره تکرار شوی دی او دا د چاربيتې يو ښکاره خصوصيت دے کوم چې په کلام کښې خوند هم پيدا کوی او بندونه هم ديو بل سره تړی۔

## دويم قسم

د چاربيتې دويم قسم د مستزاد په شان وی يعنې مطلع ئې يوه وږده او يوه لنډه مصرعه لری او دواړه خپلو کښې هم قافيه وی د هغې نه پس بندونه يادکړی وی د هر بند درې مصرعې خپلو کښې هم قافيه وی او څلورمه مصرعه د مطلع هم قافيه راوړلے شی ورپسې د مطلع دويمه مصرعه تکراروله شی۔ د محمد اسماعيل باجوړی دا چاربيته د مستزاد په شکل ده۔

مخې له راغله محبوبا په سر ئې شال د مزې
سپين ئې جمال د مزې
مخې له راغله محبوبا شومه پر کاله
ديارانې په بندې بند شوم بې مجاله
د سهيلو په مينځ کښې خې کړه له خياله
بل ئې وهلے په لنډی زنه شين خال د مزې
سپين ئې جمال د مزې

## دريم قسم

د چاربيتې بل قسم داسې وی چې مطلع ئې څلور هم وزن او هم



www.pukhto.net

قافیه مصرعې لري- ورومبۍ او دریمه په یوه قافیه کښې او دویمه او څلورمه په بله قافیه کښې وي- د مطلعې نه پس د بندونو د مصرعو تعدادې شپږ وي ورومبۍ، دریمه او پینځمه خپلو کښې هم قافیه وي او دویمه، څلورمه او شپږمه په خپلو کښې هم قافیه وي ورپسې د مطلعې د ورومبۍ مصرعې هم قافیه مصرعه راورے شی د هغې نه پس د مطلعې دویمه مصرعه تکرار ولے شی- لکه د قلندر مومند دا چاربیته ـــ

څو به ستړګې مو په غم کښې د ویت نام نم وي
خوار اولس چې ئې په جنګ او په جدال دل شو

دک له وینو به تر کومه دا ایام یم وي
چې دنیا کښې د خوارانو په قتال تل شو

څو به ستړګې دې وسو کړی ازار زر ته
چې د سرو وینو په مخ کښې د فساد سد دے

اخر رسو به د ګټې د کوهسار سر ته
که په یو خل پریوتو باندې مو شاد شد دے

په دې څه چې مو څه وخت وکړلو وار ور ته
اوس مو بنه طرح ګیر کړے دے برباد بد دے

که ژوندے وی پس له دې به ئې سر سام سم وي
څو به ستړګې مو په غم کښې د ویت نام نم وي

چې زمونږه په قابو کښې هر شغال غل شو
خوار اولس چې ئې په جنګ او په جدال دل شو



www.pukhto.net

## څلورم قسم

د چاربیتې دا قسم داسې وي چې مطلع ئې دوه مصرعې لري په څېلو کښې هم وزن وي خو هم قافيه او هم ردیف نه وي- د مطلعې نه پس بندونه یا کړۍ وي- د بندونو د مصرعو تعداد ئې د څلورو نه واخلې تر اتو پورې وي- ورپسې یوه مصرعه د مطلعې د وړومبۍ مصرعې هم وزن او هم قافيه راوړے شي او بیا ورپسې د مطلعې وړومبۍ مصرعه تکرار وي دغه شان ورپسې د مطلعې د دویمې مصرعې هم قافيه مصرعه راوړلے شي او ورپسې د مطلعې دویمه مصرعه تکراروِلے شي - لکه د امانت ملیار دا چاربیته----

دیره بیلتون زما د خوږ زړګی قلا څخه دے
چې راوستو له مې د یار پسې ربیار څله خی
ما په ربیار وکړه اعتبار څکه مې خان ونه لید
شیرین صورت مې په ګل رنګی یو زمان ونه لید
شینکے خال مې الول په زنخدان ونه لید
زړه مې بند شوے نن هغې توري بلا څخه دے
دیره بیلتون زما د خوږ زړګی قلا څخه دے
چې له سینې نه ئې بویونه دبلغار څله خی
چې راوستو له مې د یار پسې ربیار څله خی

د دې چاربیتې یو قسم داسې هم وي چې د مطلعې مصرعې ئې دوه وي او هم قافيه نه وي او د هر بند اخری دواړه مصرعې ئې د مطلعې د دواړو مصرعو



www.pukhto.net

هم قافیه وی د هغې نه پس د سر دواړه مصرعې تکرارولے شي- لکه د میا گل دا چاربیته-

شاگرده اول نص د الٰهی پروردگار دے

استاذه بل حدیث د محمد نبي حضرت دے

شاگرده په جهان کښې جبرائیل نومې ملک دے

استاذه خاص مقام د دهٔ په اووم اسمان فلک دے

شاگرده تول وجودې له حجر حدیده کلک دے

استاذه سر تر پایه په وزرو باندې چک دے

شاگرده د رحمت په دب کښې دوب لکه سمک دے

استاذه ما په دې خبرو هم ویستلے شک دے

بې حده بنائسته د نور په شان شغله انکار دے

د باد په شان نه گرځی په هوا باندې وچت دے

په داسې قسمه چاربیتو کښې کله کله داسې هم کیږي چې د هر بند وړومبۍ دریمه او پینځمه مصرعه په خپلو کښې هم قافیه او دویمه، څلورمه او شپږمه مصرعه په خپلو کښې هم قافیه وی لکه د بنیر د جنگ دا چاربیته چې طالب گل لیکلے ده-

معامله جوړه شوه د کفر د اسلام

پکښې توې شو د حضرت د باغ گلونه

د انگریز لښکرې راغلی له لاهوره

ځنې توپې غنبارې ځنې هاتیان وو



www.pukhto.net

څوک خبر نه وو له دې کافر له زوره

څنې خره څنې ټټوان څنې سیکان وو

دبدبه یې وه خوره ترهره لوره

ورسره د پښتنو ښکلي سپایان وو

له دیلي نه یې راپورته کړو خپل قام

په ملکا باندې یې جمع کړل فوځونه

معامله جوړه شوه د کفر د اسلام

پکښې توی شو د حضرت د باغ ګلونه

پینځم قسم

د چاربیتې یو قسم داسې دے چې مطلع یې درې مصرعې لری او درې واړه په بیله بیله قافیه کښې وی دریمه مصرعه یې دوه برخې وی او په قافیه کښې برابر وی. په داسې چاربیته کښې د بندونو یا کړو جوړولو طریقه دا وی چې د اولنی بند اخری مصرعه د مطلعې د وړومبی مصرعې هم قافیه، د دویم بند اخری مصرعه د مطلعې د دویمې مصرعې هم قافیه او د دریم بند اخری مصرعه د مطلعې د دریمې مصرعې هم قافیه راوړلے شی او دغه شان یوه کړی یا بند پوره کیږی لکه د محمد علی دا چاربیته ــــ

دمینې سره شراب

ساقی راوړه جامونه

یو ځل که په مانوش کړې ګوره یم در ته په سوال

زه تږے د وصال



www.pukhto.net

یو خل کړه په ما نوش

زړګي مې کوي جوش

صدا مې کړه په ګوش

په غم کښې دې صنم په ما تیر یږي داعناب

د مینې سرة شراب

په غم کښې دی صنم

دستر ګو مې څي نم

وهلے نة شم دم

زۀ پروت یمه بې دمه څکه دی په ما غمونه

ساقی راوړه جامونه

زۀ پروت یمه کړیږم

دلبر پسې نولیږم

د حاله نة خبر یږم

د خلاې دپاره راشه لږ ښکاره کړه شینکے خال

زۀ تګے د وصال

شپږم قسم

دچاربیتې یو بل قسم داسې وی چې مطلع ئې څلور مصرعې لری ورومبی او دویمه په یوه قافیه کښې او دریمه او څلورمه په بله قافیه کښې وی- هر بند ئې اتة مصرعې وی - لکه دمثنوی په طرز وی یعنې ورومبی دوه مصرعې په یوه قافیه کښې٠ دریمه او څلورمه په بله قافیه کښې



www.pukhto.net

پينځمه او شپږمه په بله قافيه کښې او اوومه او اتمه په بله قافيه کښې وي يعنې مخلور بيل بيل شعرونه وي۔ نهمه مصرعه د مطلعې د اخرې مصرعې هم قافيه راوړے شي او ورپسې د مطلعې اخرې مصرعه تکرارولے شي لکه دا چاربيته۔۔

کارونه گوره د خاوند
نور به يې نه وه په دنيا ژوند
وخت د زوال وو پرې خزان ولگيد
د سوريزو لاندې ملتان ولگيد
کارونه گوره د سبحان
شو ننگرهار نه راروان
مزل يې کولو په تلوار
ملتان د دلې وو سردار
مخکښې به تلو لکه د شير
ملگرې وو ورسره ډير
دارې به کولے دوئ مدام
چرې گير شوے نه وو په دام
د توري غزې په هندوستان ولگيد
د سوريزو لاندې ملتان ولگيد

اووم قسم

د چاربيتې بل قسم داسې وي چې ټوله چاربيته مقفیٰ وي او د



www.pukhto.net

مصرعو تر مینځه یې مخصوص قسم سجع وی داسې چاربیتو ته زنځیري
ونیلے شي- د داسې چاربیتو د بندونو مصرعې په دې ترتیب وی چې
وروميۍ، دريمه او پينځمه په یوه قافیه کښې او دويمه، ځلورمه او شپږمه
په بله قافیه کښې وی وړپسې د مطلعې د وړومبۍ مصرعې هم قافیه
مصرعه راوړے شي دهغې نه پس د مطلعې د دويمې مصرعې تکرار وی لکه
د محمد دین دا چاربیته---

کله به راشے په پوښتنه د ملنګ کړې ځنګ
لرې کړه زنګ شوم رنګ ستا په تهمت کښې
کله به راشے چې دې وکړمه دیدار سحار
زړه مې پرهار د یار له لاسه دیر دے
شومه په غم کښې ستا د مینې ګرفتار په جار
وسوم په نار انګار رانه چاپیر دے
آخر به تیر شي د نیمګړې دنیا وار په خوار
ماځله ازار بیمار په زلفو ګیر دے
مخ دې چراغ دے پرې راځم لکه پتنګ په شرنګ
لرې کړه زنګ شوم رنګ ستا په تهمت کښې

په دې قسمه چاربیتو کښې د مطلعې وړومبۍ مصرعه د دويمې مصرعې نه
درې سیلابه زیاته وی او د بندونو مصرعې یې هم داسې وی چې وړومبۍ،
دريمه او پينځمه د دويمې، ځلورمې او شپږمې نه درې درې سیلابه زیاتې
وی او دغسې دا التزام په ټوله چاربیته کښې شوے وی-



www.pukhto.net

# دنشر صنفونه

www.pukhto.net

# افسانه

افسانه د ډېر جدید دور پیداوار دے د دې صنف په متعارف کولو او منظر عام ته په راوستو کښې د نوی دور د کړمو او انسانی مسائلو ډېر غټ لاس دے. انسان لکه چې وړاندې هم ونیلې شوی دی د قصې ډېر شوقین دے او قِصه ډېره د پخوانه مونږ سره موجوده ده. افسانه هم د دغې قصې یو نوے شکل دے. د قصې شوقین انسانانو چې کله د وخت د کمی ښکار شو نو هغوی په دې تکل کښې شو چې چرته یوه داسې لنډه ادب پاره پیدا کړی چې مختصره هم وی او د قصې خوند هم په کښې موجود وی. په دغه تکل کښې هغوی افسانه ایجاد کړه کومه چې د اختصار سره سره یوه پوره قصه هم وی.

ایډگر ایلن پو وانی چې افسانه هغه مختصره قصه ده چې د نیمې گینټې نه واخلې تر یوې یا دوو گینټو پورې لوستے شی. مطلب ئې دا دے چې افسانه دومره مختصره پکار ده چې په یوه ناسته کښې ختمه شی. خو ولې دا تعریف هم ډېر نیمگړے دے ځکه چې په دې کښې د فنی خصوصیاتو ذکر بیخې نه دے شوے. لکه ډېر خلق وانی چې افسانه مختصر ناول دے خو داسې نه ده. د افسانې خپل یو تکنیک دے. بل اختصار، منصوبه او کرهٔ وره ئې هم د ناول نه بیخی جدا دی. البته ځنې خلقو دا خدشه ښکاره کړے ده چې کهٔ انسان لږه نوره ترقی وکړه او مصروفیات ئې نور زیات شو نو ناول به



www.pukhto.net

به ختمې شي نو په بل ادب کښې نه شم ونیلے خو دا امکان په پښتو ادب کښې

ډیر دے۔ خکه چې دلته ناول نه یواځې دا چې ډیر وروستو رارسیدلے دے

بلکې لاتر اوسه يې خپل مقام هم نه دے حاصل کړے او حال دا چې دوخت د

کمی احساس ورځ تر ورځه زیاتیږي۔

دافسانې پوره تعریف کهٔ گران نه دے نو اسان هم نه دے خکه چې

افسانه لکه دغزل په ظاهره مختصر او په معنوی اعتبار یو ډیر جامع مجیز

دے۔ بل دافسانې تعریف په دې وجه هم ډیر گران دے چې ورځ تر ورځه

پکښې نوې نوې تجربې کولے شي۔ د محترم قلندر مومند د افسانوی

مجموعې "گجرې" په پیش لفظ کښې لوئ نقاد مرحوم دوست محمد خان

کامل لیکی چې" له تولو وړومبے د افسانې دپاره لکه د هرې یوې قصې

ضروری ده چې قصه وی لکه چې د قصې مقبولیت ضامن او گواه دے مونږ

قصې سره دومره روږدي یو چې د دې خبرې جواب چې قصه څهٔ شے دے

دوینا نه زیات احساس سره تعلق لری او د قصې تعریف زمونږ دادبی احساس

،وجدان او ذوق یو داسې جز جوړ شوے دے چې پرې د پوهیدو دپاره د

وینا وسیله ضروری نه ده۔ دافسانې بل ډیر اهم خصوصیت دا دے چې وړه

وی۔" نو د هغوی د دې تعریف په رڼا کښې دا ونیلے شو چې افسانه هغې

وړې قصې ته وانی چې په هغې کښې یوه خاص واقعه یا پیښه په داسې انداز

کښې بیان شوې وی چې په کښې لکه د ناول او داستان غوندې وضاحت او

تشریح نه وی شوے او لیکونکی د خپل فن په زور څهٔ خبرې څرگندې

کړے وی او څهٔ يې د لوستونکیو ذهن ته پریښے وی۔ داکتر محمد اعظم

اعظم په خپل کتاب "پښتو افسانه" کښې لیکې "افسانه دیو کردار دیو خاص



www.pukhto.net

حالت د ژوند د یو اړخ د یوې تجربې یا یو ذهنی کیفیت عکاسی کوی -"
مطلب دا چې کله په ناول کښې ناول نګار د یو شخصیت د ژوند هر اړخ او ورسره تعلق لرونکی ټول څیزونه ذکر کوی نو دهغې برعکس افسانه د یو کردار یا د یو شخصیت د ژوند صرف په یو اړخ لیکلے شی-

## دافسانې موضوع

محترم کامل مرحوم د "ګجرې" په پیش لفظ کښې لیکی چې "
هره یوه قصه یوه خاص موضوع لری او دغه موضوع د قصې له واقعاتو جوړیږی او لکه چې عرض وکړې شو د دې واقعاتو اجتماع او ترتیب یا تسلسل د قصې پلاټ وی- خو یو موضوع سره تړلی واقعات په ژوند کښې یو بل سره پیوست نه رادوځاریږی- د انسانی ژوند او فکر موضوعات او اړخونه ډیر او رنګارنګ دی او هم دغه شان دوی سره متعلق واقعات- د یو فنکار په مخکښې د یو موضوع په حقله د واقعاتو راټلو سره به وړومبے د دې نه چې دوی سره هغه نور واقعات چې د موضوع د جوتونے دپاره ضروری وی پیوست شی-"

د موضوعاتو د تلاش دپاره هم مشاهده پکار ده چې څومره د یو افسانه نګار مشاهده تیزه وی دومره هغه په تیزئ سره موضوعات پیدا کوی- خو دا ده چې د افسانې دپاره هره موضوع مناسب نه وی ګنی لیکلے په هره موضوع شی- د افسانې نوم د موضوع نه پس کیښودے شی- دا د افسانې د هیرو یا هیروئن نوم هم کیدے شی او کله په افسانه کښې د یوې جنبې عکاسی شوے وی نو دهغې جنبې نوم هم ورله کیښودے شی- بل



www.pukhto.net

داسې نوم هم کيبنودے شي چې د افسانې د انجام سره تعلق لري کۀ هيرو کامياب شوے وي نو د کاميابۍ او کۀ ناکام شوے وي نو د ناکامۍ په اعتبار ورله نوم هم کيښودے شي - کله کله افسانه نګار يو تخيلاتي نوم هم ږدي او دا قسم نومونه جدت هم لري- ځنې افسانه ليکونکي د افسانې نوم متضاد او مهمل هم ږدي او دا قسمه نومونه هم لوستونکے ځان پله راکاږي- بهر کيف د افسانې نوم ښکلے او زړه راښکونکے پکار دے چې د لوستونکي فکر او نظر ته د موضوع په لور ترغيب ورکړي-

## پلاټ

د موضوع موندو نه پس د افسانه نګار کار دا دے چې هغه پلاټ جوړ کړي- پلاټ د واقعاتو خاکې ته وئيلے شي - دا په افسانه کښې د پيښيدونکيو واقعاتو ترتيب وي- د پلاټ خوبي دا ده چې ژوند سره نزدے وي يعنې هغه واقعات کوم چې مونږ ته په امروزه ژوند کښې پيښيږي او وينو ئې کۀ داسې نۀ وي نو بيا به په افسانه کښې معروضي صداقت نۀ وي- بل دا چې په افسانه کښې واقعات چې څنګه وي هغسې نۀ بيانيږي بلکې لږ ډير مصنوعيت هم پکښې شامل وي خکه چې واقعات څنګه وي او هغسې وراندې کړے شي نو بيا به هغه افسانه نه بلکې واقعه نګاري ګڼلے شي - پلاټ فطري، منظم او ساده پکار دے-

## شروع

څنګه چې د افسانې نوم زړه راښکونکے پکار وي دغه شان ئې د



www.pukhto.net

شروع هم خیال ساتل پکار دی یعنې ورومبی جمله دومره جاند اره او متجسس پکار ده چې لوستونکی ترې د نظر لمنه خلاصه نه کړې شي - دا ورومبی جمله ساده او روانه هم کیدے شي او رنګینه او شاعرانه هم او که د چا د خبرې نه ئې شروع کوی نو هم د افسانه نګار خوښه ده - خو دا خیال ساتل ضروری دی چې شروع د بې مقصده طوالت ښکار نه شي -

## واقعات

د افسانې د شروع یعنې تمهید نه پس د واقعاتو تحرّیک شروع کیږی - که دا واقعات په درامائی انداز کښې وی نو لوستونکی خوشاله وی او تر ختمیدو ئې نه پریږدی - دغه رنګ تجسس پکښې تر اخره پوری قائم ساتل پکار وی - په افسانه کښې محه مسائل بیانولے شي چې هغې سره په افسانه کښې کش مکش شروع شي او هم دغه کش مکش کښې افسانه نقطه عروج ته ورسی - او د دغې نه پس افسانه مخ په زوال روانه شي او په یوه منطقی نتیجه ختمیږی -

## کردار نګاری

کردار نګاری هم د افسانې یوه ضروری برخه ده - د افسانې کردارونه د حقیقی انسانانو سره جوړ پکار وی - که په کردارونو کښې تصنع وی نو هغه د لوستونکیو په زړونو کښې ځائې نه شي موندلے - د افسانه نګار دپاره ضروری ده چې هغه د کردارونو نفسیاتی تجزیه وکړی - په کردارونو کښې یکسانیت نه دے پکار - دغه شان د هر کردار دپاره د هغه


www.pukhto.net

مناسب ژبه پکار ده. په عام او مثالي کردارونو کښې فرق ساتل هم د افسانه نگار ذمه واري ده. مثالي کردار د نورو کردارونو نه لږ وچت پکار دے خو دومره نه چې فرښتو ته ورسي.

## مکالمه

په افسانه کښې د مکالمې د اهميت نه هم انکار نه شي کيدے ځکه چې مکالمې د کردارونو په عادتونو او خصلتونو رڼا پرېباسي او واقعات هم مخ په وړاندې روان ساتي. مکالمې د کردار او واقعې په مناسبت پکار دي. او د غير ضروري مکالمو نه ده پکار ده.

## منظر نامه

هر کردار په يو منظر کښې اوسي او دغه شان هره واقعه په يو نه يو منظر کښې پېښيږي. او هر کله چې په افسانه کښې يوه واقعه يا د يو کردار د ژوند يو اړخ ښئيلے شي نو ضروري ده چې په افسانه کښې به منظر خامخا وي. خو افسانه نگار له پکار دي چې په دې سلسله کښې مقاميت ته زياته توجه وکړي ځکه چې د هغې نه هغه ښه واقف وي.

## ربط

د افسانې د پاره بل اهم څيز ربط دے. د يوې افسانې د پاره ضروري ده چې د هغې واقعات مربوط يعنې د يو بل سره تړلي وي. د واقعاتو منتشر کيدل د افسانې خامي گڼلے شي ځکه چې په داسې صورت کښې د افسانه



www.pukhto.net

نګار نه وحدت تاثر متاثره کېږي کوم چې د افسانې لازمي جز دے۔

## وحدت تاثر

د وحدت تاثر په ضمن کښې دا خبره ياد ساتل پکار دي چې په افسانه کښې غير ضروري واقعات او اضافي خبرې را نه شي۔ ځکه چې افسانه د اختصار سره سره تندي هم غواړي او افسانه نګار په لږ او محدود وخت کښې ډير محنت ونيل غواړي۔

## اختصار

محترم کامل مرحوم د "ګجرې" په پيش لفظ کښې ليکي چې "اختصار د افسانې ځان له يو بيل خصوصيت دے او دغه خصوصيت د افسانې په پلاټ کښې دا امتياز پيدا کوي چې د غير ضروري واقعاتو د ويستلو او د دغسې تفصيلاتو نه د ځان ژغورلو عمل به د افسانې په پلاټ کښې زيات سخت وي۔" يعنې د افسانې دپاره اختصار ضروري دے او د اختصار نه مراد د غير ضروري واقعاتو نه ځان ساتل دي۔



www.pukhto.net

# ډرامه

ډرامه د یونانی لفظ Drau نه اخستے شوے ده چې معنیٰ ئې عمل یا په کولو سره ښنیل ده۔ او دغه وجه ده چې په خالص ادب او ډرامه کښې فرق ښکاره دے۔ ډرامه د لوستو محیز نه دے بلکې د عمل سره تعلق لری۔ ترکومې چې ډرامه د الفاظو په گرفت کښې وی نو هغه یو بې ساه محیز وی۔ خو چې کله دغه بې ساه محیز د کردارونو په ذریعه پیش کړې شی نو لکه چې روح په کښې واچولے شی۔ پوهانو د دې رنگ رنگ تعریفونه کړی دی محوک وائی دا د فطرت نقالی ده محوک وائی د حقیقت عکاسی ده۔ غرض دا چې د یو ژوند یو اړخ په کولو سره ښنیلو ته ډرامه وئیلے شی۔

## موضوع

د ټولو نه اول د ډرامې دپاره ضروری محیز موضوع ده۔ د ډرامې دپاره د موضوع هیڅ قسمه قید نشته د ژوند په هر اړخ ډرامه لیکلے شی۔ لکه معاشرتی، قومی، نفسیاتی، جذباتی، معیشتی غرض د ژوند هر اړخ د ډرامې موضوع کیدے شی۔ او په دې موضوع کښې د ډرامې پیغام موجود وی۔ ځکه چې د ډرامه نگار غرض خلقو له ځۀ پیغام ورکول وی۔ او هغه دغه پیغام د ډرامې د کردارونو په ذریعه خلقو ته رسوی۔ خو د ژوند سره تړلی موضوعات ورله ضروری دی۔



www.pukhto.net

## قصه

د درامې دپاره دویم اهم محیز قصه ده -په هره درامه کښې لکه د ناول او افسانې یوه قصه وی خو په درامه کښې د ناول او افسانې په نسبت قصه د مکالمو او کرد ارونو په ذریعه مخ په وړاندې ځي - دا قصه د عام ژوند نه اخستے شوے وی-

## پلاټ

د درامې دپاره بل اهم محیز پلاټ دے - پلاټ د واقعاتو ترتیب ته وئیلے شی- یعنې په درامه کښې د راپیښیدونکیو واقعاتو ترتیب کوم چې یو درامه نګار په خپل ذهن کښې جوړوی هغې ته د درامې پلاټ وئیلے شی- دا هم د درامه نګار ذمه واری ده چې د خپلې قصې واقعاتو له یو ښه ترتیب ورکړی - او چې کوم واقعات وړومبی ښنیل مقصود وی هغه وړومبی او چې کوم وروستی ښنیل پکار وی هغه وروستو وښیی- کله کله درامه نګار د درامې انجام وړومبے وښیی او بیا دغې انجام ته د رسیدو واقعه بیان کړی-

## کردار نګاری

د درامې دپاره بل ډیر اهم محیز کردار نګاری ده د ځنه په وجه چې درامه، درامه ګڼلے شی- ځکه چې په درامه کښې قصه هم د دغې کردارونو په ذریعه پیش کولے شی - دغه کردارونه واقعاتو سره مخ کیږی چې په



www.pukhto.net

نتیجه کښې یې قصه مخ په وړاندې ځي او د یو تصادم شکل اختیاروي- د ډرامې کردارونه د ناول د کردارونو نه ګران وي ځکه چې د ناول انداز بیانیه وي او ناول نګار د خپلو کردارونو په حقله لوستونکیو له معلومات ورکولے شي ولې ډرامه نګار د خپلو کردارونو په حقله هیڅ نه شي وئیلے او د یو کردار پیژندګلو هم د هغه په ذریعه کوي- او هم دغه وجه ده چې په ډرامه کښې کردارنګاري ډیر اهمیت لري-

## مکالمه

د ډرامې دپاره بل اهم څیز مکالمه ده- څنګه چې د ډرامې دپاره کردارونه ضروري دي دغه رنګ ورله مکالمې هم ضروري دي- او چې هر کله ګڼ کردارونه موجود وي نو ضروري ده چې هغوي به په خپلو کښې خبرې هم کوي- د کردارونو دغې خبرو ته مکالمې وئیلی شي- هسې خو کردارونه په ناول او افسانه کښې هم وي خو چونکې د ډرامې انداز لکه د ناول او افسانې بیانیه نه وي- ځکه نو په ډرامه کښې د مکالمو نه کار اخستے شي او د مکالمو په ذریعه قصه مخ په وړاندې بوتلې شي- په ډرامه کښې کله کله خود کلامي هم کولے شي- بل لکه چې اګاهو ووئیلی شو چې ناول نګار د خپلو کردارونو په حقله لوستونکیو له معلومات ورکولے شي خو ډرامه نګار د خپل کردار پیژندګلو هم د هغې کردار په ذریعه کوي- او دغه پیژندګلو د مکالمو په ذریعه کولے شي یعنې د یو کردار د سیرت پته د هغه د مکالمو نه لګي- مکالمې د کردار سره جوړې چستې او زړه راښکونکے پکار وي-



www.pukhto.net

دهرې ډرامې اول شروع وي بیا مخ په وړاندې تګ وي. بیا تصادم او کشمکش وي. د هغې نه پس عروج او د عروج نه پس انتها یعنې په یوه منطقي نتیجه د هغې ختمیدل وي - د دې دپاره عالمانو ډرامائي خطونه وضع کړي دي چې څه په دې ډول دي ---



په دې ټولو خطونو کښې د الف نه تر د "ب" پورې برخه مشترک ده یعنې په دې برخه کښې د ډرامې د کردارونو پېژندګلو کولے شي قصه یا واقعات پیدا کیږي - د "ب" نه د "ج" پورې واقعات په وړو وړو په وړاندې ځي - د "ج" نه تر "د" پورې د واقعاتو پر مختګ تیز او تصادم یا کشمکش خپل عروج ته رسي - او "د" هغه مقام دے په کوم کښې چې واقعات یا حالات خپلې انتها ته رسي - بیا له دې نه پس د "د" نه تر "ه" او "و" پورې مختلف ډرامه نګاران واقعات د انجامه پورې د رسولو او د حل کولو کوشش کوي - په وړومبي خط کښې واقعات ناګهانه ختمولے شي - په دویم خط کښې واقعات په مزه مزه ختمیږي - او په دریم خط کښې واقعات لکه د وړومبي خط په تیزۍ سره ختمیږي - خو اصل کشمکش او تصادم د "ب"، "ج" او "د" تر مینځه پیدا کیږي -

بل اهم ځیز وحدتونه دي چې په ډرامه کښې پکار ولے شي - وړومبے وحدت زمان دے - دا د ډرامې هغه خصوصیت ته ونیلے شي چې په کښې واقعات په یو وخت کښې رانبکاره کیږي - که خبره د پلار نه خوی او نمسی ته ورسي نو د هغې مطلب به دا وي چې په دغه ډرامه کښې د



Pukhto.Net
www.pukhto.net

وحدت زمان خیال ونه ساتلے شو - خو بعضې ښه درامه نګاران د وحدت زمان د خیال نه ساتلو باوجود ښې درامې لیکی - او محسوس کیږی نه - دویم وحدت نه وحدتِ مکان ونیلے شی - د دې وحدت تر مخه درامه په یو مکان، یا یوه محله یا یو ښار کښې پیښیږی - خو د ټی وی د درامو په راتلو سره اوس د دې وحدت خیال نه شی ساتلے - دریم وحدت د تاثر وحدت دے کوم چې په افسانه او ناول کښې هم ډیر ضروری وی - که یو درامه نګار د وحدت تاثر خیال ونه ساتی نو هغه په خپل پیغام ورکولو کښې سخت ناکامه کیږی - ځکه چې د وحدت تاثر په ختمیدو د کتونکیو د قصې نه د پام اوړیدو خطره وی - او په هره درامه کښې کتونکیو یو خاص مرکزی نقطه یا خیال په ذهن کښې نیولے وی او غواړی چې د هغې انجام ووینی - د درامې دپاره وحدت عمل هم ډیر ضروری دے ځکه چې یو کردار په یو وخت کښې ښه او خراب یا ظالم او مظلوم دواړه نه شی کیدے، البته د واقعاتو په اثر کښې په یو کردار کښې تدریجاً فرق راتلل ممکن دی - بهر کیف عالمانو د درامې دپاره ټول وحدتونه لازمی ګڼلی دی - خو په دې وحدتونو کښې د ټولو نه اهم وحدت تاثر دے - د درامو ډیر قسمونه دی لکه المیه، طربیه، المناک طربیه، تاریخی او خیالی -



www.pukhto.net

# ناول

قصې لوستل او يو بل ته اورول يو ډېر زوړ فن دے او په هر وخت کښې دا د انسانانو يوه غټه مشغله پاتې شوے ده۔ او وئيلې شي چې قصې په ټوله دنيا کښې وئيلے او خوښولے شي۔ څنګه چې انسان ترقي کوله دغه رنګ قصه هم بدليدله يعني چې څومره د انسان په شعور کښې پوخوالي پيدا کيده، مسائل زياتيدل او د وخت د کمي احساس پيدا کيده نو وړې وړې قصو او د داستانونو هم وخت په وخت شکلونه بدلول۔ او دغه شان د داستان يا قصه د مکان او زمان د مختلفو درجو نه راتير شو او د ناول شکل ئې اختيار کړو۔ د ژوند قدرونه خايول پکښې شروع شو۔ هسې د داستان او ناول په ترکيبي اجزاو کښې څۀ خاص فرق هم نشته۔ ناول کۀ هرڅومره حقيقي وي هغه دلچسپ کيدے نۀ شي ترڅو مې پورې چې پکښې د ليکونکي تخئيل نۀ وي شامل شوے او يو داستان هم داسې نشته چې د تخئيل نه علاوه پکښې څۀ نا څۀ حقيقت نۀ وي فرق صرف د زيات او کم دے۔

ناول د اطالوي ژبې ټکے دے او د انګريزۍ په توسط مونږ ته رارسيدلے دے معنیٰ ئې نوے او عجيبه ده او په اصطلاح کښې هغه نثري قصې ته وائي چې موضوع ئې انساني ژوند وي۔ ناول ليکونکے د ژوند مختلف اړخونه پوره او په يو خاص ترتيب سره وړاندې کوي يعنې ناول



www.pukhto.net

دانسان دباطني او خارجي ژوند دتصادم يوه سلسله وي-

د ناول دپاره قصه ضروري محيز دے- د قصې نه بغير ناول نه شي ليکلے- قصه د ناول د ملا تير وي او قصه د يو ځو يو بل سره تړلو واقعاتو يوې خاص نتيجې ته رسولو ته واني- چې شروع، منځومانه او اختتام لري او د دې نه علاوه ورله تجسس هم ضروري محيز دے- د قصو هم مختلف قسمونه وي لکه يوه نيمه قصه بالکل خط مستقيم وي چې واقعات پکښې د يوې نقطې نه شروع شي او نيغ لاړ شي او په يوه نقطه ختم شي- ځنې قصه د مثلث په شان يعنې درې گوتيزه وي په داسې قصه کښې واقعات د دريو نقطو سره يو ځاې کولے شي يعنې هيرو، هيروئن او رقيب- بل قسم داسې وي چې قصه د دائرې په شکل وي چې د کوم ځاې نه شروع شوے وي په هغه ځاې واپس ختميږي- په ناول کښې قصه روانه پکار وي او چې يوه قصه ځومره روانه وي دومره ناول ښه گڼلے شي-

## پلاټ

د قصې د واقعاتو ترتيب ته پلاټ ونيلے شي- ناول نگار د خپلې قصې ټول بنيادي عناصر په يو منطقي ربط کښې راولي- ځکه چې کومه قصه هغه بيانول غواړي نو دا دهغه په ذهن کښې دا گاهو نه پرته وي- دپلاټ برخې وي لکه په وړومبۍ برخه کښې د کردارونو پيژندگلو کولے شي په بله برخه کښې د کردارونو په خپلو کښې تصادم پيدا کيږي- په بله برخه کښې دهغې مشکلاتو کوم چې کردارونو ته پيښ وي حل شروع کيږي او په اخره کښې په يوه منطقي نتيجه ناول ختميږي- د پلاټ مثال د داسې



www.pukhto.net

تصویري خاکې دے چې د اصل گومان پرې کیدے شي۔

## کردار نګاري

کردار نګاري د ناول یو اهم عنصر دے۔ او د یو ناول د قصې ټول دارومدار د کردارونو په ټیک تخلیق باندې وي۔ کردارونو سره د زمان او مکان تصور ترلے پکار دے۔ د کردارونو دوه قسمه وي یو جامد او بل متحرک۔ جامد کردارونه تغیر نهٔ قبلوي یعنې تبدیلي پکښې نهٔ راځي او متحرک کردارونه لکه د ژوند وده موندي او وخت په وخت بدلیږي۔ د ناول کردارونه ژوندي پکار وي۔

## مکالمه

د ناول دپاره بل شرط مکالمه ده او د هغې په ښهٔ موقعه استعمال دے۔ د دې په وجه د کردار خصوصیات په ښه طریقه واضحه کیږي۔ هسې خو مکالمه د ډرامې لازمي جز دے خو په ناولونو کښې هم مکالمې استعمالیږي۔ د ناول مکالمې چستې او ښې پکار وي ځکه چې ښه مکالمه په قصه کښې ساه اچوي او کردار له یو نوې ژوندور کوي۔ مکالمې کهٔ یو خوا د ناول په خوند رنګ کښې اضافه کوي نو بل خوا د ناول نګار یو بل صفت چې د ډرامه نګارۍ دے هغه هم ښکاره کوي۔

## منظر نګاري

ناول کښې بل اهم محیز منظر نګاري ده۔ منظر نګاري پخپله محهٔ



www.pukhto.net

اهمیت نهٔ لري صرف د کردارونو دپاره پکار ولے شي ځکه چې د منظرونو د انسانانو سره خاص نسبت دے- هر انسان په یو نه یو منظر کښې اوسي- منظر کشي هم په دوه ډوله ده یو د کلي، کوڅې، بازارونو او سړکونو او بله د قدرتي مناظرو وي - د کردارونو د غم او خوشالۍ جذباتو له اکثر د قدرتي منظرونو سره تشبیه ورکولے شي لکه د یو کردار په زړهٔ کښې د غم طوفان، د خارجي طوفان د علامت په توګه پیش کولے شي- دغه شان پسرلے ګل او ګلزار د کردار د خوشالۍ او سکون دپاره پیش کولے شي-

په ناول کښې یو تخئیلي ژوند وړاندې کولے شي چې حقیقت هم وي او قیاس ته نزدے هم وي- ژوند د مختلفو تضاداتو او اختلافاتو یوه مجموعه ده- ناول نګار له پکار دي چې د زمان او مکان په تغیراتو ژور نظر لري- د هر وطن او هر ځائې د ماحول تبدیلۍ، د رسم و رواج تبدیلۍ پکار دي چې د هغهٔ په نظر کښې وي-

ناول د ژوند عکاسي کوي د دې وجې نه هغه ناول زیات کامیاب ګڼلے شي کوم چې ژوند سره نزدے وي- غرض دا چې ناول د ادب یو اهم صنف دے او یو خاص تکنیک لري چې پکښې صرف د ژوند نقشه نهٔ شي پیش کولے بلکې د ژوند د نوې سره د تخلیق کولو د کوشش اظهار هم پکښې وي- په ناول کښې یو خاص ترتیب او تسلسل لازمي محیز دے- دغه رنګ د ناول دپاره ژبه خوږه ادبي او روانه پکار ده-

د ناول ګڼ قسمونه دي لکه کرداري ناول چې هٔو له قصه ئې د یو مرکزي کردار نه چاپیره چورلي- بل قسم ډرامائي ناول دے په داسې ناول کښې واقعات لکه د ډرامې ژر ژر بدلیږي تبدیلۍ پکښې راځي او



www.pukhto.net

ډېرې نتيجې د توقع نه خلاف ووځي- بل قسم د مهماتي ناول دے په داسې ناول کښې قلم په قلم نوي نوي مهمونه مخې ته راځي- بل قسم د واقعاتي ناول دے په داسې ناول کښې واقعات راجمع شوي وي او زيات زور پکښې په قصه اچولے شوې وي او د کردارونو په ځاې پکښې واقعاتو ته اهميت حاصل وي- بل قسم د نظرياتي ناول دے کله کله ناول ليکونکے يو خاص نظريه د ناول په ذريعه پيش کول غواړي دا د جديد دور پيداوار دے- بل قسم تاريخي ناول دے په داسې ناول کښې يو تاريخي دور د پس منظر په توګه پکاروَلے شي- کله کله پکښې تاريخي کردارونه هم مخې ته راځي- بل قسم جاسوسي ناول دے د دې ناول بنياد په تجسس او حيراني ايښودے شوي وي په داسې ناولونو کښې لکه د داستان عجيبه او نا اشنا خبرې او فوق الفطرت کردارونه وړاندې کولے شي- غرض دا چې په ناول کښې د ژوند د مختلفو تجربو او واقعاتو بيان کيدے شي-



www.pukhto.net

# تکل

په انگريزۍ کښې ورته Essay وائي چې د فرانسيسي ژبې Essai نه جوړ شوے دے او موندۍ د عربۍ السعی دے۔ اردو کښې ورته انشائيه او پښتو کښې ورته تکل وئيلے شي۔

د تکل مخه مخصوص هيئت نشته او نه ورله دا ضروري ده چې دا دې خامخا د مضمون په هيئت کښې وليکلے شي لکه چې ځنې خلقو د مضمون د هيئت پورې خاص کړے دے۔ بلکې تکل د افسانې، درامې، سفرنامې او رپورتاژ په شکل کښې هم ليکلے شي۔ کله کله په تکل کښې د قصې عنصر شامل شي ولې تکل د هغې شکل نه اختياروي۔ دغه شان کله کله تکل ليکونکے د مکالمو نه کار اخستل شروع کړي چې هغې سره تکل د درامې په حدودو کښې داخل شي خو درامه نه شي۔ دغه شان کله کله تکل د رپورتاژ او د سفرنامې د تکنيک نه هم فائده اخلي او کله کله د طنز و مزاح نه خو نه ترې سفرنامه جوړيږي او نه رپورتاژ او نه ترې طنزيه يا مزاحيه مضمون جوړيږي۔

تکل عام طور باندې د مضمون په هيئت کښې ليکلے شي خو د مضمون سره توپير لري۔ ځکه چې مضمون يو خاص ترتيب او توازن لري، وړومبے پکښې تمهيد وي بيا خوبۍ او خامۍ په دلائلو سره بيانولے شي او په اخر کښې ترې يوه نتيجه هم اخذ کولے شي۔ د دې برعکس تکل ليکونکے



www.pukhto.net

د موضوع باره کښې خپلې ذاتي تجربې او انفرادي تاثرات داسې وړاندې کوي چې د هغه د شخصیت یو پټ اړخ لوستونکیو ته ښکاره کیږي او لوستونکي د موضوع په ځاې د لیکونکي په ذات کښې دلچسپي اخستل شروع کوي - د دې نه علاوه مضمون د یوې خاص منصوبه بندۍ د لاندې لیکلې شي او لیکونکے د موضوع نه یو خوابل خوا ته شي تلے - د موضوع نه یو خوا بل خوا تلل ځکه ته چې ګریز وئیلے شي هر څو که د تکل دپاره شرط نه دے خو تکل لیکونکي ته اختیار شته دے چې که ګریز کول غواړي نو کوي دې - خو د ګریز مطلب دا نه دے چې لیکونکے دې بیخي لار خطا کړي او واپس دې رانه شي - د ګریز غرض دا وي چې د تکل لمن فراخه کړې شي او لیکونکے چې ځه وئیل غواړي هغه په ښه طریقه ووائي - د مضمون په نسبت تکل زیات لچکدار وي او هم دغه وجه ده چې تکل کله د ډرامې، کله د افسانې، کله د سفرنامې او کله د رپورتاژ شکل اختیاروي - دغه شان په تکل کښې د طنز و مزاح نه هم کار اخستے شي خو طنز و مزاح د تکل دپاره شرط نه دے - په تکل کښې لکه د مقالې غوندې تحقیقي خبرې نه شي کولې او نه په کښې لکه د مقالې د حوالو ضرورت پیښیږي - البته که تکل لیکونکے په چا طنز کوي او ځه غلطې حوالې د مزاح پیدا کولو په خاطر وړاندې کوي نو ځه بده نه ده -

پښتو ته دا صنف د اردو نه اګاهو راغلے دے - او د دے صنف دپاره د تکل نوم په ورومبي خل اولسي ادبي جرګې استعمال کړے دے - په پښتو کښې وخت په وخت هر څو که ئې تعداد کم دے خو ښه ښه تکلونه لیکلي شوي دي - چې په مختلفو اخبارونو او مجلو کښې چاپ شوي دي - د



www.pukhto.net

ماسټر عبدالکريم په "جولۍ ګلونه" کښې د افسانو نه علاوه څنې ټکلونه هم شته دے۔ دغسې د ډاکټر محمد اعظم اعظم په "لشې" کښې هم څنې ټکلونه شته دے۔ تر اوسه په پښتو کښې د ټکلونو مکمل کتاب د ډاکټر اسرار "د ټکل په ټکل کښې" دے چې په کال ۱۹۹۴ کښې چاپ شوے دے۔ هسې نن سبا ټکل ته د ليکونکيو پام شوے دے او ډير نوی ليکونکی دې ميدان ته راوتی دی او دومره ښۀ ټکلونه ليکی۔ چې د اندازه ترې ډيره په اسانه لګی چې د ټکل مستقبل روښانه دے۔ زۀ د کتاب د طوالت له خاطره لکه چې نورو صنفونو کښې د بحث په وخت ما د ليکونکيو د ذکر نه ډډه کړے ده دلته هم د ټکل ليکونکيو د ذکر نه خان ژغورم۔

Pukhto.Net
پښتو



www.pukhto.net

# خاکه

په انگریزۍ کښې سکیچ Sketch په پښتو او اردو کښې ورته خاکه وئیلے شي- سکیچ Sketch دفن مصورۍ اصطلاح ده چې پکښې د څو کرښو په مدد سره د یو شخصیت د مخ خدوخال واضحه کولے شي- دغه شان په دې ادبي صنف کښې لیکونکے لکه د مصور د لفظونو نه هغه کار اخلی کوم چې مصور د کرښو نه اخلی- خو د خاکې د پاره ضروری محض اختصار دے- یعنې خاکه لیکونکی له پکار دی چې هغه د کوم شخصیت خاکه لیکی نو چې د هغه پوره تصویر جوړ نه کړی لکه څنګه چې په شخصیت نګارۍ کښې د یو شخصیت پوره تصویر پیش کولے شي- او په خاکه نګارۍ او شخصیت نګارۍ کښې هم دغه فرق دے- خاکه لیکونکے به د دې خبرې ډیر خیال ساتی چې په لږو ټکو کښې د یو شخصیت خدوخال داسې واضحه کړی چې د هغه پوره تصویر د لوستونکیو مخې ته را نه شی بلکې څه لږ ډیر خدوخال ئې ښکاره شي-

خاکه نګارله د یو شخصیت د خوبیو او خامیو نه خبریدل ډیر ضروری وی- دغه شان ځنې داسې صفتونه هم شته چې هغه نه خو په اخلاقی خوبیو کښې شمیرلے شی او نه په خامیو کښې راځی لکه د هغه لباس، د هغه تګ، د هغه ناسته پاسته، د هغه خوراک، د هغه مشغلې او نور- خاکه لیکونکی له پکار دی چې هغه د دې ټولو خبرو نه اګاه وی- په



Pukhto.Net
www.pukhto.net

خاکه کښې د یو شخصیت محض د خامیو او خوبیو ذکر نه وی بلکې دواړه په یو خاص تناسب او ایمانداری سره بیانول شی۔ خکه چې په خاکه نګاری کښې خاکه لیکونکی له غیر جانبدار پاتې کیدل ضروری دی۔ که چرې خاکه لیکونکے غیر جانبدار نه وی نو هغه به په خپله خاکه کښې هغه شخصیت هغسې پیش نه کړې شی څنګه چې هغه دے۔

که په یوه خاکه کښې د یو شخصیت صرف خوبۍ بیان شی نو هغه به خاکه نه بلکې مدحیه مضمون ګڼلے شی۔ دغسې که صرف خامۍ ئې بیان کړې شی نو هغه به هجو او د چا په شخصیت پورې تتوبې وی۔ البته د هغه شخصیت د خامیو بیانولو په وخت د دې خبرې خیال ساتل ډیر ضروری دی چې د هغه شخصیت سره د عقیدت لرونکیو زړونه ازار نه شی۔ او په خاکه کښې د تولو نه ګران کار هم دا دے۔ دغسې د هغه شخصیت په خوبیو بیانولو کښې هم د دې خبرې خیال ساتل پکار دی چې مدح خوانی ترې جوړه نه شی۔ بلکې چې یو شخصیت څنګه وی هو بهو هغسې ئې پیش کول پکار وی۔

د ادب عالمانو خاکه نګاری صرف د شخصیت پورې محدود یو صنف ګڼلے دے تر دې پورې چې د هغه شخصیت په فن او فنکاری د څه وئیلو امکان ئې هم د خاکې د دائرې نه ویستلے دے او هغې ته ئې تنقیدی مضمون وئیلے دے۔ د یو شخصیت د خاکې لیکلو په وخت د هغه فن، د هغه عهده، او په معاشره کښې د هغه مقام د خاکه نګار سره په خاکه لیکلو کښې ډیر لاس کولے شی خو د هغه په فن د تبصرې اجازت نه ورکوی۔

په خاکه نګارۍ کښې حلیه نګاری هم کیدے شی ولې اکثر



www.pukhto.net

ليکونکی په کردار نګارۍ زور اچوی- مطلب دا چې حليه نګارۍ د خاکې دپاره لازمی محيز نه دے- دغه رنګ په خاکه کښې مزاح هم ضروری نه دے خو که يو ليکونکے داسې کوی نو ځه بده خبره نه ده- خو دا خيال ساتل پکار دی چې مزاح مضحکه خيز نه وی- غرض دا چې خاکه يو داسې مضمون ته وئيلے شی چې په هغې کښې په ذاتی حوالې سره د يو شخصيت اهم اړخونه په اختصار سره په ډيره ادبی ژبه کښې بيانولے شی-



www.pukhto.net

# رپورتاژ

رپورتاژ د فرانسيسي ژبې تکې دې په انګريزۍ کښې ورته Reportage وئيلې شي او لکه د نورو ډيرو ادبي صنفونو دا صنف هم د مغرب نه راغلې دې.

د رپورتاژ تر ډې تعلق د صحافت سره دې خو فن ئې خالص ادبي دې- يعنې چې کله په يو رپورټ يا يو خبر کښې د ليکونکي خپل جذبات او احساسات داخل شي نو هغه رپورتاژ شي- د رپورتاژ واقعات او کردارونه حقيقي وي او ليکونکې ئې په خپله يو مرکزي کردار وي- مطلب دا شو چې يوه واقعه يا حادثه په خپلو سترګو ليدل او بيا هغه د خپلو جذباتو او احساساتو سره نورو ته وړاندې کول او د هغې محرکات او پس منظر ښئيل رپورتاژ دې- د دې برعکس په اخباري رپورټ يا خبر کښې صرف د هغه واقعې يا حادثې د سترګو ليدلې حال بيان شوې وي- ولې د ليکونکي خپل تخئيل په کښې نه وي شامل شوې- که چرې د رپورتاژ نه د ليکونکي شخصيت بهر کړې شي نو رپورتاژ به رپورتاژ پاتې نه شي او هغه وسعت او معنويت به بيخي ختم شي کوم چې د ليکونکي مقصود وي.

د ادب استاذان دا خبره کوي چې د خارجيت او داخليت د امتزاج نه ادب پيدا کيږي- په رپورتاژ کښې د خارج بيان په داسې انداز کښې کولې شي چې د ليکونکي داخليت په کښې شامل وي او له دغې وجې عالمانو



www.pukhto.net

رپورتاژ ادبي صنف ګڼلے دے.

په رپورتاژ کښې لکه د ډرامې د دريو وحدتونو يعنې زمان، مکان او تاثر خيال ساتلے شي او په دې حساب رپورتاژ لږ لږ ډرامې ته نژدے وي. دغه رنګ په افسانه کښې قصه يو بنيادي محيز ګڼلے شي، او د واقعاتو تر مينځه ئې يو منطقي ربط هم وي. ولې په رپورتاژ کښې يوه مربوطه افسانه نه وي موجوده خو د قصې ځنې عناصر په کښې موجود وي. او د قصې دغه عناصر د لوستونکيو تجسس سيوا کوي. د افسانې برعکس رپورتاژ په يوه منطقي نتيجه نه ختميږي. مطلب دا چې په رپورتاژ کښې که قصه نه وي نو د قصې عنصر ضرور لري.

ځنې خلقو رپورتاژ د سفرنامې نه ويستلے شوے يو صنف ګڼلے دے. خو د اسې بيخي نه ده ځکه چې د سفر نامې دپاره سفر لازمي محيز دے او د رپورتاژ دپاره سفر شرط نه دے هر ځائې او هر وخت ليکلے شي.

رپورتاژ هم لکه د سفرنامې يو بيانونکے صنف دے او صفت ئې دا دے چې په دې کښې حقيقي تير شوي واقعات ذکر کولے شي خو په داسې طريقه چې د ليکونکي عمل دخل په کښې ډير ښکاره وي. بل دا چې د رپورتاژ دپاره صداقت ډير ضروري محيز دے. او د دغې صداقت د ښکاره کولو دپاره د رپورتاژ ليکونکے اکثر د واحد متکلم صيغه استعمالوي او د تولو نه اهم کتونکے د دغې واقعې هغه په خپله وي. په ناول او افسانه يا ډرامه کښې ليکونکے کردارونه رغوي او په خپله په کښې پټ ناست وي ولې په رپورتاژ کښې ليکونکے په خپله د ټولو نه اهم کردار وي او يو داسې کردار چې نور لوستونکي د ګوتې نه نيولي د ځان سره ګرځوي. دغه



www.pukhto.net

شان په افسانه، ډرامه یا ناول کښې کردارونه او مقامونه هم حقیقی نه وی ولې د رپورتاژ کردارونه او مقامونه حقیقی وی- په رپورتاژ کښې د شخصیاتو د کردارونو نه علاوه نور غیر معروف کردارونه هم وی او دغه غیر معروف کردارونه د خپلو اوصافو په ذریعه پیژندلے شی-

د ادب عالمانو د ښهٔ رپورتاژ تعریف داسې کړے دے چې هغه به نهٔ تول خارجی وی او نهٔ به تول داخلی وی بلکې ددې دواړو امتزاج به وی. ژبه به ئې ساده، موثره او اسانه وی-

Pukhto.Net پښتو



www.pukhto.net

# سفرنامه

سفر نامه په بیانونکیو صنفونو کښې شمیرلے شی دا یو داسې ادبی صنف دے چې زیاتره د مشاهدې سره تعلق لری او د تخلیق عنصر په کښې ډیر کم وی- په سفر نامه کښې لیدلی شوی واقعات او حالات بیانولے شی خکه نو د سفرنامی لیکلو دپاره وړومبے شرط سفر کول دی- د سفر په دوران کښې سړے هغه خایونه او هغه خلق وینی کوم چې هغهٔ له دې نه اګاهو نه وی لیدلے- دغه خایونه او خلق د هغهٔ دپاره نااشنا او عجیبه وی او د دغې نااشنا خایونو او خلقو لیدل د سړی تجسس کهٔ یو خوا سفر ته جوړوی نو بل خوا هغه دا هم غواړی چې دا هر څهٔ کوم چې هغه وینی او خوند ترې اخلی هم هغسې نورو ته بیان کړی چې هغوی هم ورسره په دغه خوند او مزه کښې شریک شی- خو هر سفر کونکے سفرنامه نهٔ شی لیکلے صرف هغه سفر کونکے سفرنامه لیکلے شی چې هغه خالص د سیل او تفریح دپاره سفر کوی- د سیلانی برعکس هغه خلق کوم چې د څهٔ مجبورۍ او یا څهٔ غرض دپاره سفر کوی د هغوی ترمخه ضروری څیز د هغې غرض یا مقصد حصول وی خکه نو د یو سیلانی په نسبت هغه د سفر نه نورې فائدې نهٔ شی اخستے او نهٔ د هغهٔ خپل فرض هغه دې ته پرېږدی چې هغه دې مشاهده وکړی او هغه دې بیا قلمبند هم کړی- د هغهٔ خپل غرض او مقصد د هغهٔ دپاره دومره اهم وی چې هغه د نااشنا خایونو او نظارو نه هغه خوند نهٔ شی



www.pukhto.net

اخستے کوم چې ترې يو سيلانے اخلي۔

انسان سفر ولې کوي؟ هغه د غنی خان خبره چې "دے بچے د تغير دے په يو حال کښې نه تينګيږي" انسان فطري لحاظ سره تنوع پسند دے په يوه علاقه او يو ماحول کښې د ځه وخت تيرولو نه پس يې د هغې نه طبيعت موړ شي او زړه يې غواړي چې بل خوا ته لاړ شي۔ او هم له دغې وجې اکثر خلق سفر کوي۔ سفر عارضي نقل مکاني وي خو د انسان دپاره يوه لويه تفريح وي۔ او چې کله دغه سفر وکړي او واپس راشي نو هم هغه کور او کلے ورته نوے نوے ښکاري۔ بله غټه خبره دا هم ده چې سفر صرف د تفريح دپاره نه وي۔ په قرآن کريم کښې خدائ پاک فرمائيلي دي چې "زما په زمکه کښې وګرځئ" مطلب دا چې زما قدرتونه وګورئ۔ نو د سفر يوه فائده دا هم وي چې انسان ډير ځه وويني ډير ځه زده کړي او چې هر کله هغه خپله دغه مشاهده د سفرنامې په شکل کښې نورو ته وړاندې کړي نو که يو خوا هغوی له د هغې خايونو کوم چې ده ليدلي وي او هغوی ترې خبر نه وي په حقله معلومات ورکړي نو بل پله هغه خلق کوم چې د ځه مجبورئ له وجې د سفر توان نه شي لرلې هغوی له هم د سفر په خوند کښې برخه وکړي او خان سره يې په دغه تفريح کښې شريک کړي۔ او د سفر نامې د ليکلو يو مقصد دا هم وي چې نور خلق هم سفر ته وپاروي۔ او ورسره ورسره د لارو ګودرو په حقله معلومات هم ورکړي۔

سفرنامه په فني لحاظ سره لکه چې ووئيلے شو يوه بيانيه وي چې سيلانے يې د سفر په دوران کښې يا د سفر په ختميدو ليکي۔ دا د هغه د خپل ټول سفر د سترګو ليدلے حال وي او هغه يې سره د خپلو احساساتو او



www.pukhto.net

قلبي واردات‌و په مربوطه طريقه په ادبي انداز کښې ليکي - د دې ادبي صنف

تول مواد په خارج کښې خوارۀ وارۀ پراتۀ وي خو سفرنامه ليکونکے دغه

خارجي مواد هغه شان نۀ پيش کوي څنګه چې هغه وي بلکې د خپل بيان د

بامعنی او مدلل کولو دپاره هغه د نورو ډيرو جزئياتو نه هم کار اخلي او

يو سيلانے چې څومره زيات باريک بين وي دومره به د هغۀ دغه جزئيات په

مشاهده کښې ډير راځي-

په سفرنامه کښې د ليدلے کتلے ځايونو د جغرافيې نه علاوه د هغه

ځاې د خلقو د ژوند ژواک، د طور طريقو، د هغوی د عادتونو او خصلتونو

، د هغه ځاې د آب وهوا، د هغه ځاې د قدرتی منظرونو، د هغه ځاې د ابادۍ د

اعداد وشمار، د هغه وطن د ميوو او بوټو په حقله معلومات ورکولے شی-

دغسې په سفرنامه کښې د هغه وطن تاريخی اهميت هم بيانولے شی-

سفرنامه ليکونکے په سفرنامه کښې د هغې وطن د لارو کودرو متعلق

معلومات هم لوستونکيو ته ورکوی کوم چې د نورو سفر کونکيو دپاره د

سنګ ميل حيثيت لري-

ديو وطن جغرافيانی اړخ سفر کونکے زيات ځان ته راکاږی او هغه

د جماداتو، نباتاتو او حيواناتو په مختلفو قسمونو معلوملو او ليدلو کښې

يوه خوشحالی محسوس کوی او بيا د دغې اظهار په ادبي انداز کښې نورو

ته وراندې کول د سفرنامې خصوصيت ګڼلے شی-

دغه رنګ سفرنامه ليکونکے اکثر د خپل وطن او هغه وطن موازنه

هم کوی او بيا پرې خپله يوه رائ قائموی- دغسې هغه په ډيرو څيزونو،

رواجونو، طور طريقو تنقيد کوی او د خپل وطن د طور طريقو او



www.pukhto.net

رواجونو سره د هغې موازنه هم کوي - که د اسې څه ښه اقدار ووینی نو ستائنه يې کوی او که څه بد صفتونه ووینی نو غندنه يې کوی- خو داهر څه هله ممکن وی چې د سفرنامې لیکونکے د ادب د تخلیقی او فنی تقاضو نه پوره پوره اګاه وی او خپله مشاهده په تخلیقی انداز کښې د پیش کولو په هنر پوې وی-

نش د لیدلو کتلو ځایونو ذکر ته سفرنامه نه شی وئیلے تر کومې چې په کښې د لیکونکی تخئیل شامل شوے نه وی- مطلب دا چې په سفر کښې د لیدلی کتلی څیزونو، مقامونو، د هغې وطن د خلقو د طور طریقو، د هغې وطن د آب وهوا، د هغې وطن د جغرافیې ذکر په ادبی پیرایه کښې د خپلو د اخلی کیفیاتو، احساساتو او قلبی واردا تو سره بیانولو ته سفر نامه وئیلے شی-



www.pukhto.net

# ادبی تنقید

د ټي ایس ایلیټ وینا ده چې "تنقید زمونږ د ژوند د ساه په شان ضروري دے لکه څو مره چې ساه ده."

تنقید د هر انسان په فطرت کښې الله تعالیٰ ایښے دے. تر دې پورې چې ماشومان هم په ښۀ څیز او بد څیز کښې تمیز کولے شي. ښۀ څیز اخلی او خراب پرېږدی خو کۀ څوک د یو ماشوم نه دا پوښتنه وکړی چې دا ولې؟ نو دهغۀ جواب به دا وی چې بس دا مې خوښ دے او دا مې نۀ دے خوښ. یعنې د فرق او امتیاز دا صلاحیت خو په انسانانو کښې د ډیر پخوانه موجود وی او هغوی یې ښکاره کوی خو دغه په ماشومتوب کښې په دوو څیزونو کښې فرق او امتیاز د یو طبعی جبلت په شان وی خکه چې ماشومان فرق او امتیاز خو کوی ولې د یو ناقابل فهم جبلت د لاندې یې کوی. خکه چې هغه څۀ کوی نو بغیر د سوچه یې کوی. هغۀ ته د خپل کړی کار محرک نۀ وی معلوم. دغه رنګ هغه د خپل یو کار کوم چې هغه کوی د هغې د وجې نه هم نۀ وی خبر او چې څۀ رنګې پرې پخپله نۀ وی پوهه دغه رنګې پرې بل هم نۀ شی پوهولے.

د نقد او انتقاد یا د فرق او امتیاز دغه صلاحیت په خوانانو کښې هم لکه د ماشومانو په شان غیر واضح او کم وی او ډیر خوانان د یو شی په حقله



www.pukhto.net

د خوښۍ او نا خوښۍ اظهار خو کوي خو ځنه معقوله توجیه یې نه شي کولے او که ځوک یې وپوښتي نو هم دا خبره کوي چې بس دا مې خوښ دے او دا مې نه دے خوښ - خو په حقیقت کښې په دې کښې ځنه خبره نشته - تنقید یو عقلي صلاحیت دے - او د هغه فرق او امتیاز کوم چې په ماشومانو او ځناورو کښې هم وي د هغې یو ترقي یافته او مهذب شکل دے -

د تنقید چې ایلیټ یې د ژوند دپاره لکه د ساه ضروري ګڼي د قدر او قیمت نه انکار کول د ژوند د قدر او قیمت نه انکار کول دي - تنقید د یو صحیح تربیت شوي او مهذب دماغو یو صفت دے او د ژوند په هره شعبه کښې پکاریدونکے ځیز دے -

په عامه توګه د تنقید نه مراد ادبي تنقید اخستے شي - تنقید د فکر هغه شعبه ده چې یا خو هغه د دې معلومولو کوشش کوي چې شاعري ځنه ځیز دے ؟ د دې فائدې ځنه دي ؟ د کومو خواهشاتو تسکین کوي ؟ شعرونه لیکلے ولې شي ؟ او رولے ولې شي ؟ او یا د دې ټولو ځیزونو متعلق رائ قائمول او د یوې ادب پارې حیثیت ورکول د تنقید کونکي کار دے - میتهیو ارنلډ د تنقید په حقله وائي -

"په دنیا کښې چې کومې ښې ښې خبرې معلومې شوې دي - کوم د ښه نه ښه سوچونه چې په دنیا کښې شوي دي د تنقید کار په هغې پوهیدل معلومول او پته لګول دي - دا د معلومولو نه پس نو روته رسول دي چې داد نوو نظریو او خیالونو په رغاونه کښې د زیاتې نه زیاتې ښیګړې په کار راشي -"



www.pukhto.net

په ادبي اصطلاح کښې تنقيد محاکمې ته وائي او ادبي نقّاد هغه چا ته وائي کوم چې د يو مخصوص خصوصيت له وجې ادبي تخليقات څيړي۔ د دغو تخليقاتو د خوبيو او خرابيو اندازه لګوي او بيا پرې يوه فيصله ورکوي۔ خو په تنقيدي ادب کښې هغه ادب هم شامل دے په کوم کښې چې څه فيصله نه وي شوے او دغه شان په تنقيدي ادب کښې هغه ټول ليکل راځي کوم چې د ادب په حقله ليکلے شوے وي۔

د ادبي تنقيد تعلق د ادب سره دے او د ادب نژدے تعلق د انساني ژوند سره دے خکه نو تنقيد هم لکه د ادب د ژوند دپاره ضروري دے۔ که ادب د ژوند ترجماني او شرح کوي نو تنقيد د دغه تخليقي ادب ترجمان او شارح دے۔ اوس که مونږ د ادبي تنقيد تعريف د نورو عالمانو د وينا په رڼا کښې کوو نو داسې به وي چې --

د تنقيد مطلب د يو تخليق کتنه، څيړنه او د هغې په ښه او بد خان پوهول دي۔ په انګريزي کښې د دې دپاره Criticism ټکے استعماليږي چې مطلب يې عدل او انصاف دے دا ټکے د يوناني ژبې نه اخستے شوے دے چې مطلب يې فيصله کول دي۔ په پښتو کښې زمونږ سره د دې دپاره موزون ټکے کره کتنه يا جاج دے چې تر څه حده پورې دغه معنیٰ لري۔

په تنقيد وخت په وخت ډير اعتراضونه هم شوي دي او ځنې خلقو خو يې د اهميت نه ېيخي انکار هم کړے دے۔ لکه يوه ډله وائي چې نقّاد د لوستونکي او تخليق په مينځ کښې راودانګي او دغه شان د دواړو ترمنځ پرې کړي اصل څيز په ځائې پاتې شي ـ هوښيار ناقد لوستونکے په بله



www.pukhto.net

بله سر کړي - محوک وائي د تنقید کونکی نظر تر لرې پورې نه لګی تنګ نظره وی د تخلیق دلارې خنډ وي، دا یو تعمیري عمل نه بلکې تخریبی عمل دے۔

فلابیر وائي چې "تنقید دادب نازک وجود په تورووهی" -درائڈن وائي چې "ناقد کرکجن وی د نفرت جنبه په کښې زیاته وی او دغه وجه ده چې د یو تخلیق خامی وینی ولې د خوبیو په ستائنه ئې خله خوږیږي-" ایمرسن وائي چې "ناقد هغه کس وی چې شاعری کښې ناکامه شوے وی-" خو چې دا ټولې وینا ګانې په ژور نظر وکتے شی نو دې ټولو ښاغلیو په تنقید اعتراض نه دے کړے بلکې ددې په غلط استعمال ئې اعتراض کړے دے۔

تنقید زمونږ دپاره لکه د ساه ضروري ولې دے دا خکه چې کله محوک وغواړي او وخت هم ورسره دیر وی نو هغه ټول ادب نه شی لوستے او بیا په ننني دور کښې چې هر سړے د لوړې نه په تنګ دے ناممکنه ده- کنی ښه خبره خو ده چې سړے ادب نیغ په نیغه ولولی- خو چې هر کله وخت مونږ له دا اجازه نه راکوی نو مونږ به مجبوراً په ادبی تخلیقونو دشوږ تنقیدي او تشریحي مضامینو لوستنه کوو-او لکه محنګه چې یو ادیب شاعر په خپل تخلیق کښې مونږ ته د ژوند مقصد ښائی دغه رنګ یو نقاد هم مونږ په ادب او دهغې په معنو پوهوی- دیو کتاب د کتو په وخت اکثر داسې کیږي چې دانسان نظر په یو ځائې کښې ښونیږي خو نقاد دغه هر محۀ مونږ ته ښائی او زمونږ پوره پوره رهنمائي کوی- محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب "تنقید" کښې لیکی چې ـــ



www.pukhto.net

"علم ناقد ته د نظر وسعت او د فیصلې دپاره مخصوص بنیاد ورکوی او ذهنی تربیت د هغه دپاره خکه ضروری دے چې د ذهن د تربیت په وجه د دغه علم نه فائده او کار واخلی - د مفسر او شارح په حیث به د هغه اهمیت د هغه د علم په نسبت وی چې مجموعه د هغه علم زیات وی دومره به هغه ښه مفسر او مشرح وی او که دا نه وی نو د هغه خبرې که هر مجموره خیال انګیزې او دل چسپې وی هیڅ قدر او قیمت به نه لری-"

په تنقید باندې چې تراوسه کوم اعتراضونه شوی دی هغه ټول د هغې په غلط استعمال شوی دی - که چرې یو نقاد د انصاف تله د تنقید په وخت دلاسه نه لرې کوی او د یو تخلیق په خوبیو او خامیو سترګې نه پټوی او د لیکونکی اصلاح ئې هم مد نظر وی او د تخلیقی فن پارې تشریح هم کوی په هغه به چرې هم دغه قسمه اعتراضونه ونه شی - د تنقید ډیر قسمونه دی - چې ځنې مشهور قسمونه دلته په اختصار سره پیش کولے شی-

## تشریحی تنقید

په دې تنقید کښې نقاد د یوې ادب پارې زیاتره تشریح او وضاحت کوی - په داسې تنقید کښې نقاد د هغو پټو اشارو په خصوصیت سره اظهار کوی کومې چې د لیک په وخت د لیکونکی په ذهن کښې وی- د دې تنقید فائده دا وی چې هر لوستونکے د هغه د وضاحت او تشریح په رڼا کښې په یوه یوه ادب پاره پوهٔ شی - تشریحی تنقید کونکے د یوې فن پارې د تشریح او توضیح په وخت د نورو لیکونکیو د لیکلو فن پارو سره د هغې موازنه



www.pukhto.net

کوي - او دا هم د نقاد نمه واری ده چې د یوې فن پارې خوارۀ وارۀ عناصر راغونډ کړي او د هغې خلاصه لوستونکیو ته وړاندې کړي - په تشریحی تنقید کښې کله کله نقاد د یوې فن پارې د تنقید په وخت د هغه لیکونکی نور لیکونه هم په استعمال کښې راولی - او کله کله پرې د تاریخ په رڼا کښې هم تنقید کوی -

## تاریخی تنقید

په دې تنقید کښې د یوې فنپارې کره کتنه د هغه دور د تاریخی او سیاسی حالاتو په رڼا کښې کولے شی - په دې تنقید کښې د لیکونکی د چاپیر چل او فطرت مطالعه هم کولے شی -

## استقرائی تنقید

په دې تنقید کښې نقاد د یو سائنسدان غوندې د یوې فنپارې ظاهری مشاهده په استقرائی طریقه کوی - د دې تنقید په حقله محترم قلندر مومند صاحب په خپل کتاب "تنقید" کښې دغې تنقید ته د ادب نه بلکې د سائنس یو قسم ونیلے دے - دا قسمه تنقید د نقاد نه دا غوښتنه کوی چې هغه دې لکه د یو سائنسدان غوندې غیر جانبدار وی - په دې تنقید کښې د بهر نه نافذ شوؤ قوانینو او معیارونو او روایتی لارو چارو نه ډډه کولے شی -



www.pukhto.net

## حکمی تنقید

په دې تنقید کښې نقّاد د اګاهو نه د وضع کړېو شوو قوانينو او اصولو په رڼا کښې تنقيد کوی - په داسې تنقيد کښې هغه ليکونکيو سره سخت زياتے کيږی کوم چې په ادب کښې دارِنقا. قائل وی- په حکمی تنقيد کښې دارسطو او افلاطون د مقرر کړېو شوو قوانينو نه کار اخستے شی-

## جمالياتی تنقيد

د دې تنقيد غټ مقصد په يو فنپاره کښې ښائست لټول دی - د دې تنقيد بانی اسکر وائلډ ګڼلے شی - په دې تنقيد کښې نقّاد دا ګوری چې ليکونکی په خپل ليک کښې لوستونکيو ته څومره خوشالی ورکړے ده- په داسې تنقيد کښې نقّاد د نور څه سره کار نه لری خو دا ګوری چې په دې فنپاره کښې ښائست شته دے او که نه - په دې کښې لکه د حکمی تنقيد نه د پخوانيو قوانينو پابندی کولے شی او نه لکه داستقرائی تنقيد د سائنس اصول خپلولے شی-

## نفسياتی تنقيد

د دې تنقيد لوئ علمبرد ار فرائيد دے - د هغه وينا ده چې " د واورې يوه غټه توټه کومه چې د اوبو په سر ګرځی ډيره لږه برښکاری او زياته برخه ئې په اوبو کښې ډننه وی- دغه رنګ د بنيادم ډيره لږه برخه د



www.pukhto.net

هغه په شعور کښې ښکاري - خو کله وکتے شي نو د هغه زیاته برخه به د هغه
په تحت الشعور کښې پټه وي - د دې تنقید د پاره ضروري ده چې د يوې
فنپارې د کتلو په وخت نقاد د ليکونکي تحت الشعور ته خان ورسوي -

Pukhto.Net
پښتو



www.pukhto.net

# طنز و مزاح

د دنیا د ټولو ژبو په ادب کښې د دوؤ محیزونو اظهار خامخا موجود وی یو غم بله خوشالی او دا داسې محیزونه دی چې دانسان ژوند سره تړلی دی۔ ادب د ژوند عکاس وی ځکه نو د دغې غم او خوشالئ په ردعمل کښې چې انسان کوم ادب تخلیق کوی هغې ته طنز و مزاح وئیلے شی۔ هر څو که د طنز و مزاح زیات تعلق د خندا د جبلت سره دے۔

امیر حمزه خان مرحوم یو ځل وئیلی وو "چې د یو قام د تمدن، تهذیب او ذهنی ارتقا، اندازه د هغه ملک د ډرامو نه کیدے شی۔" دغه شان د یوې ژبې په ادب کښې د طنز و مزاح د موجودګئ نه د هغه قام د معاشرتی ژوند پته لګیدے شی۔ ځکه چې طنز و مزاح لیکونکے په خپل لیک کښې د هغه محیز نه زیات متاثره وی کوم محیز چې د هغه د طنز و مزاح لیکلو محرک ګرځیدلے وی۔ او دغسې د یو دور د خلقو د ذهنی معیار اندازه تړې هم لګیدے شی چې هغوی په کومو کومو خبرو خندل او د خندا معیار او نوعیت یې څه وو۔

تر ډیره وخته عالمانو طنز و مزاح د ادب صنف نه بلکې د اسلوب یو صفت ګڼلو۔ لکه مونږ وینو چې یو مزاح لیکونکے که غزل لیکی که افسانه، ناول لیکی که ډرامه نو مزاح په کښې وی حالانکې هغه غزل ۰ افسانه ۰ ناول او ډرامه مزاحیه نه وی۔ او دغه شان سرے په عام ژوند کښې هم د خندا



www.pukhto.net

خبرې کوي- خو وروستو بيا طنز ومزاح د ادب يو صنف وګرځيدو- چې ليکونکيو ته يې مزاح نګار يا طنز نګار وئيلے شي-

په حيثيت د يو ادبي صنف طنز ومزاح دوه بيل بيل ځيزونه دي خو وئيلي مرکب شي او تعلق يې د خندا د جبلت سره دے او خندا هغه ځيز دے چې په انسان او حيوان کښې فرق پيدا کوي-

طنز ته په انګريزۍ کښې Satire او مزاح ته Humour وئيلے شي- تراوسه پورې چې عالمانو د طنز ومزاح په حقله څۀ وئيلي دي د هغې خلاصه دا ده چې طنز ومزاح د يو تصوير دوه ارخونه دي- طنز نګار د معاشرې لوړې ژورې او خامۍ د خپل طنز نخښنه جوړوي يعنې د هغې نه د نفرت اظهار کوي- او په داسې طريقه يې پيش کوي چې لوستونکی ترې خوند هم اخلي او د هغې اصلاح هم کيږي-

طنز نګار د معاشرې ټولې بدۍ، وينی هرې خرابۍ ته يې پام وي او غواړي چې دغه خرابۍ او خامۍ نورو ته هم په ګوته کړي- د دغې غرض دپاره هغه د دغه خامو او خرابيو په حقله ليکل کوي- د هغې تضادات او نقصانونه په داسې طريقه خلقو ته وړاندې کوي چې د چا خاطر پرې نۀ درنيږي- خو هغه د طنز ترخو ګولو باندې د خپل نفن په ليبارټرۍ کښې د مزاح د شوګر کوټنګ کوي چې لوستونکی يې په مينه مينه تيروي او د خلې خوند يې نۀ خرابيږي- او چې څنګه يو مزاح نګار د مزاح پيدا کولو دپاره قسما قسم حربې استعمالوي دغه شان طنز نګار هم کوي او دا هغه قدر دے چې په طنز نګار او مزاح نګار کښې مشترک دے- يعنې مزاح بغير د طنز او طنز بغير د مزاح نه متوقع صورت حال نۀ پيدا کوي او په دې وجه دواړه



www.pukhto.net

لازم او ملزوم دی۔

د طنز نګار برعکس مزاح نګار د معاشرې ناهمواری، کرمې او خرابۍ وینی محسوسوی ئې او خوند ترې اخلی۔ او دغه خرابۍ نورو خلقو ته په داسې طریقه وړاندې کوی چې هغوی هم بې اختیاره خندوی۔

د مزاح پیدا کولو دپاره کۀ څۀ هم له وی او کۀ په طنز کښې اکثر دا حربې پکارولے شی لکه موازنه، رعایت لفظی، تحریف یعنې پیروډی، مزاحیه واقعه یا صورت حال او مزاحیه کردار۔

د دوو څیزونو په مینځ کښې په یو وخت مشابهت او تضاد سره ناهمواری پیدا کیږی کومې چې د خندا باعث جوړیږی۔ دې ته موازنه وئیلے شی۔ مزاح نګار اکثر دا حربه استعمالوی۔ ډاکټر وزیر آغا لیکی چې "په عام ژوند کښې د موازنې مثال د هغې خرابې آئینې دے چې هغه د یو سړی عکس بې کچه وړان، بې ډوله او کوږ ووږ ښائی او دغه عکس د هغه سړی اصلی عکس هم وی او د هغۀ نه قطعی مختلف وی او هم دغه وجه ده چې دغه حرکت خندا را بیداروی۔"

د مزاح نګار دویمه حربه رعایت لفظی ده چې په انګریزی کښې ورته pun یا Playing upon words وئیلے شی۔ د رعایت لفظی مطلب دا دے چې یو ټکے په داسې طریقه استعمال شی چې د هغې نه دوه مختلفې معنې راووځی۔ په رعایت لفظی کښې هم لکه د موازنې په یو وخت مشابهت او تضاد دواړه موجودوی کوم چې د خندا باعث ګرځی۔

د مزاح نګار دریمه حربه مزاحیه واقعه یا صورت حال بیانول وی چې په کښې ناساپه ناهمواری پیدا شی او لوستونکی یا کتونکی له په دغه



www.pukhto.net

ناهموارو کېږي د راګیر انسان په مقابله کښې د برترۍ احساس ورکړي او دا خوشالونکے احساس هم ورکړي چې په دغه پېښه کښې د خفګان، غم او درد اړخ نه وي.

د مزاح نګار څلورمه حربه مزاحیه کردار دے- مزاح نګار داسې یو کردار رغوي او د هغه نه داسې کارونه اخلي چې سړے بې اختیاره خندوي.

د مزاح نګار پینځمه حربه د تحریف ده چې په انګریزۍ کښې ورته پیروډی Parody وائي- ولې طنز نګار هم د دې حربې نه ډیر کار اخلي- پیروډي خو اوس خان له یو صنف هم ګرځیدلے دے- پیروډی د چاد کلام که نثر وي که نظم داسې لفظي نقالۍ ته وئیلے شي چې د هغې په کولو سره د هغه کلام تضحیک کیږي او د لوستونکیو خندا ته دعوت ورکوي.

د مزاح نګار بله حربه رمز دے چې په انګریزۍ کښې ورته Irony وائي- د رمز مطلب د یو څیز داسې تعریف کول دي چې د هغې خامۍ او نقائص ښکاره شي.

د طنز نګار او مزاح نګار تر مینځه فرق دا دے چې طنز نګار په یو وچت ځائې ولاړ وي او ګیر چاپیره ماحول باندې نظر اچوي او د برترۍ د احساس د لاندې د ماحول په خرابو د طنز ګزارونه کوي- طنز نګار په نفسیاتي کشاله کښې ګیر وي خو د ذاتي تعصب نه بالاتر د انسانیت د وچت مقام نه خبرې کوي- د دۀ برعکس مزاح لیکونکے خپل ذات د ماحول د خرابو سره موافق کړي چې بې اختیاره خلقو له خندا ور ولي- د یو یورپي مزاح نګار د قول مطابق مزاح نګار لکه د سوبې خفل کوي او طنز



www.pukhto.net

نګار د ښکاري سپو سره ځنګ په ځنګ روان وي۔

تر اوسه پورې په پښتو ادب کښې د طنز و مزاح چاپ شوي کتابونه ډیر کم دي لکه د عبدالله جان مغموم "خوارېږه تراخه" د سعدالله جان برق "ګل زیري" د محمد همایون هما "تورے" د پیر ګوهر "شلغاتے" د راقم الحروف "یارانه په شلتالو" او د ډاکټر محمد اعظم اعظم "لشے" چې ځنې تکلونه او ځنې ډرامې دي خو طنز و مزاح په کښې ښه کافي دے۔ او په نظم کښې د راحت سیال "کوګوشتو" او د حسین امیر فرهاد "روند چرګ" چاپ شوي دي۔ هسې خو په مختلفو اخبارونو او مجلو کښې وخت په وخت ډیر ښه ښه مضامین د ګڼو کسانو چاپ شوي دي۔



Pukhto.Net پښتو
www.pukhto.net

# ادبی اصطلاحات

## ادیب

هغه څوک چې د ادب نه واقف وی هغه ته ادیب وئیلے شی خو په ادبی اصطلاح کښې نثر لیکونکی او د ادب په اصنافو پوهیدونکی ته ادیب وائی۔

## ادبیات

د ادب سره متعلق څیزونه که نظم وی او که نثر هغې ته ادبیات وئیلے شی۔

## بیت

یو شعر ته بیت وئیلے شی۔

## بیت بازی

د شعرونو مقابلې ته بیت بازی وئیلے شی۔ یو کس یو شعر یا بیت ووائی نو چې په کوم حرف ختم شی بل د هغې حرف نه شروع کیدونکے شعر یا بیت وائی۔

## بیت الغزل

د غزل د ټولو نه ښه شعر ته بیت الغزل وئیلے شی۔



www.pukhto.net

**بند**

د نظم هره یوه برخه چې یو مکمل وحدت وي هغې ته بند وائی۔

**بیاض**

هغه قلمی مسوده چې شاعر په کښې خپل کلام جمع کوی هغې ته بیاض وائی۔

**بحر**

لغوی معنیٰ يې سمندر یا دریاب ده په ادبی اصطلاح کښې بحر د هغې موزونو کلمو نوم دے چې د شعرونو وزن پرې تیک کولے شی۔

**پیرودی**

دا لفظ د یونانی ژبې د پیرودیا نه اخستے شوے دے چې معنیٰ يې معکوس نغمه ده۔ دا د چا د شعری تخلیق مزاحیه او طنزیه پیښو یا نقل کولو ته ونیلے شی۔

**تخلص**

لغوی معنیٰ يې د خلاصی موندو او رهایی ده خو په اصطلاح کښې هغه خاص نوم چې شاعر يې د خپل ادبی شناخت دپاره په شعرونو کښې استعمالوی هغې ته تخلص ونیلے شی۔ دا د اصلی نوم یوه برخه هم کیدے شی لکه دیدار گل دیدار او د ذات او قام نوم هم کیدے شی لکه افریدے، مومند، خلیل یوسفزے او نور۔



www.pukhto.net

## تضمین

دا نه شعری هینت دے او نه د ادب صنف بلکې یو ه شاعرانه طریقه ده. د ا د بل شاعر په مصرعه یا شعر باندې نور و شعرونو لیکلو ته وائی. پخوانو شاعرانو تضمینونه د مخمس په شکل کښې کړی دی. د تضمین مناسبت هله پیدا کیږی چې په کوم شعر تضمین شوے وی د هغې په معنیٰ او مفهوم کښې زور پیدا کړې شی یا د هغې یو بل اړخ ښکاره کړې شی. داسې کولو سره په هغې شعر د نوی شعر مینه ماتیږی او تضمین کامیاب وی.

## تعقید

کله په یو شعر کښې د لفظونو ترتیب دومره زیات بدل شوے وی چې ښه نه لګی او په مفهوم ې پوهیدل ګران وی نو په ادبی اصطلاح کښې ورته تعقید وئیلے شی.

## تعلی

شاعر اکثر په خپلو شعرونو کښې د خپل هنر، فنکارۍ او زیاتې پوهې دعویٰ کوی چې زیاتره په مقطع کښې کولے شی هغې ته تعلی وائی. لکه رحمان بابا چې وائی:-

خوشحال او دولت مې غلامان دی

زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

## خمریات

خمر په عربی کښې شرابو ته وئیلے شی نو چې په کومو شعرونو کښې د شرابو ذکر شوے وی هغې ته خمریات وئیلے شی.



www.pukhto.net

## طرح

هغه مصرعه چې شاعران يې مقرر کړي او د هغې په بحر او وزن نور شعرونه ليکي هغې ته طرح وئيلے شي۔

## ديوان

د شاعر د کلام مجموعې ته چې رديف وار ليکلے شوے وي ديوان وئيلے شي۔

## رجز

په شعرونو کښې د چا د مړانې، عظمت او همت اظهار کولو ته رجز وئيلے شي۔

## رديف

رديف په ادبي اصطلاح کښې هغه مستقلې کلمې ته وئيلے شي چې په شعر کښې د قافيې نه وروستو راځي۔ په هر نظم او غزل کښې رديف لازمي ځيز نه دے۔ البته د شعر دپاره قافيه ضروري ګڼلے شي۔ که په يو نظم يا غزل يا بل شعري تخليق کښې رديف موجود وي نو هغې ته مردف او که رديف په کښې نه وي نو بيا ورته غير مردف وائي۔

## زمکه

د نظم يا غزل يا بل شعري تخليق بحر، رديف او قافيې ته زمکه وئيلے شي۔



www.pukhto.net

## ساقي نامه

په کومو شعرونو کښې چې ساقي ته مخاطبه شوے وي هغې ته ساقي نامه وئيلے شي۔

## سهرا

د چا په وادهٔ ډ هغهٔ تعريف او د وادهٔ په مناسبت چې کوم شعرونه ليکلے شي هغې ته سهرا وئيلے شي۔

## شعر

هغه دوه مصرعې چې په وزن کښې برابرې وي کهٔ د نظم وي کهٔ د غزل يا بل يو شعري تخليق هغې ته شعر وائي لکه چې اګاهو وئيلي شوي دي شعر ته بيت هم وائي۔

## فخريه

په اصطلاح کښې داسې شعرونو ته وئيلے شي چې په کښې شاعر د خپلې هنرمندۍ، د پلار نيکهٔ او خاندان د اعلیٰ روايتونو اظهار په فخريه انداز کښې کړے وي۔

## فراقيه

د بيلتون په موضوع ليکلے شوو شعرونو ته فراقيه وئيلے شي۔

## فرد

هغه بيت يا شعر ته وئيلے شي چې يوازې وئيلے شوے وي۔



Pukhto.Net
www.pukhto.net

## في البديهه

په يوه خاص موقعه د خلکو نه وتو هغه سمدستي شعرونه ته چې د ارادې دخل په کښې نه وي في البديهه وئيلے شي.

## قافيه

د قفا نه مشتق ده او په اصطلاح کښې د حروفو او حرکاتو هغه مجموعې ته وئيلے شي چې په شعر کښې د مصرعې په اخر کښې د رديف نه اګاهو راځي. که چرې په شعر کښې رديف نه وي نو قافيه به د مصرعې بالکل په اخره کښې راځي لکه داسې:

دوباره دې راتله نشته په دنيا
نن دې وار دے که دروغ کړې که رښتيا

په دې شعر کښې دنيا او رښتيا قافيې دي که شعر مردف وي نو قافيه به د رديف نه اګاهو راځي لکه داسې:

بيا مې چشمان لکه چيتر ورېږي
چې په زړګی مې پيښور ورېږي

په دې شعر کښې "ورېږي" رديف دے او چيتر او پيښور قافيې دي.

## قطعه بند

په غزل کښې کله کله يو خيال په يو شعر کښې نه شي بيانيدے نو شاعر هغه، خيال په دوؤ او دريوؤ شعرونو کښې بيانوي هغې ته قطعه بند وئيلے شي خو د مطلع سره قطع بند راتلل منع دي يعنې مطلع په دوؤ شعرونو کښې نه وي.



www.pukhto.net

## کلیات

د شاعر د کلام هغه مجموعه چې د هغه ټول کلام په کښې محفوظ شوے وی هغې ته کلیات وائی۔

## کړۍ

د چاربیتې یا سندرې بندونو ته کړۍ وئیلے شی۔

## مدحه

په شعرونو کښې د چا صفت کولو ته مدحه وئیلے شی۔

## مزاحیه یا طنزیه

په کومو شعرونو کښې چې مزاح یا طنز شوے وی هغې ته مزاحیه یا طنزیه وائی۔

## مصرعه

د شعر دوه برخې وی هرې یوې برخې ته مصرعه وئیلے شی۔

## مصرئیزه

هغه لوبه یا سندره چې د کړو یا بندونو په ځائې په کښې مصرعې یا ټیپې استعمالولے شی هغې ته مصرئیزه وئیلے شی۔

## مطلع

د غزل یا قصیدې وړومبی شعر ته چې دواړه مصرعې ئې په خپلو کښې هم قافیه او هم ردیف وی یا صرف هم قافیه وی مطلع وئیلے شی۔



www.pukhto.net

## مطلع ثاني یا حسن مطلع

په غزل یا قصیده کښې چې د یوې مطلعې نه پس بله مطلع راوړے شی هغې ته مطلع ثانی یا حسن مطلع وائی۔

## مقطع

د غزل یا قصیدې یا د نظم اخری شعر چې په کښې شاعر خپل نوم یا تخلص استعمال کړے وی هغې ته مقطع وائی۔ کله کله شاعر خپل نوم یا تخلص په مطلع کښې هم راوړی۔

مرزا حنان

## مقطع ثاني

دویمې مقطعې ته مقطع ثانی وائی۔

## وزن

د وزن لغوی معنیٰ اندازه او پیمانه کول دی خو په ادبی اصطلاح کښې د کلمو د حرکاتو او سکناتو برابری ته وزن وئیلے شی۔

## هجو

په شعرونو کښې چا پسې بدرد وئیل د هغۀ عیبونه بیانول او تضحیک کولو ته هجو وئیلے شی۔ دا په غزل، مثنوی او قصیده غرض په هر شعری تخلیق کښې کیدے شی۔



www.pukhto.net

# ضمیمه ﴿الف﴾

# اضافي

## صنعت خیفا

په کلام یا شعر کښې ټول الفاظ په ترتیب سره داسې راوړل چې یو لفظ نقطې لرونکے او بل بغیر نقطو وی - دې صنعت ته صنعت خیفا وئیلے شی- لکه په دې شعر کښې هم دغه صنعت استعمال شوے دے---

زۀ کۀ منښتې کوم یا کۀ مخۀ سوال جانانه

فقط هم ستا د جمال د ښۀ وصال جانانه

په دې شعر کښې زۀ، منښتې، یا ، مخۀ، جانانه، فقط، ستا، جمال، ښۀ او جانانه نقطې لرونکی لفظونه دی- او کۀ، کوم، کۀ، سوال، هم، د، د، وصال پکښې غیر منقوط لفظونه دی-

صنعت موصل

په کلام یا شعر کښې داسې لفظونه استعمالول چې ټول حرفونه ئې یو بل سره تړلی وی لکه دا شعر---

مینې ستا یمه نتلے

عقل صبر له ما تلے

داسې صنعت ته صنعت موصل وئیلے شی-



www.pukhto.net

# صنعت شجر

داسې کلام لیکل چې له هغې نه ونه جوړیږي. داسې صنعت ته صنعت شجر وائی. د سید اکرم باچا د ا نظم دې صنعت سره تعلق لری....

نن مې ولیده په باغ کښې یو جانان موزون قده لکه سروه د بوستان

په خوبانو کښې عیان خرامان

شکر لبه خوش لسان په عامان

چې د حسن ئې سار نه وه په جهان

لا تراوسه ئې یم حسن نه حیران

یو فاخته ☆ خوشالی کړه په سرونو د اغصان

یو هدهد ☆ چې د فخر تاج په سر لکه سلطان

طوطی په چنار کړه وه ☆ مفتونه ئې کړل د هندوستان

قمری په شاخ د ګلو ☆ عقل هوش ئې له ما یورل په الحان

مې سوال وکړو د ګل له عندلیبه ☆ چې د لاسه د خزان وه په فغان

مې واوریدو اواز د بلبلانو ☆ په هوس وریږي ره شوم ور روان

Pukhto.Net
www.pukhto.net

# صنعت مدور

کله کله شاعران داسې شعرونه هم لیکي چې د دائرې په شکل کښې وي او که څوک يې له هر ځایه نه شروع کوي او لولي يې نو ټیک لوستے شي - د شعر په وزن او بحر هیڅ فرق نه پریوځي - داسې صنعت ته مدور ونیلے شي - ددې دپاره ورومبے یوه دائره جوړولے شي بیا په کښې د شعر د بحر مطابق خانې جوړولے شي او په هره خانه کښې توری تقسیمولے شي - لوستونکی که د هرې خانې نه لوستل شروع کوي نو لوستے يې شي - د شعر په وزن او بحر کښې څه فرق نه راځي - د حاجي محمد امین صاحب دا یو نعت په هم دغه صنعت کښې لیکلے شوے دے، په دې دائره کښې اته خانې جوړې شوې دي یوه مصرعه په څلورو خانو کښې تقسیم شوې ده - او پوره شعر په اتو خانو کښې مکمل شوے دے...






www.pukhto.net

## صنعت غیر شفویه

په کلام یا شعر کښې داسې الفاظ راوړل چې په هغې شونډې له یو بل سره نه لګي- داسې صنعت ته صنعت غیر شفویه وئیلے شي- لکه د اشعرونه دغې صنعت سره تعلق لري---

نن له ګلشن نه چې سیلونه لاړل
خزان وهلې ترې ګلونه لاړل
اسراره شونډې د جانانه جنګوي
داسې له خلې نه دې شعرونه لاړل
(ډاکټر اسرار)

## صنعت موصل

په کلام یا شعر کښې ټول الفاظ په ترتیب سره داسې راوړل چې یو لفظ نقطې لرونکے او بل بغیر نقطو وي- دې صنعت ته صنعت خیفا وئیلے شي- لکه په دې شعر کښې هم دغه صنعت استعمال شوے دے---

زۀ کۀ منښتې کوم یا کۀ محنۀ سوال جانانه
فقط هم ستا د جمال د ښۀ وصال جانانه

په دې شعر کښې زۀ، منښتې، یا، محنۀ، جانانه، فقط، ستا، جمال، ښۀ او جانانه نقطې لرونکي لفظونه دي- او کۀ، کوم، کۀ، سوال، هم، د، د، وصال پکښې غیر منقوط لفظونه دي-

په کلام یا شعر کښې داسې لفظونه استعمالول چې ټول حرفونه ئ یو بل سره تړلي وي لکه دا شعر---

مینې ستا یمه نتلے
عقل صبر له ما تللے

داسې صنعت ته صنعت موصل وئیلے شي-



www.pukhto.net

# صنعت معاد

دا هغه شعري صنعت دے چې په کښې دوړومبی مصرعی اخری لفظ د دویمی مصرعی په شروع کښې راوړلے شی او دغسې د دویمی مصرعی اخری لفظ د دریمی مصرعی په شروع کښې استعمالولے شی او تر اخره هم دغه پابندی کولے شی۔ مثال ئې داسې دے---

نه شومه اشنا چرته بی غمه زړه

زړه لکه چې غم لره پیدا یمه

یمه بد قسمته راحت نه وینم

نه وینم خندا تل په ژړا یمه

د وړومبی مصرعی اخری لفظ "زړه" د دویمی مصرعی په شروع کښې او د دویمی مصرعی اخری لفظ "یمه" د دریمی مصرعی په شروع کښې او د دریمی مصرعی اخری لفظ "نه وینم" د څلورمی مصرعی په شروع کښې راغلے دے۔

# صنعت استتباع

په شعر کښې د چا داسې مدحه یا صفت کول چې نه هغې نه بله مدحه یا صفت حاصل شی لکه دا تېه ئې ښه نمونه ده۔۔۔

که ددې د زلفو سیورے نه وے

د مخ رڼا به دې جهان سیزلے وونه

په دې تېه کښې د محبوب د زلفو صفت په داسې طریقه شوے دے چې بل صفت ترې پیدا شوے دے۔ او هغه د مخ د رڼا صفت دے۔ داسې صنعت ته صنعت استتباع وائی۔



www.pukhto.net